# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

## مباحثات

---

بروز بدھ مورخہ 2 دسمبر 1998

(بمطابق 12 شعبان 1419 ہجری)

جلد 13 | شمارہ 4

سرکاری رپورٹ

مندرجات


| | صفحہ نمبر |
|---|---|
| 1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 1 |
| 2 ۔ نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات | 5 |
| 3۔ مسئلہ استحقاق | 51 |
| 4۔ قاعدہ کا معطل کیا جانا | 59 |
| 5۔ قرارداد | 0 |
| 6۔ تحاریک التوا | 2 |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز بدھ مورخہ 2 دسمبر 1998 بمطابق 12 شعبان المعظم 1419 ہجری صبح دس بجکر بتیس منٹ پر منعقد ہوا۔
جناب سپیکر، ہدایت اللہ چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ہ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ہ
فَاَقِمْ وَجْھَکَ لِلدِّیْنِ حَنِیْفًا ؕ فِطْرَتَ اللّٰہِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَیْھَا ؕ لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ اللّٰہِ ؕ ذٰلِکَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ۙ وَ لٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ۙ مُنِیْبِیْنَ اِلَیْہِ وَ اتَّقُوْہُ وَ اَقِیْمُوا الصَّلٰوۃَ وَ لَا تَکُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ ۙ مِنَ الَّذِیْنَ فَرَّقُوْا دِیْنَھُمْ وَ کَانُوْا شِیَعًا ؕ کُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَیْھِمْ فَرِحُوْنَ ہ (پارہ 21 سورہ الرّوم آیات 30 تا 32)

(ترجمہ) اے نبی صَلی اللّٰہ علیہ و آلِہٖ وَسلم تہ خپل مخ د دین اړخ تہ ساتہ، یو مخیزے اوسیږہ۔ د خدائے پاک پہ فطرت قائم اوسیږہ چہ اللّٰہ پاک پرے ټول خلق پیدا کړی دی۔ د اللّٰہ پاک پیدا کړی څیزونہ بدلول پکار نہ دی۔ بس دغہ سم دین دے لیکن اکثر خلق نہ پوھیږی تاسو خپل مخونہ اللّٰہ تبارک و تعالیٰ طرف تہ اوګرځوئ، د ھغہ نہ ویرہ کوئ د مونځ پابندی ساتئ او پہ مشرکانو کښں خان مہ ورګډہ وئ۔ ھغہ خلق چہ ھغوی خپل دین ټوټے ټوټے کړو او ټولی ټولی شو۔ ھر یو ټولے پہ خپلہ طریقہ باندے خپل خان تہ غاوِرہ دے۔

جناب بشیر احمد بلور، پوائنٹ آف آرڈر، مسٹر سپیکر سر۔ سپیکر صاحب! ستاسو توجه په دے طرف راګرځوم چه زمونږ دا اسلام آباد۔ پیښور موټر وے، زما خیال دے د ټولو نه لویه منصوبه زمونږ د دے پیښور د پاره وه، هغے باره کښې په اخبارکښې راغلی دی چه "پشاور۔اسلام آباد موٹر وے کے روٹ میں رد و بدل اور منصوبے کی تکمیل کی مدت میں آٹھارہ مہینے کی بجائے تین سال لگیں گے" او بیا ورسره دا هم وائی چه "ذرائع کے مطابق ایم۔ون" چه د هغه منصوبے نوم دے، "منصوبے کی تکمیل کیلئے مالیاتی انتظام موثر طریقے سے نہیں کیا گیا تھا"۔ بیا وائی "اسلام آباد کی طرف سے صرف برہان کے قریب تیرہ کلومیٹر روڈ کیلئے زمین حاصل کی گئی اور پشاور کی طرف سے ابھی تک کوئی زمین حاصل نہیں ہوئی جس پر کنٹریکٹر کا کام شروع نہیں ہو سکا"۔ سپیکر صاحب! په دے باره کښې زه دا عرض کوم چه دا یوه ډیره اهم منصوبه وه او د دے باره کښې چه دلته افتتاح شوے وه نو وزیر اعظم صاحب اټهاره میاشتو ټائم هم ورکړے وو چه اټهاره میاشتو کښې به دا مکمل کیږی او اخبار دا لیکی چه د دے د پاره لا پیسے هم دوئ مختص کړے نه وے او د زمکے هم دوئ Requisition نه وو کړے۔ نو زمونږ دا ډیره زیاته خدشه ده چه دا پیسے چرته فیصل آباد ته یا دا بل موټر وے چه دوئ Announce کوی هره ورځ او دا زما خیال دے چه حکومت سره ټولےدنیا ته پته ده، پیسه نشته او خواه مخواه خلقو ته دهوکه ورکولو د پاره Announcement کیږی نو زمونږ دا خدشه ده چه چرته د دے موټر وے پیسے بل خوا لاړے نه شی او زمونږ دا موټر وے پاتے نه شی۔ پکار ده چه حکومت د دے باره کښې مونږ په Confidence کښې واخلی چه دا څه چل دے؟ د دے د پاره پیسے ولے مخکښې مختص شوے نه وے؟ اوس ولے اخبار لیکی چه مختص نه دی، پیسے نشته نو بیا د موټر وے افتتاح ولے شوے وه او خلقو ته نے ولے دهوکه ورکړے ده؟

جناب سپیکر، بشیر خان! یو منټ۔ پوائنټ آف آرډر باندے به تا ته حکومت څنګه د دے خبرے جواب درکوی؟ داسے کار اوکړئ، د دے د پاره، ضروری ده او که غیر ضروری ده، یو proper طریقه کار دے۔ یو تحریک پیش کړه چه حکومت ته نوټس ملاؤ شی، حکومت د تیار راشی او ستا سره

خبره اوکړی نو تا خو د اخبار نه خبره ونیلے ده۔ Personally I feel this does not come under the provision of point of order, please,

جناب بشیر احمد بلور، سپیکر صاحب! هغه ستاسو خبره ټهیک ده خو مونږ دا کال اټینشن ورکړو یا تحریک التوا، نو هغه بیا Next سیشن کښ کال پس راخی او دا ډیر ایمرجنسی غوندے ــــــــــــ

جناب سپیکر، بالکل جی، داسے کار اوکړئ چه دا دومره Important خبره وی نو ــــــــــــ

جناب بشیر احمد بلور، کال اټینشن هم جی څلور ورځے پس راخی۔

جناب سپیکر، کال اټینشن، نو اوس په یوه ورځ کښ Off hand تا له یو منسټر ته زه وایم پاسه، جواب ورکړه نو؟ How can he give you proper reply?

Mr. Bashir Ahmad Bilour: Thank you.

Mr. Speaker: Honourable Baz Muhammad Khan, MPA, to please ask his Question No. 622. Baz Muhammad Khan, MPA, please. Not present. Honourable Najmuddin Khan, MPA, to please ask his Question No. 653. Honourable Najmuddin Khan, MPA, please. Absent. Honourable Muhammad Hashim Khan, MPA, from Charsadda, to please ask his Question ------------

جناب احمد حسن خان، عرض یہ ہے کہ کل آپ نے اگرچہ اس سلسلے میں ہدایت بھی کی تھی، تاسو پکښ حکم هم ورکړے دے خو که دا سوالونه مونږ ته پرون ملاو وے ځکه چه د نجم الدین خان دا سوال چه کوم دے، دا ډیر اهم دے او مونږ ته په دے کښ ډیره سخته محرومی ده۔ په دے لحاظ سره مونږه په Proper طریقے سره خپل هغه معروضات جناب منسټر صاحب په نوټس کښ نه شو راوستے کوم چه زمونږ هلته Difficulties دی۔ نو زه تاسو ته درخواست کومه چه په دے کښ تاسو واضح دغه اوکړئ۔

جناب سپیکر، غفور خان! Sorry to say چه ستاسو نه خو زما دا Expectation نه وو، پرون تاسو دلته په هاؤس کښ ونیلی وو چه مونږه جوابونه رالیږلی

دی او بیا په هغے باندے ما اسمبلی سیکرټریټ نه تپوس اوکړو نو سارھے تین بجے پورے جواب نه وو راغلے۔ نو چه داسے حل وی د Answer نو دا خو څه عجیبه غوندے خبره ښکاری۔ ولے داسے کار شوے دے؟

جناب غفور خان جدون (وزیر خوراک)، جناب سپیکر صاحب! ستاسو د اطلاع د پاره عرض دے چه دا کوتاهی چه کومه د فوډ ډیپارټمنټ نه شوے ده، هغے کښی Already مونږه Suspension اوکړو جی۔ په ټائم نه وو راغلے، په هغے کښی مونږ Suspension اوکړو۔ د هغه افسرانو خلاف کارروائی مے کړے ده او د اتھاره گریډ او ستره گریډ دوه افسران پکښی مونږ معطل کړل جی او مونږ سارھے تین بجے اسمبلی سیکرټریټ ته رارسولی وو او د هغے زه معذرت خواه یم جی۔

جناب فرید خان طوفان، جناب سپیکر صاحب! وزیر صاحب به دا اوښائی چه دا Suspension چه دوئ اوکړو نو د دے ذمه وارخو سیکرټری وی کنه چه دوئ هغه اصلی ذمه وار معطل کړے دے که چرته د هغه په ځائے کښی ئے چپړاسی راا ونیولو؟ څوک ئے Suspend کړل؟

جناب سپیکر، هغه اوونیل چه ډپټی سیکرټری مے اوکړو او بل مو څوک یاد کړو جی؟ اتھاره او اُنیس گریډ ئے اووے۔

جناب ارباب محمد ایوب جان، جناب سپیکر صاحب! زه خو ستاسو په وساطت د منسټر صاحب ډیره زیاته شکریه ادا کوم چه ډیر زر ایکشن ئے واغیستو او پکار ده چه هر یو وزیر داسے ایکشن واخلی۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! جناب ارباب صاحب په دے شکریه ادا کولو کښی لږ د تیزئ نه کار واغیستو۔ (قہقہے)

وزیر خوراک، احمد حسن خان ته ټائم ورکړئ چه د نجم الدین خان په Behalf باندے د دا سوال اوکړی۔

جناب احمد حسن خان، نه جی، د Behalf خبره نه ده ----------

وزیر خوراک، زما د طرف نه بالکل جی گھنټه کوی، دوه گھنټے کوی، دوه ورځے فوډ باندے اخلی، بالکل اجازت ورله ورکړئ۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! مونږ به پرے دوه گهنټے هله بحث اوکړو چه مونږ ته د دے سوالونو متعلق جوابونه یوه شپه او ورخ مخکښ ملاو شی، د هغے متعلق سړے تحقیقات اوکړی چه زما به څه ضمنی وی؟ نو هغه زه د منسټر صاحب مشکور یمه خو زما په خیال د اصلی خلقو په ځائے باندے د کولال په ځائے باندے زما خیال دے، د هغه خر داغلے دے جناب سپیکر، اصلی سړی ته نے څه نه دی ونیلی۔

جناب عبدالسبحان خان (وزیر اطلاعات و نشریات)، د کولال په ځائے خر نه دے، د خر په ځائے کولال دے۔ (قہقہے)

جناب احمد حسن خان، نه دا ټهیک ده جناب سپیکر، دغه شان چل نے کړے دے۔

Mr. Speaker: Honourable Muhammad Hashim Khan, MPA, to please ask his Question No. 738. Mohammad Hashim Khan, MPA, please. Not present.

دا جوړ غفور خان مخکښ نه ټولو ته ونیلی دی چه نه به راځی۔ (قہقہہ)

Honourable Iftikhar-u-din Khan Khattak, MPA, to please ask his Question No. 753. Honourable Iftikhar-u-din Khan Khattak, MPA, please.

## نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات

*753 _ جناب افتخار الدین، کیا وزیر خوراک از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ـــــ

(ا) آیا یہ درست ہے کہ صوبہ سرحد کو صوبہ پنجاب سے روزانہ عام کوٹہ کے علاوہ مخصوص کوٹہ سے بھی آٹا فراہم کیا جاتا ہے،

(ب) اگر (ا) کا جواب اثبات میں ہو تو ضلع کوہاٹ کو صوبہ پنجاب سے روزانہ کتنا کوٹہ ملتا ہے،

(ج) مذکورہ آٹا کن کن ٹھیکیداروں کے ذریعے اور کون کونسے علاقوں میں تقسیم کیا جاتا ہے، مکمل تفصیل فراہم کی جائے؟

جناب غفور خان جدون (وزیر خوراک)، (ا) صوبہ سرحد کو صوبہ پنجاب سے روزانہ 21400

بوری آٹا ملتا تھا جوکہ 1998-8-15 سے حکومت پنجاب نے بندکر دیا ہے۔ البتہ ہزارہ ڈویژن کا "گلیات" کا علاقہ جو کہ دور دراز علاقہ ہے اور ایبٹ آباد سے اس کو آٹا سپلائی کرنا بہت مشکل ہے، اسلئے حکومت پنجاب سے گلیات کو آٹا سپلائی کرنے کیلئے کہا گیا ہے جس کو اصولی طور پر حکومت پنجاب نے مان لیا ہے اور مقامی عوامی نمائندوں کی سفارش پر نامزد کردہ افراد کی فہرست سیکرٹری محکمہ خوراک، حکومت پنجاب، کو بھیجی جا چکی ہے۔ یہ افراد پنجاب سے گلیات کیلئے آٹا لائیں گے۔ (تفصیل اسمبلی لائبریری میں ملاحظہ کی جا سکتی ہے۔)

(ب) چونکہ آج کل باقیماندہ صوبہ سرحد کو پنجاب سے آٹے کی سپلائی بالکل بند ہے، اسلئے ضلع کوہاٹ کیلئے کوئی مخصوص کوٹہ نہیں ہے۔

(ج) جیساکہ اوپر بیان کیا جا چکا ہے کہ سوائے علاقہ جات "گلیات" کے باقیماندہ صوبہ سرحد کیلئے پنجاب سے کسی قسم کا آٹا کوٹہ نہیں ہے۔

جناب افتخار الدین، جناب سپیکر صاحب! دا سوال چه کله ما استولے وو او دوئ چه اوس کوم جواب راکړے دے، دا نے په دے وخت کښ راکړے دے او سوال چه کله ما استولے وو نو هغه وخت کښ پنجاب نه لازمی کوټه راتله صوبه سرحد ته۔ خو زه دے ته حیران یم چه د هغے باوجود هم دوئ 21400 بوری آټا لیکلی دی۔ خودا نے لیکلی دی چه دا صرف گلیات ته ځی او زما خپل دا سوچ دے چه 21400 بورئ روزانه گلیات ته ځی خو هلته خو دومره آبادی هم نشته۔ نو د دے نه دا ثابت کیږی چه د سوال، جواب دوئ بالکل غلط راکړے دے ولے که "21400 بورئ روزانه" ته سوچ اوکړئ، نو دا خو پوره صوبه سرحد د پاره هم ډیرے دی۔ نو دوئ دِ ما ته دا اوښائی چه دا 21400 بورئ چرته غائب شوے؟ گلیات کښ خو دومره آبادی نشته دے۔

Mr. Speaker: Honourable Minister, please.

وزیر خوراک، سپیکر صاحب! دا سوال خو د دے پخپله اوګورئ، جز (ا) او (ب) کښ جواب ورکړے شوے دے۔ تر پندره اګست پورے د پنجاب ګورنمنټ نه دو هزار ټن اوړه به راتلل۔ د پندره اګست نه بعد په اوړو باندے هغوی پابندی اولګوله او زمونږ په صوبه سرحد کښ چار هزار ټن روزانه Grinding به کیدو، چه په پندره اګست باندے هغوی پابندی اولګوله جناب

سپیکر صاحب، د هغے نه بعد مونږه Grinding hours سوا کړل او پانچ هزار، ساټ سو نوے پټن ته مونږه دا اوړه اورسول۔ انشاء الله تعالیٰ مونږ ته د هغے ضرورت نه وو، مونږه خود کفیل یو۔ په هره ضلع کښې وافر مقدار کښې سټاک پروت دے، د اوړو څه کمے نشته دے۔ بله زمونږ خپل Wholemeal Milling دے جی، نو د پنجاب د اوړو له فی الحال ضرورت نشته دے مونږ ته۔ بس دا مے یو عرض کوو چه صرف د گلیات هغه ایریا چه کومه پنجاب سره پیوست ده، مری سره، هغه ایریا ته چه هغه خانے ته اوړه رسولو باندے اخراجات ډیر راځی ولے چه زمونږ قیمت Already چھ سو پچیس روپئ دے Wholemeal او چھ سو چالیس روپئ باندے مونږه د عام ډیلرانو په ذریعه باندے خلقو ته تقسیموو، نو د چھ سو چالیس نه اندازه تاسو دا اوګورئ سپیکر صاحب، که تاسو د 1996 اوګورئ، د 1995 اوګورئ، د 1997 اوګورئ د دے درے، څلور کالو حوالے اوګورئ نو خاصکر د نومبر، دسمبر، جنورئ او د فرورئ په میاشت کښې د اوړو به کمے وو، لاتنونه به لګیدلی وو او هغه قیمتونو د 97-1996 موازنه اوکړئ او د 1998 قیمت اوګورئ چه په بازارکښې دا څوک نشی وئیلے چه د چھ سو چالیس نه سوا مونږه ګران خرڅ کړل او نه مونږه چا ته اجازت ورکوو۔ نو انشاء الله تعالے مونږه په خپلو اوړو باندے خود کفیل یو او چه کله ضرورت راغے نو انشاء الله تعالےٰ د هغوی نه به اوغواړو خو فی الحال مونږ ته ضرورت نشته دے۔

جناب بشیر احمد بلور۔ سپیکر صاحب! دا رمضان شریف راروان دے، زه د منسټر صاحب نه دا تپوس کول غواړم چه آیا دوئ به څه مهربانی کوی چه د پنجاب نه فائن اوړو څه انتظام اوکړی؟ رمضان کښې خو تاسو ته هم پته ده، چه ټول خلق په بازارونو کښې ناست وی او خواه مخواه پراټے پخوی او دا چه کوم اوړه دی Wholemeal ' په دے کښې خو پراټه نه پخیږی نو آیا خلق به څه کوی؟ په دے باره کښې د منسټر صاحب لږ مونږ په Confidence کښې واخلی۔

وزیرخوراک، جناب سپیکر صاحب! زما عرض دا دے که تاسو ټولو دیهاتونو کښې اوګورئ، زمونږ په ټول دیهات ---------

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! پشاور کی بات ہے تو میں عرض کروں گا جی۔ بشیر خان' میں آپ کے حق میں بات کر رہا ہوں۔ جناب سپیکر! یہ جو Wholemeal آٹا ہے -------

جناب افتخار الدین، جناب سپیکر! زما خیال دے زما سوال دوئ په هسے خبرو کښې رانه ختم کوی نو عدیل صاحب، چه ته لږه مهربانی اوکړه --------

ڈپٹی سپیکر، جناب سپیکر! یہ جو ------------

جناب افتخار الدین، عدیل صاحب! لږه ته مهربانی اوکړه، د پشاور خبرے به بیا اوکړے۔ زما سوال اوس دوئ هسے هله ګله کښې راله ختموی۔ جناب سپیکر صاحب! عدیل خان خو صرف پشاور د پاره خبره کوی او زما خبره د ټول صوبه سرحد د پاره ده۔ د پشاور نوم د نه اخلی، د صوبه سرحد نوم د اخلی۔

جناب سپیکر، لږ یو سیکنډ صبر اوکړئ، اوس فلور مو ورکړے دے۔

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! بات یہ ہے کہ اگر یہ Whole-meal آٹا ہمیں صحیح ملے' کیونکہ آج کل پنجاب سے چوکر امپورٹ ہو رہا ہے اور اسی بہانے چوکر شامل کیا جا رہا ہے تو یہ Wholemeal سے بھی کچھ اور بنا ہے' اگر یہ صحیح' حقیقی Wholemeal ہو تو یہ تو عین سنت ہے' حضورؐ نے بھی حکم فرمایا ہے کہ آٹے سے آپ کوئی چیز نہ نکالیں اور نہ اس میں اضافہ کریں' تو یہ صحت کیلئے بھی اچھا ہے لیکن بدنصیبی یہ ہے کہ اس وقت میدہ تو امپورٹ نہیں ہو رہا ہے' میدہ کے امپورٹ پر پابندی ہے' فائن آٹا بھی بند ہے لیکن پنجاب سے چوکر امپورٹ ہو رہا ہے اور اس کو آٹے میں شامل کیا جا رہا ہے' تو یہ تو نہیں ہونا چاہئے۔ یہ کون لوگ کر رہے ہیں؛ حکومت کو چاہئے کہ پنجاب سے چوکر پر پابندی لگائے اور صرف خالص' Wholemeal آٹا جس سے چوکر اور میدہ نہ نکالا جائے تو یہ صحت کیلئے بھی بہت اچھا ہے اور اس سے بہت اچھے پراٹھے پکتے ہیں۔

وزیر خوراک، جناب سپیکر! ---------

جناب سپیکر، یو منټ جی، همایون خان هم خبره اوکړی بیا جوائنټ جواب به ورکړی او اصلی جواب خو د هغوی دے چه هغه پاتے شو هغه به بیا ورکوی۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان، سپیکر صاحب! اگر آپ کی اجازت ہو تو میں اتنا پوچھنا

چاہتا ہوں کہ ان کے پاس قانوناً سو دن کا Wheat stock گوداموں میں ہونا چاہئے تو آیا

----------------------

جناب ہمایون سیف اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! اگر آپ کی اجازت ہو تو میں اتنا پوچھنا چاہتا ہوں کہ ان کے پاس قانوناً سو دن کا Wheat stock گوداموں میں ہونا چاہئے، تو آیا پورے سو دن کا سٹاک وزیر صاحب کے پاس موجود ہے؟ اگر وہ موجود ہو تو آٹے کی قیمتیں خود گر جائیں گی۔ تو جناب، ہمیں کوشش یہ کرنی چاہئے کہ اس صوبے میں ہمارے پاس سو دن کا Wheat stock موجود ہو۔ Thank you very much.

جناب سپیکر: جناب غفور خان!

وزیر خوراک: جناب سپیکر صاحب! د Wholemeal policy ما پخپله جوړه کړے ده۔ د دے نه مخکښې د پانچ، دس، پچاسی پالیسی وه، پانچ فیصد به چوکر وتل، دس فیصد به فانن وتله او پچاسی فیصد به اوړه وو۔ بیا د دے ملونو والو سره زه کښیناستم او د صوبے د خلقو سره کښیناستم، زمونږ په دے دیهاتونو کښې خاصکرصرف په پیښور کښې، کوهاټ کښې او په ایبټ آباد کښې رواج وو د دے فانن، دا سپینه روټئ چه دوئ خوری او که تاسو اوګورئ جی هغه روټئ چه کله پخه شی او لس منټه پس هغه روټئ تاسو استعمالوئ نو هغه د خوراک لائقه نه وی۔ دغه شان چه کله ګیدے ته لاړه شی نو په ګیډه کښې هم هغه نقصانات پیدا کوی۔ د بیمارو جوړه‌ده۔ نو د هغه بیمارو د جړے ختمولو د پاره دا Wholemeal پالیسی مونږه اپناؤ کړه او د ملونو په Premises کښې دننه چه کوم چوکر وو نوهغوی له ما درے ورځے ټائم ورکړو او چه د چا سره اته زره، لس زره یا پنځلس زره بورئ سټاک وو د چوکرو نو هغه ترے نه مونږه اوویستل او بازارونو ته مو اولیږل ولے چه دوه میاشتے مخکښې ما ته دا شکایت ملاؤ شوے وو چه دا چوکر په دے کښې ملاوئیږی۔ نو د هغے د پاره ما آرډر ورکړو او په بازارونو کښې هغه مونږه ورکړل۔ هیڅ قسم څه داسے شکایت مونږ ته اوسه پورے نه دے ملاؤ شوے۔ حاجی عدیل صاحب! دا درته زه وایم چه ته لاړشه او پخپله دا ملونه چیک کړه۔ تا ته زه دا اختیار درکوم چه ته مل ته لاړشه که په کوم مل کښې تا ته چوکر ملاؤ شول نو انشاء اللہ زه به

تا ته مخامخ یم۔ سوال نشته دے چه څه داسے قسم پالیسی راشی او مونږه چوکر پریږدو۔ په چوکرو باندے مکمل پابندی ده۔ دویمه خبره دا ده جی چه زمونږ د صوبه سرحد 2,06,92,537 آبادی ده، په دے کښ 15,00,000 Afghan refugees دی، دا 2,21,92,537 population ټول جوړیږی۔ دا 27,51,875 میټرک ټن مونږ ته د غنمو ضرورت دے۔ په دے کښ 12,20,374 ټن زمونږ خپل پیدا وار دے، دا نور ټول 15,91,501 میټرک ټن مونږه Import کوؤ یا د پاسکو نه اغستلی دی جی او تاسو ته پته ده جناب سپیکر صاحب، Imported غنم په 9100 روپئ باندے پریوځی۔ د پاسکو غنم مونږ ته په 8900 روپئ باندے پریوځی۔ که تاسو اوګورئ ، مخکښ خو د 100 kg bag په 6665 روپئ وو، اوس د هغے ریټ 350 روپئ مونږه زیات کړو او هغه بورئ مونږه 7000 روپئ ته اورسوله په هغے قیمت باندے، نو 7000 او د 9100 روپو په مینځ کښ 2100 روپئ فی ټن حکومت Subsidy د دے برداشت کوی۔ په دے صوبه باندے یو ډیر لوئے بوجھ دے۔ تقریباً سارھے چار ارب روپئ په دے Ratio باندے چه دا کوم مونږه Grinding کوؤ او دا کوم غنم ورکوؤ، د Subsidy په مد کښ ځی۔ زمونږ خپل دا کوشش دے چه دا Subsidy دے غریبو خلقو ته ملاؤ شی او په کم قیمت باندے د دوئ ته اوړه ملاؤ شی۔ دا سارھے تین سو روپئ چه ما کوم کمے اوکړو نو سټر کروړ روپئ په دے کال کښ دے صوبے ته مے بچت ورکړو۔ (تالیاں) دا په پنځوس کاله تاریخ کښ نه دی شوی۔ 350 روپئ د whole meal قیمت، د اوړو قیمت هغه دے، 625 and 640 دے۔ قیمت په بازار کښ مونږه نه دے ګران کړے خو 350 روپئ د ملونو والو د جیبونو نه مے اوویستلے او سټر کروړ روپئ مے دے صوبے ته بچت ورکړو۔ نو عرض دا دے چه د سټاک خبره کوی نو د سټاک زمونږ سره هیڅ کمے نشته دے، فکرمه کوئ جی، انشا اللّٰه تعالیٰ مونږه به خپلو خلقو له اوړه ورکوؤ، غنم به ورله ورکوؤ او دغه شان نور سوالونه راروان دی، اته نهه سوالونه دی چه په هغے کښ څه Questions راځی نو تاسو په هغے باندے ضمنی سوالونه اوکړئ۔ مونږه چه کومه پالیسی اپناؤ کړه جناب سپیکر صاحب، په دے صوبه کښ 123 ملونه وو، مونږه هغه زیات کړل۔ نوی ملونه

چه کومو خلقو جوړ کړی وو نو هغوی له مو هم کوټه ورکړه۔ مونږه دا اووئیل چه بالکل عدالتونو ته مه خی، هیڅ د پارټئ پکښ څه سوال پیدا نه شی، چه چا هم مل لګولے دے هغه که د هرے پارټئ سره تعلق لرلو نو ټولو ته مونږه غنم ورکړل او دا د پنځوس کالو په تاریخ کښ وړومبے ځل دے چه په دے کښ د پارټئ هیڅ سوال مونږه پیدا نه کړو۔ چه د چا مل تیار وو نوهغوی له مونږه غنم ورکړل او دغه شان په ټوله صوبه کښ شروع دی۔ نو مونږه صفا دوئ ته وایو، دا زما ورونړه دی، که د اوړو په سلسله کښ څه تکالیف وی او په کومه ضلع کښ وی، په کومو کلو کښ وی نو انشاء الله تعالیٰ زه به هلته رسم جی او دوئ به زما سره معاونت کوی۔ د دوئ د مدد به ضرورت وی۔ نو زه په آخر کښ د ټولو ممبرانو ډیر زیات مشکور یم----------

جناب سپیکر، د افتخارالدین خټک هغه جواب ورکړئ وړومبے۔ دا همایون خان وائی چه د سلو ورځو Reserve stock درسره شته دے؟

وزیر خوراک، هیڅ قسم مسئله هم نشته دے، هر څه پوره دی۔ ته همایون خان ته اووایه چه په لکی کښ یا چه کوم ځائے هم د اوړو ضرورت وی نو هغه به ورته مونږه انشاء الله تعالیٰ پوره کوؤ۔ باقی د افتخارالدین خټک خبره کوم جی چه 2550 بوریٔ دی جی Daily، دا 2550 دی۔ دا د ګلیات چه کومے هلته یونین کونسلے دی، بره ګلیات چه کوم د مری سره پیوست دی، نو هلته مونږه دا ورکوؤ۔ شکریه۔

جناب همایون سیف الله خان، جناب سپیکر صاحب! د دے سوال نه زما دا مطلب نه وو۔ زما مطلب خو دا وو چه د وزیر صاحب لاسونه مضبوط شی۔ سبا چه په اسلام آباد کښ به ناست وی، هلته به خپله کوټه غواړی نو 100 days is must. The law demands that we must have 100 days wheat quota in the Frontier. که ستاسو د سو ورځو وی، نو ټهیک ده، خو ما ته پته ده جی چه د سلو ورځو د دوئ سره نشته دے۔ کم از کم پکارده چه د دوئ سره د سلو ورځو سټاک وی، نو د غنمو او د آټے قیمت به پخپله کم شی Automatically, if you have 100 days stock. ۔ شکریه۔

حاجی عبدالرحمان خان، جناب سپیکر صاحب! یو تپوس زه هم د وزیر صاحب نه کوم۔ کوم اوړه چه د پنجاب نه دے صوبے ته راځی، نو آیا د پنجاب په نرخ نے دے خلقو له ورکوی؟ دوئ د پنجاب نه راوړی او که نه د دوئ نه اضافی نرخ اخلی؟ په دے مے د دوئ پوهه کړی۔

جناب سپیکر، جی!

وزیر خوراک، په "کلیات" کښې خبره کوی جی؟

حاجی عبدالرحمان خان، نه، د ټولے صوبے د پاره خبره کوم۔

وزیر خوراک، داسے چل دے جی چه زمونږ صوبے ته په دے وخت کښې صرف کلیات ته اوړه راځی، ما صرف د کلیات خبره کړے ده۔ باقی صوبے ته د پنجاب اوړه نه دی شروع شوی۔

حاجی عبدالرحمان خان، نو پکار دا ده چه د پنجاب اوړه راشی خکه چه د هغے وجه دا ده چه یوه روپئ اوړه هلته ارزان دی۔

وزیر خوراک، جناب سپیکر صاحب! د پنجاب گورنمنټ مزید Subsidy خپلو خلقو له ورکوی۔ ستا د صوبے وسائل چه کوم دی نوهغه د هغے مطابق نه دی۔ که ته اوس نور اوړه ارزانوے نو پکار دا ده چه اته اربه روپئ نوره Subsidy ته ورکړے او ستا سره اته اربه روپئ Subsidy د پاره چرته دی؟ هغه د پنجاب گورنمنټ د خپلو وسائلو نه هغوی ته Subsidy ورکوی۔

جناب بشیر احمد بلور، سپیکر صاحب! په پنجاب کښې غنم پیدا کیږی نوهغوی خپل غنم ارزان ورکوی نو بیا دا بجلی چه زمونږ په صوبه کښې پیدا کیږی نو زه د وزیر صاحب نه خواست کوم چه بیا پکاردا دی چه زمونږ صوبے ته بجلی هم د په ارزان ریټ ملاؤ شی چه خلق دلته کارخانے اولگوی چه بیروزگاری ختمه شی او پروډکشن زیات شی۔

Mr. Speaker: Honourable Iftikhar-ud-Din Khan Khattak, MPA, to please ask his Question No. 755.

* 755 _ جناب افتخار الدین، کیا وزیر خوراک از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ـــــ

(ا) آیا یہ درست ہے کہ صوبہ سرحد کو صوبہ پنجاب سے روزانہ عام کوٹہ کے علاوہ مخصوص کوٹہ سے بھی آٹا فراہم کیا جاتا ہے۔

(ب) اگر (ا) کا جواب اثبات میں ہو تو عام اور مخصوص کوٹہ کے ذریعے کتنی بوری آٹا صوبہ سرحد کو فراہم کیا جاتا ہے اور جن ٹھیکیداروں کے ذریعے مذکورہ آٹا فراہم کیا جاتا ہے' ان کے نام اور پتے کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے۔

(ج) عام اور مخصوص کوٹہ کے تحت آٹے کی تقسیم کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے؟

جناب عغفور خان جدون (وزیر خوراک)، (ا) صوبہ سرحد کو صوبہ پنجاب سے روزانہ 21400 بوری آٹا ملتا تھا جو کہ 15-8-1998 سے حکومت پنجاب نے بند کر دیا ہے اور اس کے علاوہ کوئی مخصوص کوٹہ سے آٹا فراہم نہیں کیا جاتا تھا۔

(ب) چونکہ (ا) کا جواب اثبات میں نہیں' اسلئے یہاں تفصیل کی ضرورت نہیں ہے اور جیساکہ (ا) کے جواب میں بیان کیا جا چکا ہے کہ آج کل پنجاب سے آٹے کی سپلائی بالکل بند ہے'لہٰذا نہ کوئی مخصوص کوٹہ مقرر ہے اور نہ ہی سپلائی ہو رہی ہے۔

(ج) جیساکہ اوپر بیان کیا جا چکا ہے کہ صوبہ سرحد کیلئے پنجاب سے آٹے کا کسی قسم کا مخصوص کوٹہ مقرر نہیں ہے'لہٰذا تفصیل کی ضرورت نہیں۔

جناب افتخار الدین: جناب سپیکر صاحب! زما خو خپل دا عرض دے چه اول نمبر به حاجی عدیل صاحب ته ورکړو، ولے چه هغه مخکښې سوال ئے هم کړ وړ کړو او چرته اوونلو۔ جناب سپیکر صاحب! که تاسو هغه مخکښې سوال ته او دے سوال، جواب ته سوچ اوکړئ ، نو جواب ئے بیا هم هغسے دے خو زه دا وئیلے شم چه موجوده منسټر صاحب، په دے کښې څه شک نشته دے چه ډیر ښه کار ئے روان کړے دے، خو ما چه په کوم وخت کښې دا سوال استولے وو نو ما په هغه وخت کښې جواب غوښتلے وو او دوئ ما ته اوس د دے وخت جواب راکوی۔ نو په اوس وخت کښې او په هغه وخت کښې ډیر زیات فرق دے۔ دوئ وائی چه مخصوص کوټه چرته هم نه وه او زه تاسو ته جی په یقین سره دا وایم او د هغه ضلعے نامه خو ئے نه اخلم، صرف یو ډسټرکټ ته روزانه تیره، چوده ګاډی به مخصوص راتلل او داسے بله یوه ضلع وه چه هغے ته به هم مخصوص ګاډی راتلل۔ نو زما صرف دا غرض وو جی، زما په منسټر صاحب باندے څه دغه نشته دے --------

جناب سپیکر، چه په منسټر صاحب باندے د څه دغه نشته دے نو خو بس بیا د جواب نه Satisfied یے کنه۔ نو زوروره بیا ترے نه څه غواړے؟

جناب افتخار الدین، نه جی، عرض خو زما واورئ کنه جی۔ د دے سوال جواب چه کوم ملاؤ شوے دے نو دا صحیح نه دے ملاؤشوے۔ د منسټر صاحب په خدمت کښې زه دا عرض کوم او زه ورته دا وایم چه څه رنګے د دا اوره کنټرول کړل، داسے دا خپل ډیپارټمنټ هم کنټرول کړه چه اسمبلئ ته جواب کم از کم صحیح را استوی۔ ستا په وخت کښې نه دی شوی، د هغه مخکښے وختونو خبره مے کوله۔

جناب محمد طارق خان سواتی، جناب سپیکر! گزارش یہ ہے کہ ضلع ایبٹ آباد میں ایک مخصوص حلقے کیلئے سترہ پرمٹ آٹا Daily آتا ہے اور یہ کہتے ہیں جناب' کہ پنجاب سے کوئی کوٹہ نہیں آ رہا۔ میں یہ سمجھتا ہوں جناب' کہ اس سوال کو آپ کمیٹی کے حوالے کریں تاکہ اس پر باقاعدہ Discussion ہو سکے اور کمیٹی آپ کو رپورٹ Submit کرے۔ یہ جواب غلط ہے۔

وزیر خوراک، بالکل جواب غلط نه دے، بالکل ٹھیک دے۔ میں پہلے بتا چکا ہوں کہ 2550 بوری آٹا آ رہا ہے گلیات کے ایریا میں اور میں تو پہلے بھی عرض کر چکا ہوں کہ 2550 بوری آٹا گلیات کے ایریا میں آ رہا ہے' جو مری کے ساتھ پیوست ہے۔ اگر یہ سوال اگر آپ پڑھیں' اس نے جو پوچھا تھا (ا) اور (ب) میں' تو اس کا جواب ہم نے دے دیا ہے۔ افتخارالدین خټک چه کوم تپوس کړے دے نو هغه جواب ورله مونږه ورکړے دے۔ چه کله د پنجاب نه مونږه اوړه شروع کړو نو بیا به د دوئ سره مونږه کښینواو د دوئ په Recommendations چه څنګه دوئ حکم کوی، نو هغه شان به ئے تقسیم کوو۔

Mr. Speaker: Honourable Said Ahmad Khan, MPA, to please ask his Question No. 784.

*784 _ جناب سید احمد خان، کیا وزیر خوراک از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ___
(ا) آیا یہ درست ہے کہ ضلع چترال کے مختلف گوداموں میں گندم کی تقریباً تیس ہزار بوریاں خراب ہونے کی وجہ سے ناقابل استعمال ہوئی ہیں جن کی وجہ سے صاف گندم کے

خراب ہونے کا خدشہ ہے،

(ب) اگر (ا) کا جواب اثبات میں ہو تو حکومت نے مذکورہ خراب گندم کو گوداموں سے ہٹانے کیلئے کیا اقدامات کئے ہیں، مکمل تفصیل فراہم کی جائے؟

جناب عفور خان جدون (وزیر خوراک)، (ا) یہ درست ہے کہ چترال کے مختلف پی آر سنٹرز اورسیل پوائنٹ میں تقریباً بیس ہزار بوریاں ناقابل استعمال گندم کی پڑی ہیں۔ تفصیل اسمبلی لائبریری میں ملاحظہ کی جا سکتی ہے۔) تاہم یہ بات صحیح نہیں کہ تازہ اور صاف گندم کے خراب ہونے کا خدشہ ہے۔ یہ خراب گندم اب بھی گوداموں میں علیحدہ علیحدہ جگہوں پر پڑی ہے اور حکومت کی ہدایات کے تحت عوام کو تقسیم نہیں کی جا رہی ہے۔ اس گندم کی خرابی کی بنیادی وجہ یہ ہے کہ چترال کی آبادی درآمد شدہ گندم کو خاص طور پر ترجیح دیتی ہے اور مقامی گندم (پاسکو کی) استعمال نہیں کرتی کیونکہ گزشتہ کچھ سالوں میں غیر ملکی گندم کی کمی کی وجہ سے دیسی گندم چترال کو سپلائی کی گئی تھی اور مقامی لوگوں کو ناپسند ہونے کی وجہ سے زیادہ تر فروخت نہ ہو سکی، اسلئے پڑے پڑے خراب ہوگئی۔ اس کے علاوہ چترال میں کوئی معیاری گودام بھی نہیں ہے اورسیل پوائنٹس عام طور پر سے کچے گھر، گیراج، دکان، ریاستی دور کے عشر کے گودام وغیرہ ہوتے ہیں، جن کی وجہ سے موسمی حالات بھی گندم پر اثر انداز ہوتے رہتے ہیں۔

حال ہی میں وزیرخوراک صاحب نے چترال کا دورہ کیا تھا۔ انہوں نے اس خراب گندم کا بغور معائنہ کیا اورحکم صادر فرمایا کہ اس خراب گندم کو فوراً تلف کیا جائے۔ اب یہ کیس فنانس ڈیپارٹمنٹ کو بھجوایا گیا ہے۔ جونہی جواب ملے گا تو قانون کے مطابق اس خراب گندم کو تلف کر دیں گے۔

جناب سید احمد خان، محترم سپیکر صاحب! میں منسٹر صاحب سے ایک ضمنی سوال کروں گا، منسٹر صاحب نے اس بات کو درست تسلیم کیا ہے کہ ضلع چترال کے مختلف گوداموں میں گندم کی تقریباً تیس ہزار بوریاں خراب ہونے کی وجہ سے ناقابل استعمال ہوئی ہیں اور یہ تو ان کے دور میں نہیں ہوا، میں منسٹر صاحب کا مشکور ہوں کہ انہوں نے چترال کا دورہ کیا، سارے حالات کا انہوں نے جائزہ لیا، گندم بھی بہت اچھے طریقے سے چترال پہنچا دیا گیا ہے اور کافی مقدار میں گندم چترال پہنچا دیا گیا ہے لیکن یہ پرانا گندم جو ہے، یہ سارے نئے گندم کو بھی خراب کر رہا ہے تو منسٹر صاحب نے اس بارے میں کیا پروگرام بنایا ہے کہ اس گندم کو تلف کیا جائے؟ انہوں نے تو لکھا ہے فنانس ڈیپارٹمنٹ

کو لیکن اس پر کب عمل ہوگا؟ ایک میرا ضمنی سوال یہ ہے اور دوسرا یہ ہے کہ چترال میں کوئی معیاری گودام بھی نہیں ہے اورسیل پوائنٹس عام طور پر سے کچھ گھر، گیراج، دکان، ریاستی دور کے عشر کے گودام وغیرہ میں ہوتے ہیں جن کی وجہ سے موسمی حالات بھی گندم پر اثر انداز ہوتے رہتے ہیں۔ یہ بڑا Important مسئلہ ہے تو منسٹر صاحب نے ان دو Issues کیلئے کیا قدم اٹھائے ہیں؟ اس بارے میں وہ کیا مجھے کوئی یقین دہانی دے سکتے ہیں؟ یہ دوضمنی سوال ہیں جناب۔

Mr. Speaker: Honourable Minister, please.

وزیر خوراک. جناب سپیکر صاحب! اصلی خبره دا ده جی چه دوئ کومه د شل زرو بورو خبره اوکړه، نو که زه ستاسو د نظر د لاندے راولم، داسے چل دے چه په ارندو کښ جناب، د 1981-82 نه چوده سو بورئ پرتے وے، بیا په دومیل کښ د 1985-86 نه چارسو بورئ دی، بیا په دروش کښ د 1981-82 نه آٹھ سو بتیس بورئ دی، بیا دغه شان تفصیل که تاسو لږ اوګورئ نو دغه شان په کشم کښ 1994-95 جناب، دا هغه زاړه چه کوم پراته دی د 1981-82 نه تر 1996 پورے بیس هزار بورئ جوړیږی۔ پخپله ما د دے معائنه کړے ده او سنتړو ته تلے یم او ما کتلی دی۔ دا بالکل خاورے دی او که ګوتے ورله وروړے نو بالکل کیمیکل دی۔ مونږه بیا راغلو، کله چه زه د چترال نه واپس شوم نو ما د فنانس ډیپارټمنټ سره په دے کښ Meeting اوکړو، هغوی زما سره په دے کښ Agree شوی وو۔ نو هغه غنم چه کوم دی نو دا د 1981 نه تر 1996 پورے راغلی دی اودا د پاسکو غنم وو۔ زمونږ په وخت کښ نه دی راغلی بلکه وروستو کال چیف منسټر صاحب د دوئ سره Meeting کړے دے او د هغه په خصوصی هدایاتو باندے په وړومبی‌خل باندے مونږه چترال ته تیس هزار ټن غنم ورکړی دی، د دوئ چه څومره Requirements وو، نو هغه ټول Imported غنم دی۔ زه ډیرو لویو لویو ښارونو ته تلے یم او په چترال کښ ګرځیدلے یم، په دروش کښ ګرځیدلے یم او ما د خلقو نه تپوس کړے دے چه په دے غنمو ستاسو څه اعتراض شته دے بلکه خلقو زما والهانه استقبال کړے دے چه دا په پنځوس کاله تاریخ کښ په وړومبی‌خل باندے په دے کال کښ چه کوم غنم راغلی دی نو د دے غنمو نه مونږه خوشحاله یو۔ بل دا ده جی چه د

چترال دا ممبران، د قومی اسمبلئ او د صوبائی اسمبلئ، دواړه زما سره ناست وو، ټول خلق مونږه راغوښتلی وو، بالکل خلق Totally د چترال چه کوم دی، نو یو سړے به تاسو ته ملاؤ نه شی بلکه د ټولو پارټیانو خلق مونږه راغوښتلی وو او ما ورته اوونیل چه که تاسو ته په دے غنمو باندے څه اعتراض وی نو ما ته اووایئ یا که په قیمت باندے تاسو ته اعتراض وی بلکه زه تاسو ته دا عرض کوم چه د وزیر اعلیٰ صاحب په خصوصی هدایاتو باندے زمونږه فی ټن چه کوم دے په پیښور، مردان، چارسده یا هزاره ډویژن کښې، سات هزار ټن دے او د چترال د پاره او د کوهستان د پاره 6665 روپئ، کوم چه زوړ ریټ وو، نو هغه ریټ دوئ له اوس هم مونږه ورکوؤ جی۔ بل دا ده جناب سپیکر صاحب، که تاسو د دے چترال خبره اوکړئ نو د اضاخیل نه چه چترال ته یوه بورئ خی نو په دے باندے 88.92 روپئ خرچ دے د اضاخیل نه چترال ته او بیا د اضاخیل نه چه کوم غنم دروش ته خی نو په هغے باندے 82 روپئ خرچه ده فی بورئ، بیا د دروش نه ارندو ته لوکل په چترال کښې بیا 25 روپئ بورئ او په ډیرو باندے زه به تاسو ته اووایم جناب سپیکر صاحب، دغه شان دا بروغل چه کوم دے، د چترال نه بروغل ته چه کوم Internal غنم مونږه ورکوؤ، په یوه بورئ باندے 439 روپئ زمونږه خرچه ده۔ په یو ټن کښې لس بورئ دی نو که تاسو د دے اندازه اولګوئ نوتقریباً 6500+5000 جناب 11500 روپئ فی ټن د صوبائی حکومت په دے باندے خرچه خی او خلقو له ئے ورکوی په 6665 روپئ باندے۔ د چترال د خلقو سره د دے نه د صوبائی حکومت نوره څه مینه کیدلے شی؟ بله دا ده چه د دوئ سیل پوائنټ دی او دا ګودامونه چه کوم دی، د نن نه د پنځوس کالو مخکښې ګودامونه دی۔ په هغے کښې چه دا غنم د یو کال نه سوا شی نو هغه خرابیږی۔ اوس چترال ته مونږه تر جون پورے سټاک رسولے دے بلکه هلته تر جون پورے مونږ ته د غنمو هیڅ قسم کمے نشته دے۔ نو زه ممبر صاحب ته دا یقین دهانی ورکوم چه انشاء الله تعالیٰ د چترال خلقو د پاره په موجوده امپورټډ غنمو کښې به هیڅ کمے نه وی او د دے د پاره مونږ باقاعده سمری لیږلے ده، دا غنم مونږه ضائع کوو۔ دا د 1981-82 نه پراته دی چه یو کال نه سوا ګودامونه تش وی نو بیا په

هغه گودامونو کښې دا خرابيږي۔ نو انشاء الله تعالیٰ مونږ ته د دے 1996 نه پس دا واقعه نه ده راپيښه شوے، دا د 1996 نه مخکښې ده۔

حاجی عبدالرحمان خان، چيئرمين صاحب سره په دے ضمن کښې مونږ هم چترال ته تلے وو، مونږ د هدايت اللهٔ خان په مشرئ کښې د Standing Committee د طرفه هلته چه لاړو، مونږ د غنمو اُنيس هزار او د چينو بانيس سو تشو بورو تحقيق له تلے وو چه د هغے تشو بورو تر اوسه پورے هم پته نه لگی، نو ما ورته اووئيل چه دا د پاسکو غنم چه دلته نه خرڅيدل نو تاسو ولے راوړل او چه مو راوړل نو بيا مو واپس کول ولے نه؟ جناب، په دے کښې زمونږ رپورټ دے او زمونږ د چيئرمين رپورټ هم دے په دے کښې، يو غټ ظلم شوے دے، د حکومت د پيسو خيانت شوے دے، دا داسے پريښودل نه دی پکار۔ دا فوډ ډيپارټمنټ دومره لوئے ظلم عظيم کړے دے چه کوم چينی او کوم حالت مونږ هلته اوليدو نو هغه د بيان قابل نه دے۔ چه ته غنم راوړے او دومره کرايه پرے ورکړے او هغه چا نه اخستو نو تاسو ولے د پاسکو غنم راوړل او چه مو راوړل نو بيا مو ولے واپس نه کړل؟ په دے گرانئ کښې انيس هزار يو، بيا زياتيدل جناب، په دے ضمن کښې زما ستاسو په خدمت کښې دا عرض دے او د منسټر صاحب په خدمت کښې دا گزارش پيش کوم چه دا مهربانی اوکړئ، دے له يوه کميټی جوړه کړئ او دوئ له سزا ورکړئ چه آئنده د پاره دا د عوامی، حکومت خو د عوامو دے ----------

جناب سپيکر، نه، کميټئ کښې خو تاسو وئ، چه مونږ ---------

حاجی عبدالرحمان خان، مونږ نه وروستو دوئ پکښې دغه شروع کړو، مونږ رپورټ ورکړے دے -----------

جناب سپيکر، بس هغه چه راشی اسمبلئ ته، بيا به گورو۔

حاجی عبدالرحمان خان، او جی، مونږه خو هم دغه وايو چه دلته د دا مسئله اوس دغه کوی نه، د هغے رپورټ په رنړا کښې به په دے باندے خبره کوو۔

حاجی محمد عديل، ميرا ايک ضمنی سوال ہے۔ محترم وزير صاحب نے فرمايا ہے کہ يہ جو بيس ہزار بورياں ہيں، انہوں نے بغور معائنہ کيا ہے اور حکم فرمايا ہے کہ اس خراب گندم

کو فوراً تلف کیا جائے اور اب یہ کیس فنانس ڈیپارٹمنٹ کو بھجوایا گیا ہے تو یہ بتا سکیں گے کہ انہوں نے گندم تلف کرانے کا جو حکم دیا ہے، اس کیلئے کیا طریقہ استعمال کریں گے؟ اسے کیسے تلف کیا جائے گا اور فنانس ڈیپارٹمنٹ کو انہوں نے کیا Recommendation کی ہے؟ ایک تو یہ ہے جی، اور جیسا کہ میرے محترم بھائی، عبدالرحمان خان نے کہا ہے کہ جن لوگوں کی غلطی سے اتنا قومی نقصان ہوا ہے، ان کیلئے انہوں نے کیا سزا تجویز کی ہے؟ کیا کوئی ڈیپارٹمنٹل تحقیقات شروع کی گئی ہیں؟ یہ وضاحت کو دیں کیونکہ میرا خیال ہے کہ کھانے کے علاوہ یہ گندم Animal food میں بھی استعمال ہو سکتا ہے، تو کیا انہوں نے کوئی انکوائری شروع کی ہے؟

Mr. Speaker: The Honourable Minister, please.

وزیر خوراک، جناب سپیکر صاحب! د عبدالرحمان خان دا خبره، بالکل د دوئ رپورټ وو او د دوئ د رپورټ په رنړه کښ ما د چترال دوره اوکړه، ما پخپله غنم اوکتل، غنم نشته دے، خاوره ده او دا د 82-1981 نه شروع دی او تر 1996 پورے وو، پکار دا وو چه پنځلس کاله مخکښ دا منسټران تلے وو او په دے کښ صوبائی حکومت تحقیقات کړی وو په هغے باندے خو Already زه درته وايم چه هغے کښ د پنځلسو کالو زاړه غنم دی او جناب، هغه زهر دی که تاسو ورله ګوتے یوړے، خاورے دی، غنم هم نه دی هغه صرف خاورے پرتے دی- بیا دوئ ته مونږ اووئيل، هلته فنانس ډيپارټمنټ ته، ډی سی چترال ته، اے ايس پی او داسے نور د هغوی مونږه یوه کمیټی جوړه کړه، دا ايم اين اے او ايم پی اے مو پکښ کښينولی دی- که دا ممبران، حاجی عديل په هغه سلسله کښ خی نو زه دوئ ته دا دعوت ورکوم چه دوئ د راشی، مونږ سره د لاړ شی، د چترال دوره به اوکړو او دوئ د پخپله د دے خبرے فيصله اوکړی- مونږ وايو چه زهر پراته دی- بل دا ده، زه درته يوه ورخ دے کښ درکوم جناب سپیکر صاحب، دا چه څومره هلته پراته دی، هغه ستورونه لړ لړ دی، واړه واړه دی او هغه بهر په برانډو کښ پراته دی- چه د 82-1981 نه پراته دی او دا تر 1996 پورے چه کوم غنم پاسکو والا راليږلی دی، دا پراته دی، هغه زهر دی او دا چه کوم غنم زمونږ سټاک پراته دی، دغه زهر زمونږ دغه سټاک ته روان دی، نو د هغے د پاره خو مونږ فی الحال هلته د

لرګو بندوبست اوکړو- دا بوری چه کومے دی نو دا مو په هغه لرګو باندے ایښے دی- په لرګو مو خکه ایښے دی چه دے ته هغه زهر راو نه رسی- چه کوم زاره غنم دی، د هغے د پاره مونږ باقاعده Meeting کړے دے او هغه مو د دوی په Recommendation کړی دی او چه تلف کوو نو تلف به داسے نه وی چه تلف به وی، باقاعده په هغے کښی به ډیر زیات Notable خلق وی، د دے اسمبلئ ممبران به وی، فنانس ډیپارټمنټ به وی، فوډ ډیپارټمنټ به وی او چه دے کمیټئ ته د دوی کوم Recommendation راشی، د هغے مطابق به مونږ دا د 1981 او 1982 نه چه څوک دے کښی Involve دی، انشاء الله تعالیٰ هغوی ته به خپله سزا ملاویږی-

حاجی بهادر خان(مردان). جناب سپیکر صاحب! پوائنټ آف آرډر- حقیقت خو دا دے چه زه هم په دغه کمیټئ کښی تلے ووم- مونږ دوی ته دا خواست کوو چه دا کوم غنم خراب دی، خواه هغه شل زره یا لس زره بوری دی، مونږ چه د هغے حالات اولیدل او چه کوم روغ غنم دننه په ګوداموکښی پراته وو، نو چه دا د ګودام خله ده نو د دغے ګودام بهر خلے ته نے هغه سخا غنم ایښی دی نو هغه سخا غنمو نه ګند راخی او په هغه روغو غنمو کښی ملاویږی- د هغے حالاتو حقیقت دا دے چه مونږ کوم کتلے دے- نو دا بالکل حقیقت دے او دغه افسران خو داسے کول پکار دی چه زه خو وایم چه ریکوری ترے اوشی او بالکل نے ختم کړی- هغوی دومره ظلم کړے دے او په لکهونو بوری نورے هم خرابیږی- چه مونږ څه لیدلی دی او دغسے چینی هم د ګټانو په شکل کښی پراته دی، ختم شوی دی چه پروسکنی چینی دی- نو زه وایم چه نه خرڅیږی نو بیا د دغه چینی نه اوری کنه-

وزیر خوراک. جناب سپیکر صاحب! دا چینی چه کوم دی نو دا د یو کروړ او لسو لکهو روپو وو او انشاء الله تعالیٰ د دے ما دا اوکړل چه دا تاسو بازارکښی نیلام کړی او انشاء الله تعالیٰ د څلور، شپږو لکهو روپو به هغے کښی کمے راخی او یقین دا دے چه د یو کروړ او اتو لکهو روپو په ځائے باندے د یو کروړنه سوا ریکوری به مونږ ته چینو په مد کښی اوشی- دا غنم چه کوم دی، ګوری جناب سپیکر صاحب، زه یو بل عرض کوم، زمونږ نه اوس مخکښی په

چترال کښې چه کوم دے، په دے کښې ډیر زیات سیل پوائنټس دي، دوئ د ورځے غنم خرڅوي، د هغے پیسے به د کلرکانو جیب ته تللے- په 1994-95 او په 1996 کښې یو کروړ، ارتیس لاکه روپے کلرکانو په جیب کښې اچولے دي، څوک افغانستان ته تبتیدلي دي، څوک وائي چه چا Stay order اخستے دي- ما د هغے د پاره چه د چترال دوره اوکړه، ما ونیل تاسو چه دا غنم خرڅوئ نو دے پیسو سره څه کوئ؟ نو ونیل ئے چه دا خو مونږ په شپږمه اتمه ورځ یا په لسمه ورځ یا په شلمه ورځ یا میاشت پس په بینک کښې جمع کوو- ما فوري طور هدایات جاري کړل چه کوم ښارکښې غنم خرڅیږي نو د هغے د پاره مو په بینک کښې اکاونټونه کهلاو کړل- چه غنم کله د ورځے خرڅ شي نو دوه بجے هغه پیسے چه څومره ریکوري کیږي، نو هغه پیسے مونږ په هغه اکاؤنټ کښې جمع کوو- اوسه پورے دے غاړے ته چا خیال نه دے کړے- ایک کروړ، ارتیس لاکه روپئ بقایاجات دي- باقي ما ډپټي کمشنر ته دا اوونیل چه فوري طور باندے چه په کومو خلقو دا ایک کروړ، ارتیس لاکه روپے بقایا دي نو د هغوي نه دا ریکوري اوکړه- دا د دوئ د جانیداد نه اوکړه چه کوم موجود دي او چه هر څنګه کیږي، دا ایک کروړ او ارتیس لاکه روپئ ریکوري اوکړه او د چیني په مد کښې چه کوم ریکوري کیږي نو په هغے کښې به تقریباً د دوه څلور شپږو لکهو روپو نقصان اوشي- نورے خپلے پیسے به مونږ ته د چنیو په مد کښې ملاو شي- د غنمو چه کوم دے نو -----

حاجي عبدالرحمان خان، سپیکر صاحب! -----------

وزیر خوراک، د غنمو خو د 1981 او 1982 خبره ده نو د 1981 او 1982 حکومت ته اوګوره، د 1985 حکومت راغلے دے، یو بابر نسیم چرته تلے دے، د هغے نه بعد زما په خیال یو منسټر هم د چترال دوره کړے نه ده نو نه ئے دا سنټرے کتلي دي او نه ئے دا سیل پوائنټس کتلي دي- یو سنټرے دي بیا سیل پوائنټونه دي- په هغه سیل پوائنټونو کښې سو سو او دو دو سو بورئ غنم وي- خلق غریبانان راځي، څوک نیمه بورئ اخلي او څوک بورئ اخلي چه میاشت کښې ورته ملاویږي او هغه پیسے هغوي ورکوي او دا پیسے به هم نه جمع کیدلے- دا خو اوس ما فیصله اوکړه، په بینکونو کښې مے اکاؤنټونه

ورته کیښودل او پیسے هلته جمع کیږی۔

حاجی عبدالرحمان خان، پوائنټ آف آرډر۔ جناب سپیکر صاحب! زمونږ دا خبره دغه شوه۔ زه د وزیر صاحب په خدمت کښی ستاسو په وساطت سره دا عرض کوم چه دا غنم چه د 1981 (چه) دی، دا لږ دی۔ صحیح تحقیقات مونږ کړی دی، زمونږ د کمیټئ په خبره باندے عمل اوکړئ۔ جناب! دوئ دلته اوس د خان نه وانی، هلته انیس بیس هزار د خرابو غنمو بورئ نشته، زیات نه زیات به پانچ چه سو بورئ د خرابو غنمو پرتے وی۔ انیس هزار بورئ چرته دی؟ جناب! په مینځ کښی معامله خرابه ده۔ دلته نے ستاسو په وساطت باندے دغه کوی۔ زه وزیر صاحب ته وایم چه زمونږ رپورټ ته اوګوره، زمونږ د دریو کسانو، او دهغے په رنړه کښی په هغے عمل اوکړئ نو تاسو ته به پخپله معلومه شی چه دا حق خبره چه ده، دا په کومه طریقه روانه ده؟ دلته مونږ زبانی جمع خرچ کوو او زه ډیر افسوس هم کوم چه مونږه عملی قدم پرے نه اخلو او مخ مروت او لحاظ او خاطر کوو۔ نه نه، دا ډیر عظیم خیانت شوے دے، په دے جناب سپیکر صاحب، سخت قدم اوچتول پکار دی۔ یو څو بورئ چه زما ملګری اووئیل، هغه نے هسے (خُلے) ته اینبے وے او که ستاسو په نوټس کښی وی، وزیر صاحب به تپوس نه وی کړے، ما مسلم لیګیان راوغوښتل، ما جمیعت العلماء والا راوغښتل، ما سرخ پوش راوغوښتل او ما د هر مکتبه فکر خلق راوغوښتل چه مونږ ته اووانی چه چل څه دے؟ وئیل نے چه جناب، مونږ له په ایک سو دس او ایک سو سات د سو کلو ګرام بورئ راکوی، مونږه یوه بورئ اوتلله، هغه بورئ چهتر کلو اوختله او هغه نے هم خلقو له په بورئ کښی ورکوله، بله بورئ مو اوتلله، زما خیال دے ما نه به هیریږی، سو وه کنه؟

حاجی بهادر خان(مردان)، سو وه۔

حاجی عبدالرحمان خان، سو، جناب، د چهتر هم په سو کښی ماتیږی۔ ما هغوی نه تپوس اوکړو چه اوښایئ دا بورئ چه کمه راغلے ده، ما ته ریکارډ اوښایئ چه دا ولے کمه ده؟ هغوی سره ریکارډ نه وو۔ نو زما دا ملګری په دے ګواهان دی جناب، هلته کښی یو اندهیر نګری وه او ډیر لوئے ظلم وو او دا خبره زه

وزیر صاحب ته وایم چه دلته ئے مه دغه کوئ په دے باندے زمونږه رپورټونه هم راروان دی او مونږه پرے گواهان هم یو۔ دوئ له صحیح سزا ورکول پکار دی چه آئنده د پاره دقومی دولت څوک خیانت اونکړی۔

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر پر ہوں۔ میرے خیال میں اس کمیٹی کے چیئرمین ہدایت اللہ خان ہیں، تو اسمبلی میں کمیٹی کی رپورٹ ٹیبل ہو جائے تاکہ ہم اس پر اسمبلی میں Discussion کریں۔ ہاں، اس پر اسمبلی میں بحث کریں۔

Mr. Speaker: Hon'able Aurang Zeb Khan, MPA, to please ask his Question No. 834

*834 _ جناب محمد اورنگزیب خان، کیا وزیر خوراک از راہ کرم ارشاد فرمائیں کہ۔۔۔

(ا) آیا یہ درست ہے کہ ضلع کوہاٹ میں آٹے کی قلت کے باعث مقامی انتظامیہ نے آٹے کی تقسیم کا طریقہ کار وضع کیا ہوا ہے،

(ب) اگر (ا) کا جواب اثبات میں ہو تو موجودہ طریقہ کار کی تفصیل فراہم کی جائے،

(ج) آیا یہ بھی درست ہے کہ ضلع کوہاٹ میں لائسنس یافتہ آٹے کے ڈیلرز موجود ہیں،

(د) اگر (ج) کا جواب اثبات میں ہو تو مذکورہ آٹا ڈیلرز کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے، نیز مقامی انتظامیہ نے جن غیر لائسنس یافتہ افراد کو آٹے کا کوٹہ دیا ہے، آیا مذکورہ افراد کی جگہ لائسنس یافتہ افراد کو آٹے کا پرمٹ دینے کو تیار ہے؟

جناب غفور خان جدون (وزیر خوراک)، (ا) جی ہاں، ڈسٹرکٹ فوڈ کنٹرولر نے مقامی انتظامیہ کی ہدایت پر ضلع کوہاٹ میں آٹے کی تقسیم کا طریقہ وضع کیا ہوا ہے۔ موجودہ چار ملوں سے جن لوگوں کو آٹا فراہم کیا جاتا ہے، ان کی تفصیل لف ہے۔ (تفصیل اسمبلی لائبریری میں ملاحظہ کی جا سکتی ہے۔)

(ب) اس موجودہ طریقہ کار کی مکمل تفصیل جز (ا) کے جواب کے ساتھ لف ہے۔

(ج) جی ہاں، یہ بھی درست ہے کہ ضلع کوہاٹ میں لائسنس یافتہ ڈیلرز موجود ہیں۔ جن ڈیلروں کو مقامی ملوں سے آٹا دیا جاتا ہے، ان میں سے اکثر و بیشتر لائسنس یافتہ ہیں۔

(د) آٹے کی تقسیم کافی غور خوض کے بعد مقامی انتظامیہ کے احکامات پر ہوئی ہے، نیز انتظامیہ نے آٹے کی تقسیم کے طریقے کار میں عوام کے مفاد کو مدنظر رکھا ہے اور کوہاٹ میں آٹے کا کوٹہ خوش اسلوبی سے تقسیم ہو رہا ہے اور کسی قسم کی شکایت انتظامیہ کے

نوٹس میں نہیں لائی گئی کیونکہ آٹے کی دکانوں پر آٹا پرچون فروخت ہوتا ہے' اسلئے بمطابق فوڈ گرین لائسنسگ کنٹرول آرڈر' پرچون آٹا ڈیلر کا لائسنس یافتہ ہونا ضروری نہیں ہے۔

جناب محمد اورنگزیب خان: شکریہ' سپیکر صاحب۔ سپیکر صاحب! میرا سوال پوچھنے کا مقصد یہ تھا کہ پورے صوبے میں آٹے کی قلت تھی' کوہاٹ میں بھی آٹے کی قلت تھی تو اس وقت کی انتظامیہ نے ایم پی ایز' ایم این ایز اور جو معتبرین تھے' ان کو بلا کر ایک طریقہ کار وضع کیا۔ وہ دوَر گزر گیا' نیا دوَر آیا 25 فروری 1998 سے' نئے ڈی۔سی صاحب کوہاٹ آئے' انہوں نے اپنی مرضی کے آدمی اور مخصوص جماعت کے آدمی جو حکمران جماعت سے تعلق رکھتے تھے' ان کو بٹھا کر ایک طریقہ کار بنایا' پرمٹ تقسیم کئے۔ اپنے اپنے لوگوں کو پرمٹ دئیے گئے اور اس میں جو خرابی آئی اور جو ظلم کوہاٹ کے ساتھ ہوا ہے' وہ میں وزیر صاحب کے نوٹس میں لانا چاہتا ہوں۔ وزیر صاحب نے زبانی بڑی اچھی اچھی باتیں کی ہیں کہ آٹا بہت زیادہ ہے' گندم بہت زیادہ ہے لیکن خدا گواہ ہے کہ آج صبح جب میں ناشتہ کر رہا تھا اور روٹی میں نے کھائی تو مجھے اُلٹی آگئی' خراب ترین اور گندی ترین گندم' میں کوہاٹ کی بات کرتا ہوں' میں پشاور کی بھی بات کرتا ہوں۔ دوپہر کی روٹی ہم پشاور میں کھاتے ہیں۔ میں دعوے سے کہتا ہوں کہ وزیر صاحب دو دن وہ روٹی کھائیں' پھر یہ اسمبلی میں ذرا آ کر بیٹھ جائیں۔ گندم کھانے کی نہیں ہے۔ یہ جہاں سے بھی گندم منگواتے ہیں' جو پھینکنے کے قابل گندم ہوتا ہے' وہ صوبہ سرحد خرید لیتا ہے۔ چار ارب روپے سب سڈی کی بات کر رہے ہیں' چار ارب میں سے تین ارب روپے کھا جاتے ہیں یہ لوگ' بیوروکریسی آپ کہیں یا سیکرٹریز آپ کہیں یا انتظامیہ کہیں یا فوڈ کنٹرولر آپ کہیں' یہ روپے تقسیم ہو جاتے ہیں۔ ایک ارب کا فائدہ بھی اس صوبے کے غریب عوام کو نہیں پہنچتا۔ میں وزیر صاحب سے سوال پوچھنا چاہتا ہوں کہ کوہاٹ میں چار فلور ملز ہیں' انہوں نے یہ جواب دیا ہے' یہ چیز بھی ریکارڈ پر ہے کہ ہنگو الگ ضلع ہے اور کرک الگ ضلع ہے' وزیر صاحب ذرا مجھے اس چیز کا جواب دیں' یہ آفریدی فلور ملز' آپ نے Second page پر جو تفصیل بتائی ہے' سیریل نمبر 12' ہنگو 193 bags 80 kg کے روزانہ کوہاٹ سے جاتے ہیں۔ پھر ہے جناب کوہاٹ فلور ملز کوہاٹ' 10 نمبر پر' سیریل نمبر 10' دو سو پینتالیس Bags روزانہ کرک جاتے ہیں۔ دو سو پینتالیس Bags کوہاٹ سے ہنگو اور کرک جاتے ہیں اور میرے حلقے کی' یہ Bad luck میں اسے کہوں' سٹی کا حلقہ ہے جیسے

پشاور سٹی ہے' سب دیہاتوں سے لوگ مزدوری کیلئے آتے ہیں' کلرکس آتے ہیں' وکلاء آتے ہیں' افسران آتے ہیں' پشاور میں کوہاٹ سے' ایبٹ آباد سے' مردان سے لوگ آتے ہیں اور دوپہر کی روٹی وہ خواہ مخواہ پشاور میں کھاتے ہیں تو وہ بوجھ پشاور پر پڑتا ہے' کوہاٹ میں بھی اسی طرح ہے جو میرا حلقہ ہے پی ایف۔29' اس میں سب دفاتر ہیں' سب مرکزی ہیڈکوارٹرز ہیں' جو ڈویژنل دفاتر ہیں' وہیں کوہاٹ میں ہیں۔ ہنگو اور کرک سے' جو ہدایت اللہ خان صاحب کا حلقہ ہے اور افتخار الدین صاحب کا حلقہ ہے' غنی الرحمان صاحب بیٹھے ہوئے ہیں' چاروں حلقوں سے لوگ اس حلقے میں آکر دوپہر کی روٹی خواہ مخواہ کھاتے ہیں اور اس حلقے میں انتظامیہ نے اپنا طریقہ کار بنایا ہوا ہے۔ میرا دوسرا سوال ان سے یہ ہے کہ انہوں نے جو نام دیئے ہوئے ہیں' جن کے ذریعے آٹا تقسیم ہو رہا ہے' یہ میں اگر تفصیل پڑھوں تو جناب' آپ کا ٹائم زیادہ خرچ ہو جائے گا' یہ ناموں کے ساتھ اگر آپ دیکھیں تو کہیں بھی کسی کا لائسنس نہیں لکھا ہوا ہے' صرف چند لوگوں کے' چھ' سات یا آٹھ آدمی ہیں' ان کے لائسنس ہیں باقی پورے Pages ' یہ آفریدی فلور ملز کا آپ دیکھیں جناب' کسی کا لائسنس نہیں ہے' اپنے منظور نظر لوگوں کو انہوں نے پرمٹ دیئے ہیں اور جس طریقے سے وہ پھر آٹے میں چوکر ملا رہے ہیں' چوکر اسے کہہ سکتے ہیں' آٹا نہیں کہہ سکتے' معیاری آٹا نہیں ہے۔ میں وزیر صاحب کے نوٹس میں ایک اور بات بھی لانا چاہتا ہوں کہ وہاں کے مسلم لیگ کے ضلعی صدر کے خلاف اوم لال اور پشوری لال' دو ہندو ہیں جو آٹا بیچتے ہیں' نے درخواست دی ہے کہ اس نے ہم سے نوے ہزار روپیہ لیا ہے' بیس ہزار روپیہ کمشنر صاحب کے ائرکنڈیشنر کیلئے' تیس ہزار روپے کی ڈپٹی کمشنر کی میں نے دعوت کی ہے اور دس ہزار اس کیلئے' پورا اس نے استغاثہ دائر کیا ہے جی اور اس میں انکوائری مقرر ہوئی ہے لیکن پھر وہی اپنے طریقے استعمال کئے گئے یعنی انتظامیہ کا دباؤ' سیاسی دباؤ' غنڈہ گردوں کا دباؤ' ان بیچارے شریف آدمیوں نے اپنی وہ درخواست' استغاثہ واپس لے لیا اور وہ فائل ابھی تک عدالت کا حصہ ہے' عدالت میں پڑی ہے' اس پر کوئی رپورٹ نہیں آئی۔ تو میں یہ کہہ رہا ہوں کہ کم از کم کوہاٹ میں مسلم لیگ کے صدر' میں نے بات کہہ دی ہے' وہ فائل عدالت میں پڑی ہوئی ہے' کے خلاف کیس رجسٹر ہوا ہے' انکوائری مقرر ہوئی اور انکوائری ختم ہوگئی ہے۔ کوہاٹ میں جو کھانے کا آٹا مل رہا ہے' میں کل کوہاٹ سے آؤں گا تو کسی نانبائی کے پاس سے آپ کیلئے ایک روٹی نمونے کے طور پر لے آؤں گا۔ اگر مجھے یہ Questions کل ملے ہوتے تو میں آج وہ روٹی کوہاٹ

سے لے آتا اور میں پھر وزیر صاحب سے کہتا کہ آئیں اور یہ روٹی آپ کھائیں۔ دو دن مسلسل آپ یہ روٹی کھائیں اور پھر آپ اس اسمبلی میں بیٹھیں جناب۔ تو میری Request یہ ہے محترم سپیکر صاحب، کہ یہ تو جواب دیں کہ کوہاٹ سے 193 bags روزانہ ہنگو کو جا رہے ہیں، 245 bags ان کے جواب کے مطابق روزانہ کرک کو جا رہے ہیں، تو کوہاٹ والے پھر کیا کریں گے؟

Mr. Speaker: Honourable Minister, please.

وزیر خوراک: جناب سپیکر صاحب! زه خو په افسوس سره دا خبره کوم چه کوم ډیلران چه چا مقرر کړی دی جی، زما په دے خپل وزارت کښې ما تر اوسه پورے ډیلر نه دے مقرر کړے او بل دا ده چه دا ډیلران لائسنس یافته دی۔ چه کوم د لسو بورو نه سوا دی، هغوی سره لائسنس دے۔ اوس تاسو ما ته دا اووایئ جناب سپیکر صاحب، مثلاً ستاسو کلے چمکنی دے، هغوی ته به زه وایم چه ته لائسنس راوړه او هغه کلی والا به لائسنس جوړوی۔ جی دا هغه خانے کښې مونږ ورکو چه کوم خانے کښې لوئے ښارونه دی۔ هلته ورته مونږ وایو چه تاسو لائسنسونه راوړئ۔ په لائسنسونو باندے انتظامیے دستخط کړے دے، ډپټی کمشنر، اے۔سی باقاعده د هغے نګرانی کوی۔ دا لائسنسونه هغوی ورکړی دی۔ چه چا سره لائسنسونه دی، چه کومو سره لائسنسونه دی په دیهاتونو کښې د لسو بورو نه کم جی، په هغے دیهاتونو کښې نے هم ورکړی دی۔ بل دا ده، دا لسټ، ایم پی اے صاحب ته به دا معلوم وی چه دا تقریباً د دوو کالو دے، دا اوسنے نه دے۔ که ما ته چا ثابته کړه چه غفور جدون په کوهاټ کښې د مسلم لیګ کارکن له یا صدر له اوړه ورکړی دی نو زه په هغے خانے کښې چه څه تاسو په ما باندے جرمانے ایږدئ، هغه ما باندے کیږدئ۔ سوال نشته چه دا شان قسم ته څیز پیدا شی۔ Wholemeal دے جی، د کوهاټ خلق سپین اوړه غواړی او دوئ چه کومه د هندو خبره کوی، جی زه کوهاټ ته لاړم، چه کوهاټ ته لاړم نو ما شپږ اته کسان اونیول، هغوی سره فائن اوړه وو، میده وه، هغه ما اونیول۔ ما ورته اووئیل چه دا تاسو په څو خرڅوئ؟ هغوی د 640 نه ګران خرڅول په 700 روپئ، په 780 روپئ۔ هغه ټول ما اونیول۔ ما ورته اووئیل چه دا مو د کوم خانے نه راوړی دی؟ نو هغوی اووئیل چه دا

مونږ د پنجاب نه راوړی دی۔ او دا هندو چه کوم دے، دے نے چه نوم اخلی، ټول کوهاټ ښار ته به ده دا میده سپلائی کوله۔ دے هندو چه اوکتل چه منسټر راغلے دے، ده دکان ته تاله اولګوله، یو ته نے تاله اولګوله او بل ته نے تاله نه وه لګولے، چه مونږه لاړو او د ده دکان مو چیک کړو نو د ده په دکان کښې میده وه جی۔ اے۔سی ما سره موجود وو، د هغے خلاف هغوی په فوډ ایکټ کښې پرچه اوکړله او هغه وروستو Arrest شولو او د هغے نه بعد هغه د عدالت نه ضمانت کړے دے۔ په Wholemeal کښې سوال نه پیدا نه کیږی چه مونږه چا ته اوواېو، دے د ما ته اووائی۔ د هغے نمونے مونږه اخلو، د غنمو جُدا نمونه اخلو او د اوړو جُدا اخلو او باقاعده تر اوسه پورے چه څومره نمونے راغلے دی، هغه بالکل ټهیک ختلی دی۔ تر څو پورے چه کرک ته څی جی، په کرک کښې دوه میلونه دی جی۔ د کرک آبادئ په لحاظ د نوے پالیسئ مطابق سات ګهنټے Grinding په حساب باندے د کوهاټ نه چه کوم وافر اوړه دی، هغه مونږه کرک ته باندې داود شاه وغیره، دے ایریا کښې ورکو ولے چه سوا دی۔ دا شان اوس پیښورکښې، په مردان کښې سوا دی، په صوابئ کښې کم دی نو د مردان نه مونږه صوابئ ته ورکو۔ په چارسده کښې لږ غوندے سوا دی نو پیښورته ترینه ورکو جی ولے چه بین الاضلاعی پابندی مونږه ختمه کړے ده جی، اوړه تلے شی۔ د کوهاټ نه کرک ته تلے شی او د کرک نه کوهاټ ته هم راتلے شی۔ د کرک نه لکی ته هم تلے شی او ډیرو ته هم تلے شی۔ د دے ډیرے ورځے اوشوے چه پابندی مونږه، 144 مونږه Lift کړے دے۔ نو سوال نشته چه دا شان قسم څوک حرکت اوکړی او له د د چا نه څوک پیسے واخلی انشاء الله تر څو پورے چه زه موجود یم۔ زه دے ایم پی اے صاحب ته دا درخواست کوم، ده که زما په نوټس کښې راوستے وے او که د ده سره زه د شپے نه ووم تلے یا د دے ما ته اووائی۔ ما د کوهاټ ټول ملونه چیک کړی دی، دغه شان د ډیرو مے چیک کړی دی، کرک ته تلے یم، ټول مے چیک کړی دی، زه د هیچ چا په دے کښې لحاظ نه کوم چه دا د فلانی مل دے یا د ډنګری دے بلکه مونږه باقاعده بند کړی دی، یوه، یوه نیمه میاشت بند پراته وو او په هغه اوړو کښې څه فرق نشته جی۔ او بل دا غنم چه کوم دی جناب سپیکر، د غنمو

درته زه وایم چه دے د لارښی او یو ګودام د چیک کړی، امپورټیډ غنم دی۔ دومره صفا غنم دی جی چه دومره زمونږه خپل ذاتی هم غنم صفا نه دی۔ نو که ممبر صاحب نور څه وانی نو دے د اووانی چه زه ورله جواب ورکړمه، چه دے زه مطمئن کړم۔ چه تر څو پورے دے مطمئن شوے نه دے نو بل ضمنی سوال د اوکړی چه د هغے جواب ورله ورکړم۔ که دوئ وانی چه کوهاټ ته راشه نو کوهاټ ته به لاړ شم او په کوهاټ ستی کښې ټول چه څومره دا لائسنس یافته دی، ټولو ته مونږ غنم ورکو۔ هیڅ قسم کمے نشته دے۔ که دوئ وانی چه نور پکښې شامل کړئ چه نور پکښې شامل کړو جی۔

<u>جناب محمد اورنگزیب خان</u>: نه نه، سپیکر صاحب، زه واحد ممبر ووم، خدائے شته چه پخپله پارټئ باندے ما په کوهاټ کښې پابندی لګولے وه چه اے این پی والا سړے به پرمټ نه اخلی۔ دا د خدائے فضل دے او د خدائے شکر دے، د اے این پی صدر، تیر دور یادوم جی، دا اوسنے نه، اوس خو نه مو څوک پېښتنه کوی او خدائے شته نه مونږ ورته د سره سوال کوو۔ مونږ خو وایو چه خدائے د اوکړی چه دوئ داسے کارونه اوکړی لکه پرون حاجی عبدالرحمان صاحب وئیل چه داسے کارونه د ستاسو نه خدائے واخلی چه بیا تاسو چا ته مخ او نه ښایئ۔ زه دا نه وایم چه ما خان سره کښینوئ، ما خو د ثبوت په طور باندے تاسو ته وئیلی دی چه په عدالت کښې کیس پروت دے، د مسلم لیګ د صدر برخلاف کیس پروت دے، باقاعده انکوائری شوے ده، هغه انکوائری غائبه شوه۔ زه اوس هم دا وایم وزیر صاحب ته، غنی الرحمان صاحب پاسیدو، خدائے خبر چه څه وانی؟ یو منټ زه خبره کوم غنی الرحمان صاحب، بیا دوئ د جواب راکړی۔ دوئ وانی چه د کوهاټ نه غنم کرک ته هم تلے شی، هنګو ته هم تلے شی۔ سپیکر صاحب، زه تاسو ته دعوے سره وایم چه تاسو سپینه تهانه ورته وانی، محدودی چیک پوسټ دے او د دے نه مخکښې هم یو چیک پوسټ شته، کوهاټ ته تاسو یو بنګے هم نه شے اوړلے د پیښور نه جی۔ هزارها مقدمے قائم شوی دی د کوهاټ په ارهتیانو باندے چه تاسو د پیښور نه اوړه ولے راوړے دی؟ آیا پیښور او کوهاټ چرته بیل ملکونه دی که څه چل دے؟ د کوالټئ باره کښې خو ما تاسوٍ اووئیل چه زه به

تاسو ته سبا د کوهاټ نه ټیکاله راوړم جی چه هغه ټیکاله بیا وزیر صاحب اوخوری، زه به نے اومنم۔ نو زما خو عرض دا دے چه دا کوم غیر لائسنس یافته خلق دی دا د دغه آفریدی فلور مل والا، زاهد فلور مل والا، دوئ وانی چه د دس کے۔جی نه سوا وی نو هغه ته لائسنس ورکو نو دا خو ټول د دس کے۔جی نه سوا دی، د چا سره ایک سو ساٹھ بورئ دی، چا سره بیس دی، چا سره چالیس دی، چا سره اسی دی، نو لائسنس خو یو سره هم نشته جی۔ خپل کسان نے مقرر کړی دی، مسلم لیگیان نے مقرر کړی دی۔

جناب سپیکر، تاسو څه وایئ؟

جناب غنی الرحمان (وزیر آبپاشی)، اورنگزیب خان د فرید طوفان صاحب د ټانم ذکر کوی، نو هغه ټانم کښ خو به ډیر صاف او شفاف تقسیم کیدلو او اوس زما خیال دے --------

جناب افتخار الدین، جناب سپیکر صاحب! -----------

جناب سپیکر، (غنی الرحمان خان) ډیرے ورځے پس د خبره اوکړله او هغے هم څه خوندا او نه کړلو۔ (قہقہے)

Honourable Aurangzeb Khan, MPA, to please ask his Question No. 835. Honourable Aurangzeb Khan, MPA.

*835 _ جناب محمد اورنگزیب خان، کیا وزیر خوراک از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ

(ا) ضلع کوہاٹ کی کل کتنی آبادی ہے،

(ب) آیا یہ درست ہے کہ اورکزئی ایجنسی ایف۔ آر کوہاٹ میں شامل ہے، نیز ایجنسی کی آبادی کی تفصیل بھی فراہم کی جائے،

(ج) ضلع کوہاٹ میں کل کتنی فلور ملز ہیں اور ان کو ماہانہ گندم کا کتنا کوٹہ فراہم کیا جاتا ہے، نیز اکتوبر 1997 تا اکتوبر 1998 تک کی تفصیل فراہم کی جائے،

(د) اگر آبادی کے لحاظ سے مذکورہ کوٹہ کم ہو تو آیا حکومت بڑھانے کا ارادہ رکھتی ہے؟

جناب عفور خان جدون (وزیر خوراک)، (ا) 1998 کی مردم شماری کے مطابق ضلع کوہاٹ کی آبادی 558273 نفوس پر مشتمل ہے۔

(ب) اورکزئی ایجنسی کی آبادی ایف۔ آر کوہاٹ میں شامل نہیں ہے۔ اورکزئی ایجنسی کی کل آبادی 223885 نفوس پر مشتمل ہے اور ایف۔ آر کوہاٹ کی کل آبادی 90806 نفوس پر مشتمل ہے۔

(ج) ضلع کوہاٹ میں اس وقت کل چار فلور ملیں کام کر رہی ہیں اور نئی پالیسی کے تحت تمام فلور ملوں کو چھ باڈی رولر کے حساب سے آٹھ گھنٹوں کیلئے ماہوار 4000 میٹرک ٹن گندم یا یومیہ 160 میٹرک ٹن کے حساب سے گندم کا کوٹہ دیا جاتا ہے۔ اکتوبر 1997 سے اکتوبر 1998 تک تفصل (میٹرک ٹن) مندرجہ ذیل ہے،

| | | | |
|---|---|---|---|
| اکتوبر 1997 | 2776 | نومبر 1997 | 2769 |
| دسمبر 1997 | 2756 | جنوری 1998 | 2756 |
| فروری 1998 | 2713 | مارچ 1998 | 2701 |
| اپریل 1998 | 2701 | مئی 1998 | 2701 |
| جون 1998 | 2701 | جولائی 1998 | 2171 |
| اگست 1998 | 3210 | ستمبر 1998 | 3562 |
| اکتوبر 1998 | 3562 | نومبر 1998 | 4000 |

(د) آبادی کے لحاظ سے ضلع کوہاٹ کی ماہانہ ضرورت گندم بعد از کٹوتی بیج وغیرہ، 3362 ٹن ہے لیکن مذکورہ پالیسی کے تحت ضلع کوہاٹ کی فلور ملوں کو 4000 گندم کا کوٹہ ماہوار دیا جاتا ہے جو کہ آبادی کے لحاظ سے زیادہ ہے۔

جناب محمد اورنگزیب خان، میں وزیر صاحب سے پوچھنا چاہتا ہوں، انہوں نے تفصیل دی ہے جز (د) کے جواب میں کہ "لیکن مذکورہ پالیسی کے تحت ضلع کوہاٹ کی فلور ملوں کو چار ہزار گندم کا کوٹہ (یہ چار ہزار میٹرک ٹن ہے یا کیا ہے؟ پتہ نہیں) ماہوار دیا جاتا ہے جو کہ آبادی کے لحاظ سے زیادہ ہے" تو میں یہ پوچھنا چاہتا ہوں جیسے کہ میں نے پہلے عرض کیا کہ حلقہ پی ایف 29، جو کہ سٹی کا علاقہ ہے اور اس پر سارا بوجھ پڑ جاتا ہے تو آیا ایک آدمی کیلئے روزانہ یہ تقسیم کرکے مجھے بتائیں گے کہ کتنی روٹی آتی ہے، کتنا آٹا آتا ہے اور آیا اس کیلئے کافی ہے یا ناکافی ہے؟

جناب سپیکر، غفور خان! د اورنگزیب خان In a nutshell مطلب دا دے جی، هغوی وائی چه ستاسو خو نی د نفوسو یعنی د آبادئ په لحاظ سره تقسیم کرے دے ------------

وزیر خوراک، 124 کلو گرام ----------

جناب سپیکر، تهیک شو جی- د هغوی اصلی مقصد دا دے چه هغوی داسے وائی لکه پیښور ښار، چه زما Constituency چه ده، هغه یوه City ده نو د هغے تقسیم که تاسو د آبادئ په لحاظ باندے کوئ نو په کاغذ کښی خو د آبادئ په لحاظ تهیک ده خو فزیکلی هلته چونکه هغه ستی ده، هیڈ کوارټر دے نو په هغے باندے بوجه زیات وی نو دا وائی چه د هغے د پاره څه سوچ کول غواړی چه دا کمے پوره شی کنه جی-

وزیر خوراک، جناب سپیکر صاحب! یو منټ خو زما عرض واورئ جی- په اکتوبر 1997 باندے 2776 میټرک ټن وو، په نومبر 1997 باندے 2769 وو، په دسمبر 1997 باندے 2756 وو، په جنوری 1998 باندے 2756 وو، په فروری 1998 باندے 2713 وو د کوهاټ د پاره جی، په مارچ 1998 باندے 2701 وو، په اپریل 1998 باندے 2701، په مئی 1998 باندے 2701، په جون 1998 باندے 2701، په جولائی 1998 باالندے 2171 ' په اگسټ 1998 . باندے 3210 ' په ستمبر 1998 باندے 3562، په اکتوبر 1998 باندے 3562 او په نومبر 1998 باندے 4000 ټن جی- ما ته د دا اووائی چه دومره لویه کوټه چه مونږه کومه کوهاټ ته ورکړه د اکتوبر 1997 نه واخلئ تر نومبر 1998 پورے، تاسو اوګورئ جی په نومبر 1998 کښی چه مونږه کومه کوټه کوهاټ ته ورکړه، هغه مو 4000 ټن ورکړه- هیڅ قسم کمے نشته او چه دوئ د کوم ځائے نشاندهی کوی، دا ممبر صاحب، هلته به مونږه پوره کوو-

جناب سپیکر، بس هم دغه یوه خبره ده چه کوم ځائے کښی فرض کړه کمے وی نو ممبر صاحب به ئے ستاسو په نوټس کښی راولی او تاسو په هغے باندے کارروئی اوکړئ- دا سوال نمبر 835 وو کنه، اورنګزیب خان، 835 تاسو اوکړو کنه؟

جناب محمد اورنگزیب خان، او جی-

Mr. Speaker: Honourable Najmuddin Khan, MPA, to please ask his Question No. 850.

* 850 _ جناب نجم الدین، کیا وزیر خوراک از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ـــ
(ا) صوبہ سرحد میں کل کتنی فلور ملز ہیں، تفصیل فراہم کی جائے،
(ب) مذکورہ ہر ایک مل کو سال 98-1997 میں گندم کا جو کوٹہ فراہم کیا گیا ہے، اس کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے؛

جناب عفور خان جدون (وزیر خوراک)، (ا) صوبہ سرحد میں بشمول قبائلی علاقہ جات 135 فلور ملز نئی پالیسی کے تحت کام کر رہی ہیں۔ (تفصیل اسمبلی لائبریری میں ملاحظہ فرمائیں۔)
(ب) سال 98-1997 میں 123 فلور ملز کام کر رہی تھیں اور ہر ایک فلور ملز کے کوٹے کی تفصیل سالانہ بنیاد پر بنائی گئی ہے۔ (تفصیل اسمبلی لائبریری میں ملاحظہ فرمائیں۔)

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! په دے سلسله کښې زه د جناب منسټر صاحب نه يو تپوس کول غواړمه او هغه دا چه وقتاً فوقتاً دے فلور ملز له د کوټے د ورکولو په سلسله کښې پالیسئ بدلے شوی دی۔ زما په خیال جناب منسټر صاحب د وزارت د سنهبالیدو نه پس یوه پالیسی جوړه کړے وه، په هغے باندے هم څه احتجاج اوشو یا د چا مفاداتو ته به پرے نقصان وو، په هغے باندے عملدرآمد شروع نه شولو۔ اوس هم ډیر خلق داسے دی چه هغوی ملونه جوړوی خو هغوی په تشویش کښې دی ځکه چه د حکومت د طرف نه د هغوی سره څه واضح پالیسی نشته دے او هغوی زمونږ نه بار بار تپوس کوی۔ ما هغه بله ورځ هم دا کوشش اوکړو چه د جناب منسټر صاحب نه ځان پوهه کړم چه کوم کسان تپوس کوی چه هغوی ته څه واضح پالیسی ورکړو۔ دوئ له مخکښې فوډ ډیپارټمنټ او انډسټری ډیپارټمنټ به N.O.C ورکوله د فلور مل د جوړیدو د پاره او د هغے په بنیاد به هغوی ته کوټه ملاویده۔ د دوئ د وینا مطابق هغه NOC اوس دوئ نه ورکوی او خلق ئے دغه شان ته پریښے دی او بیا چه کوم کسان مل جوړوی هغه د عدالتونو د فیصلو په ذریعه باندے هغه کوټه اخلی، نو آیا جناب منسټر صاحب په دے پوزیشن کښې دے چه هغوی مونږ ته دا اوښائی چه د دے د پاره څه واضح پالیسی شته؟ ځکه چه که یو سړے سرمایه کاری کوی جناب سپیکر، نو د هغه دا یقین دے چه د هغے نه پس به هغه ته خپله سرمایه هم واپس شی او آمدن به ورته هم

ملاویدل شروع شی او د روزګار یو ښه ذریعه هم ده۔ خو دا خلق په دے شک کښې دی که چرے مونږه مل جوړ کړو او مونږ ته NOC ملاؤ نه شی او مونږ ته کوټه نه ملاویږی نو زمونږ به څه انجام وی؟ آیا مونږ به د عدالت په ذریعه باندے د خپل حق اغستو کوشش کوو که څه به کوو؟ لهٰذا جناب منسټر صاحب که د دے پالیسئ په رنړه کښې واضح طورما ته دا اوښوے شی چه د دوئ څه پالیسی شته او که نشته؟ او که نشته نو د داسے څه پالیسئ جوړیدو څه اراده ئے شته که نشته؟

<u>وزیرخوراک</u>، جناب سپیکر صاحب! عرض دا دے چه تر اوسه پورے په صوبه سرحد کښې په 98-1997 کښې 123 فلور ملونه وو او هر یو فلور مل ته فی Body به دوئ کوټه ورکوله۔ په پیښور کښې 54 فلور ملونه وو، دوه پکښې نوے راغلل، اوس الحمد للّٰه 56 شو، کوټه ورته ملاؤ شوله۔ مخکښې به چیف منسټرانو ته باقاعده دوئ Applications کول او کال کال، دوه دوه کاله، درے درے کاله به پراته وو یا به تلل کورټ ته۔ دا دوه په پیښور کښې راغلل، په ملاکنډ ډویژن کښې 14 دی، 14 واړو ته، چا نوے مل جوړنه کړو، په هزار ډویژن کښې 35 زاړه وو، اته پکښې نوے راغلل جی، ټولو ته کوټه ورکړے شوله۔ په کوهاټ ډویژن کښې 17 زاړه وو، دوه پکښې نوے راغلل، دواړو له کوټه ورکړے شوه۔ دا ټوټلی 120 وو او 3 ملونه په فاټا کښې وو، ټول 123 وو۔ اوس موجوده 132 په Settled area کښې دی او 3 په FATA کښې دی، ټول 135 فلور ملونه دی۔ نو مونږه هیڅ چا ته دا نه دی وئیلی، چیف منسټر صاحب دا خصوصی مهربانی کړے وه چه د چا ملونه تیار دی نو وئیل ئے چه هغے ټولو له کوټه ورکړئ نو مونږه سپیکر صاحب، ټولو له کوټه ورکړه۔ هیڅ قسمه مونږ د چا مخالفت نه دے کړے او نن په ټول صوبه سرحد کښې چه څومره فلور ملونه دی، هغوی ټولو ته د هغے نوے پالیسئ مطابق غنم ملاویږی جی او Grinding شروع دے۔

<u>جناب سپیکر</u>، نه غفور خان، د هغوی مطلب دا دے چه دا پالیسی به Continue ساتلے کیږی که څه Change به پکښې راځی؟ د کورټ په ذریعه به کیږی که بله به څه طریقه وی؟ زما خیال دے احمد خان مل ته خیال دے نو هغه د مخکښې

نه ----------

جناب احمد حسن خان: جی جناب سپیکر! ----------

وزیر خوراک: زما عرض دا دے جناب سپیکر صاحب، زه احمد حسن صاحب ته ستاسو په وساطت باندے وایم چه هیڅ قسمه په چا باندے پابندی نشته۔ دنیا فلور ملونه شروع دی، انشاء الله چه ټائم راشی، هغوی ته به کوټه ملاؤ شی۔ بل دا ده، آبادی هغه ده، د صوبه سرحد آبادی خو دغه دو کروړ، چه لاکھ ده جی۔ اوس که اته گهنټے مل چلیږی او سات گهنټو ته راغلے نو سبا چه ملونونه ډیریږی نو دا Grinding hours به د هغے کمے کیږی، آخر کښی به دا دوه گهنټو ته راشی۔ ولے چه هغه کوټه به تقسیمیږی په دے ملونو۔ مخکښې په 123 باندے تقسیمیدله، اوس په 135 تقسیمږی۔ درے میاشتے پس چه نور راځی که ډیړه سو شول، بیا به ډیړه سو تقسیمږی، که سبا دو سو شول نو په دو سو به تقسیمږی بلکه مونږه خو دوئ ته دا وانیو چه پرائیوټ سیکټر ته لاړ شئ، غنم پخپله را اوغواړئ۔ غنم پخپله درآمد کړئ، مقابله اوکړئ کور کښې۔ دا ریټ ورته ولے سارهے تین سو سوا کړئ چه دوئ پرائیوټ سیکټر ته لاړ شی۔ پخپله غنم د دوئ درآمد کړی، پخپله د دوئ پسانی شروع کړی۔ د دے ملونو والو پکښی فائده ده او ټول عمر خو دا دومره پیسے نشته چه خپل د دے صوبے د وسائل مطابق دوئ ته مونږ سبسډی ورکوو او هغه د په دوئ تقسیمیږی۔ دغه څیز دے چه کوم زمونږه سټاک دے، دغه به په ملونو باندے تقسیمږی نو جناب معزز ممبر صاحب ته هم، چه انشاء الله تعالیٰ په هیڅ چا باندے مونږه پابندی نه لگوو۔ انشاء الله تعالیٰ که نور جوړ شو، نورو ته هم ورکړو۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! زه د مسنټر صاحب مشکور یم۔ د منسټر صاحب د کاوش او د محنت او د دوئ د منډے یقیناً زه قدرکوم او څه علم راته شته خو زه د خپل ضمنی سوال په سلسله کښی د هغوی د جواب نه مطمئن نه یم۔ Wide, open څیز نے پریښودو چه انشاء الله داسے به کیږی، که داسے نه کیږی نو داسے به اوشی، که هغه شان اونه شو نو بیا به داسے اوشی، دا خو پالسی نه شوه جناب سپیکر۔ واضح پالیسی پکار ده۔ یو سړے کم و بیش یو

کرورړنه زیاتے پیسے لگوی او زما په خیال چه 95 فلور ملز Under consideration دی۔ جناب منسټرصاحب خو دا اوفرمائیل چه دا اوس کوم تکمیل ته رسیدلی دی، د وزیر اعلیٰ صاحب یو خصوصی حکم تحت، خو د وزیر اعلیٰ صاحب خصوصی حکم خو د یو څو ورځو نه جناب ایوسف ایوب صاحب د Discretionary power دا خبره ډیر په زورسره استعمالوی په دے اسمبلئ کښ، هغه خو ټهیک ده، وزیر اعلیٰ صاحب سبا یو خصوصی هدایت ورکوی یا نه ورکوی د چا سره به مے، دا خو دا وزیر صاحب دے چه مونږ به په دے لحاظ سره به نے شکریه ادا کوو چه دے وائی چه تر اوسه پورے ما د ملونو په حساب سره، یره د څه پارټئ دغه ته، د تقسیم په سلسله کښ چه لاندے څه کیږی، هغه مونږه نه وایو خکه نه وایو چه ایوان کښ د دوئ جوابونه په ډیر ښه طریقه سره روان دی او کم از کم د ده، کیدے شی هغه Administration مجبوره وی۔ لاندے ډی۔ایف۔سی، ډی سی، اے سی مجبوره وی او بعضے پارټئ والا کسانو ته کوټه ورکوی د اوږو، بعضے ته نه ورکوی، بعضے سابقه، هغه مونږه نه Discuss کوو۔ د دوئ As a Minister د پالیسئ د حده پورے چه کومه پالیسی ده، اطیمنان بحش ده خو پالیسی د دوئ واضح نشته دے۔ یوه پالیسی نیمه د دوئ راغله، هغے باندے Vested interest والا کسان چه کوم وو، هغه دوئ واپس واغسته۔ اوس دوئ کهلاو پریښوده چه بیا به گهنټے کمیږی۔ اوس جناب سپیکر، دے به د هغه سرمایه کارو د سرمایے او د هغه حقوق تحفظ کوی، د خپلے واضح پالیسئ په رنړه کښ هغوی له به داسے یو څیز ورکوی چه لکه مثلاً دا زاړه کوم کسان دی، دا هم Affect نه شی، چه کوم دا زاړه مل والا دی جناب او نوی هم ورشی؟ بیا دا جناب سپیکر، چه هغه د اوپن مارکیټ نه اخلی نو که د دوئ سره داسے واضح څه وی، څه پوائنټ ورسره وی، څه ایجنډا ورسره وی نو هغه د پالیسئ په شکل کښ راشی چه یو سړی کله سرمایه کاری کړی وی، هغه خپله Feasibility جوړوی نو هغه ته دا پته وی چه سرمایه مے محفوظ ده او آمدن به هم راله راځی نو یا خو د دا اووائی چه مونږه تر اوسه پورے په څه داسے واضح پالیسئ جوړولو کښ کامیاب شوی نه یو، د هر چا خپل

اخیتار دے چه سبا ورته نفع کیږی که نقصان کیږی نو دا هم یوه خبره ده- یو سړے به د هغه پالیسئ Clear شی او یا د اووائی چه نه زمونږ دا پالیسی جوړیدونکی ده، په دومره ورخو کښ به راشی یا زمونږ داسے پالیسی شته، په دے باندے مونږه عمل کوو- ما خو د جناب منسټر صاحب د دے خپل ضمنی سوال د جواب په صورت کښ دا خبره اخذ کړه چه دوئ پرے Clear نه دی، د دوئ سره څه واضحه پالیسی نشته، څه واضح پالیسی جوړول نه غواړی چه کوم به په اختتام کښ، د حکومت څکه سرمایه کارکه فیل شی جناب سپیکر، خو حکومت پرے Automatically فیل کیږی- نو جناب منسټر صاحب که زما دا اطمینان اوکړی زما د دے ضمنی سوال په سلسله کښ، که څه پالیسی Under consideration وی څکه چه 95 Mills under construction دی جناب سپیکر، 95 ، اوس خو دوئ یو څو اووے او هغه به په راروان درے څلور کالو کښ خی او بیا به دا منسټر صاحب تنګوی یا د دوئ نه وروستو چه کوم منسټر صاحب وی، هغه ګورنمنټ به تنګوی- داسے یو فراخ دله چیف منسټر صاحب به نه وی لکه دا اوس نے چه څنګه هر چا له ورکړه، سبا کیدے شی چه نه ورکوی نو لهذا زه د هغه نه په یو Clear cut پالیسئ تحت دا یوه یقین دهانی غواړم چه څه صورتحال به وی سبا د هغے Mills owners چه کوم نے نن جوړوی، تکمیل ته نه دی رسیدلی، کوم د جوړولو اراده لری، کوم چه سرمایه کاری کوی، د هغوی د سرمایے او د هغوی د مستقبل به څه حال وی؟ زما دا یو واضحه جواب پکار دے-

<u>وزیر خوراک</u>، جناب سپیکر! ما خو مخکښ دوئ ته عرض اوکړو چه 123 ملونه نه وی، اوس ترے جوړ 135 دی او که میاشت پس، دوه میاشتے پس نور جوړشول، مونږه خو څه پابندی په چا نه ده ایښودے، مونږه خو چا ته نه وائیو چه ته مل جوړوه، دوه کروړه، یو نیم کروړ روپئ لګوه- ستا خو 5790 ټن، چه هزار ټن غنم دی، که دوه سوه ملونه جوړیږی نو په دوه سوو به تقسیمیږی، که درے سوه جوړیږی، په درے سوه به تقسیمیږی- سوا غنم خوورکولے نه شئ- خپلے آبادئ ته اوګورئ، دو کروړ، چه لاکه خلقو له ته ورکوے که تاسو غواړئ چه پابندی پرے کیږدئ نو مونږ ته څه دغه ده، مونږه

خوداِیو چه چا جوړ کړی دی غریبانو، پیسے پرے چا اولګوے، هغوی له ورکړئ- اوس جناب سپیکر صاحب، فاټا کښ درے ملونه دی او د فاټا ټول غنم په پېښور کښ، په چارسده، په هنګو، په بنوں او په ټانک کښ Grind کیږی نو دا هغوی له د ورکړی چه هلته کښ د Grinding کیږی، نو د هغوی خپل کیږی چه هلته کښ د Grinding د هغوی خپل کیږی- غنم د هغوی خپل دی، سبسډی مرکزی حکومت ورکوی نو په هغے کښ خو مونږه په چا باندے پابندی نه ده ایښودے ---------

جناب بشیر احمد بلور: سپیکر صاحب! پوائنټ آف آرډر-

جناب سپیکر: یوه خبره زه ستاسو په نوټس کښ راولم جی، اصولاً ټائم ختم دے د Questions' Hour او بار بار تاسو د هغے نه دغه شوئ-------

جناب بشیر احمد بلور: سپیکر صاحب! پرون هم باره بجے پورے تاسو مهربانی کړے وه نو اوس به هم مهربانی اوکړئ-

جناب سپیکر: نه، دا مهربانئ خو ورخ نه شی کیدے- چه ما مهربانی کړے وه اوس د هغوی سوالونه پاتے کیږی او تاسو په پوائنټ آف آرډر پاځئ یو، یو- نه داسے خو نه ده کنه جی- بس ټهیک ده چه تاسو اوکړئ پوائنټ آف آرډر، And I am going to adjourn the sitting for tea break. تاسو د خپلو ملګرو حقونه پخپله وهئ، عجیبه خبره ده- د دے نه پس، After tea بیا هم راخو کنه-

جناب بشیر احمد بلور: داسے Important څیز دے، اصل کښ په دے کښ دا کونسچن لږ داسے وو چه دوئ ونیل چه دا مونږ پالیسی نه ده جوړه کړے نو دا د خلقو Investment به چرته څی؟ د خلقو دا لیبر به چرته څی؟ د بینکونو نه خلقو پیسے اخستے دی، بیا هغه Defaulters شی، بیا هغه ملونه نیلامیږی، د هغے د پاره دا یوه سټینډرډ پالیسی پکار ده چه هر څوک جوړوی نو دوئ به ورته غنم ورکوی نو باقی کارخانه دار به څه کوی؟ نو په دے باندے څه خبره اوکړی-

Mr. Speaker: Honourable Haji Bahadar Khan, MPA, to please ask

his Question No. 861.

*861 _ حاجی بہادر خان، کیا وزیر خوراک از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ـــــ
(ا) ضلع دیر میں کل کتنی فلور ملز ہیں،
(ب) صوبہ سرحد میں ہر ضلع کو کل کتنی گندم دی جاتی ہے،
(ج) ضلع دیر میں فلور ملز کو کتنی گندم دی جاتی ہے، نیز مذکورہ ضلع میں آٹے کی کوالٹی ، کو چیک کرنے کا کوئی بندوبست ہے، تفصیل فرہم کی جائے؟

جناب غفور خان جدون (وزیر خوراک)، (ا) ضلع دیر میں کل چار فلور ملز کام کر رہی ہیں۔
(ب) موجودہ نئی پالیسی کے تحت صوبہ سرحد میں ہر ضلع کو ماہانہ مندرجہ ذیل گندم کا کوٹہ دیا جاتا ہے،

| نمبر شمار | ضلع کا نام | ماہانہ کوٹہ۔ |
|---|---|---|
| ۱۔ | پشاور | 27495 - |
| ۲۔ | نوشہرہ | 5774 - |
| ۳۔ | چارسدہ | 10584 - |
| ۴۔ | مردان | 11548 - |
| ۵۔ | صوابی | 1925 - |
| ۶۔ | ملاکنڈ | 4696 - |
| ۷۔ | دیر | 5659 - |
| ۸۔ | سوات | 7074 - |
| ۹۔ | بونیر | 1415 - |
| ۱۰۔ | ہری پور | 9625 - |
| ۱۱۔ | ایبٹ آباد | 8625 |
| ۱۲۔ | مانسہرہ | 7625 - |
| ۱۳۔ | بٹگرام | 1500 - |
| ۱۴ | شانگلہ | 750 - |
| ۱۵۔ | کوہاٹ | 4000 - |
| ۱۶۔ | ہنگو | 3000 - |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷- | کرک | 2000- |
| ۱۸- | بنوں | 2000- |
| ۱۹ | لکی | 1833- |
| ۲۰- | ڈی آئی خان | 3646- |
| ۲۱- | ٹانک | 875- |
| ۲۲- | چترال | 1800- |
| ۲۳- | کوستان | 1000- |

(ج) ضلع دیر میں فلور ملوں کو نئی پالیسی کے تحت ماہانہ گندم کا کوٹہ 5659 ٹن دیا جاتا ہے۔

ڈسٹرکٹ فوڈ کنٹرولر ہر فلور مل کی آٹے کی کوالٹی کو باقاعدگی سے چیک کرتے ہیں اور اس کے علاوہ ضلعی انتظامیہ بھی وقتاً فوقتاً فلور ملوں کو چیک کرتی ہے۔ ڈسٹر کٹ فوڈ کنٹرولر نے گزشتہ تین ماہ کے دوران مندرجہ ذیل فلور ملز چیک کرنے کے بعد آٹا اور گندم کے نمونہ جات لے کر فوڈ لیبارٹری کو برائے تجزیہ بھجوائے ہیں:

| نمبر شمار | تاریخ | نام فلور ملز جو چیک کئے گئے۔ | آٹا گندم لیا گیا | نتیجہ نمونہ آٹا گندم۔ |
|---|---|---|---|---|
| ۱- | 8.8.98 | چکدرہ فلور ملز | 2=1+1 | دونوں پاس ہوئے۔ |
| ۲- | do | فواد فلور ملز | 2=1+1 | Do- |
| ۳- | 16.9.98 | پنجکوڑہ فلور ملز | 2= 1+1 | do - |
| ۴- | 28.9.98 | اتحاد فلور ملز | 2= 1+1 | do- |
| ۵- | 3.10.98 | do | Do نمونہ نہیں | ___ |
| ۶- | 7.10.98 | چکدرہ فلور ملز | Do لیا گیا | ___ |
| ۷ | !2.10.98 | پنجکوڑہ فلور ملز | Do | ___ |
| ۸- | 13.10.98 | چکدرہ فلور ملز | 2=1+1 | دونوں پاس ہوئے۔ |
| ۹- | Do | فواد فلور ملز | 2=1+1 | Do- |
| ۱۰- | 14.10.98 | اتحاد فلور ملز | نمونہ نہیں لیا گیا۔ | Do- |

حاجی بہادر خان: په دے نورخو ټول تفصیل دوئ ورکړے دے چه ما کوم غوښتے دے خو ما چه د سوال په جز (ج) کښې څه تپوس کړے وو نو د دے تفصیل نے نه دے ورکړے، دے کښې تیاره ده۔ زه منسټر صاحب ته خواست کومه چه دا د کمیټئ ته

حواله کړی او د دے هغه تیاره به ورته زه اوښایمه، بیا به پته اولګی۔

جناب سپیکر، ہاں جی، آنریبل منسٹر!

حاجی بہادر خان، د هغے تفصیل نے نه دے ورکړے ----------

جناب سپیکر، دا تیاره Explain کړئ جی۔

حاجی بہادر خان، د ضلعے تفصیل نے ورکړے دے، سر ----------

جناب فرید خان طوفان، جناب سپیکر صاحب! ----------

حاجی بہادر خان، خو د فلور مل تفصیل نے نه دے ورکړے۔ ما لیکلی دی چه دوئ په غونده څه ورکړی دی د ټولے ضلعے او ما د هر فلور ملز بیل بیل کوټے تفصیل غوښتے دے نو دے کښ یو پوټے تیاره ده۔ نو زه به بیا تا ته په Meeting کښ اوښایم که خیر وی، زه هم په دے فوډ کمیټئ کښ ممبر یم۔ نو دا کمیټئ ته حواله کړه، سر۔ زه Request کومه ستاسو په وساطت سره۔

جناب فرید خان طوفان، جناب سپیکر صاحب! بهادرخان چه د کوم سوال پښته کړے ده او کمیټئ ته ئے حوالے کوی، چیف منسټر صاحب پاڅی، دا دے جواب کوی۔ یوه خبره چه متعلقه ده، غیر متعلقه ده خو تاسو دا سوال، د فوډ ډیپارټمنټ چه دا د څومره سوالونو جوابونه راغلل او وزیر صاحب کومے طریقے سره جوابونه ورکړل، ډیر په ښه طریقے سره او حقیقت دا دے چه وزیر صاحب ډیر محنت هم کوی او لږ ئے قسمت هم ښه دے۔ (تالیاں) قسمت ئے په دے حوالے سره ښه دے چه داسے وخت کښ وزیر شو چه دا ټول Crisis تیر شوی دی او اوس د هغے تیر Crisis په نتیجے کښ چه کوم اقدامات شوی وو، اوس چه دے راغے د خوش قسمتئ نه په آخر سر کښ، نو هغه هم ورته حالات ښه دی او ممبران ټول ورسره ډیر تعاون کوی----

جناب فرید خان طوفان، زه ډیره Serious خبره کوم پیر محمد خان صاحب، دا سوال داسے دے د فوډ ډیپارټمنټ دا بنیادی ټول سوالونه چه ته راغونډ کړے۔ یو څیز چه بشیر خان چه پرے اودریدو، زه چه یو دوه خبرے کول غوارمه، د وضاحت په طور باندے اودریدیمه چه د کوهاټ ضلعے خبره راغله، په هغے کښ دوئ د تیر یو یو میاشتے Releases چه کوم دی او بیا آخر کښ چه کوم

کوټے زیاتے شوی دی، دا جی داسے چل دے چه دا ټول Alloted کوټے چه وے، دا هغه وخت کښ چه کله پنجاب نه اوره راتلل نو د دے خانے Releases ملونو ته کم کیدل او پلس به د پنجاب کوټه وه۔ اوس چه دا وزیر صاحب راغے نو د دوئ په دورکښ د پنجاب کوټه بند شوه او د پنجاب نه چه کوټه بند شوه نو دوئ خو ضلعو کښ خلقو ته د اورو مقدارکمولے خو نه شو بیا به Crisis پیدا کیدو نو دوئ Releases ورته زیا ت کړل نو هغه کمی ئے پوره کړه۔ په دے درے میاشتو کښ چه په کوهاټ کښ دا کوټه زیاته شوے ده، دا خکه زیاته شوے ده چه د پنجاب اوره بیخی بند شول نو دلته کښ دا کوټے خکه زیاتے شوی دی۔ جناب سپیکر! د ملونو مالکان دلته کښ ناست دی، زه د هغوی د پریشر، د هغوی د دباؤ نه هم خبر یمه، چه د هغے په نتیجے کښ څه جوړیږی، په هغے هم پوهیږمه، وزیر صاحب ته د خدائے پاک همت ورکړی خو زه همیشه د ملونو د روپے نه کله هم مطمئن نه یمه پاتے شوے کله چه زه وزیر وومه خو زه یوه خبره دا کومه چه دا Industry چه کومه ده، د دے صوبے ده۔ دا مل چه دے، فلور مل دے، د دے مالکان چه دی، د دے صوبے دی۔ اوس دا یو مل چلیدو د پاره چه پینځه گهنټے کوم مل چلیږی نو هغه خپل اخراجات او خپله مناسب گټه هغه کیدے شی په هرے ورځے باندے زمونږ په صوبے کښ چه پانچ هزار ټن Releases اوشی نو خلقو ته به Crisis وی، کمی به وی، که د چه هزارنه پاس Releases کیږی نو عد م دستیابی چه ده، نو دا به ختمه شی۔ اوس چه فی مل د پاره، 123 ملونو ته کوټه ورکیده نو پانچ هزار Releases کیدے شو، سارهے چار هزار ته مونږ راوستے وو چه هغه وخت کښ چه Crisis وو او دا وایمه چه که 123 ملونو ته مناسب کوټه ورکیږی چه اوه گهنټے، شپږ گهنټے چلیږی نو دوئ به چه هزار Releases کوی۔ چه چه هزار Releases کیږی نو دوئ سره به غنم کمیږی۔ اوس چه دوئ ملونه زیاتوی، کوټه ورته ورکوی جناب سپیکر صاحب، نو ملونو ته خو به کوټه ملاو شی‌خو د ملونو دورانیه چه کومه ده، د Grinding time چه دے، دا به کمیږی۔ نو چه Grinding time کمیږی نو 123 ملونه به سر خوری او باقی نور ملونه چه کوم دی، د هغوی څه به کیږی Result کښ؟ جناب

سپیکر صاحب! پالیسی، منصوبه بندی دا ده چه کوم اول کښی زمونږه سردار مهتاب عباسی صاحب، دا غفور خان جدون صاحب د راتلو سره د ټینډر نظام راوستو چه دے کښی چه کوم لوئے خلق دی، کم قیمت باندے د Grinding کوی، هغوی ته د کوټه ورکړے شی- په هغے باندے ملونو والو احتجاج اوکړو- د دے Result به دا راځی چه کوم Releases اوس کیږی چه هزار ټن، دا به دوئ بیا په ټینډر باندےکوی او ټینډرکښی بیا هغه خلق اخلی چه کوم خلقو سره پیسے وی، ملونه به د هغه خلقو چلیږی- په دے صوبے کښی بیا په آخر نتیجے کښی چه چا سره پیسے وی او ټینډرکښی مقابله کولے شی او د عامو خلقو ملونو به بند شی- Industry به د دے صوبے تباه شی- یوه Industry چه کومه ده، زه دا وایمه چه زه غفور خان صاحب ته یو تجویز کیږدمه چه دا دے ملونو ته د Releases کوم System چه دے او دا د ټینډرو نظام چه کوم دے، دا ستا د پاره یو Complication پروت دے، یوه مسئله درته پرته ده، دا مسئله حل کولو د پاره چه د دے صوبے مفاد په نظر کښی اوساتے، هغه ډیره زیاته ضروری ده خکه چه نن د دے صوبے حکومت د سره خفه کیږی نه، په تیرو دوو میاشتو کښی درے پالیسئ راغلی دی- یوه پالیسی راغله چه ډیره، شاید چه زما به ورسره اتفاق وی خو د ملونو مالکانو د هغے خلاف احتجاج اوکړو- د فلور ملز ایسوسی ایشن صدر چه کوم دے، هغه هم د مسلم لیگ دے او وزیر نے هم د مسلم لیگ دے، چیف منسټر هم د مسلم لیگ دے، دوئ د کبنینی، د دے صوبے په مفادو کښی دے یو منظمه، دا یوه خبره ما کول غوښتل- زه ډیر مشکور یم چه تاسو ما له موقع راکړه-

جناب سپیکر، غفور خان! دا بشیر خان د دے مسئلے هم جواب ورکړئ چه هغوی وائی چه که ستاسو دومره دغه زیات شی نو دا کروړها روپئ چه کومو ملونو لګولی دی، یو منټ جی --------

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! ---------

جناب بشیر احمد بلور، ما د رول 48 لاندے نوټس ورکړو چه باقاعده هغے باندے خبره اوکړو ولے چه تاسو زه هډو خبرو ته پوینبودمه نه نو مونږه بیا نوټس ورکړو ---------

جناب سپیکر: داسے کار دے بشیر خان --------

جناب بشیر احمد بلور: او فرید صاحب تقریباً پنځلس منټه تقریر اوکړو او تاسو څه اعتراض اونکړو۔

جناب سپیکر: نه، فرید خان هم زیاتے اوکړو۔ فرید خان له هم پکار وه چه سپلیمنټری کوئسچن ئے کړے وے او بیا ما ته یه دے کښې --------

جناب فرید خان طوفان: زه معافی غواړم که ما زیاتے کړے وی خو ما یو ضروری خبره کول غوښتل۔

جناب سپیکر: او بیا ما ته یه دے کښې هیڅ فرق نشته دے خو چونکه --------

جناب بشیر احمد بلور: څنګه چه تاسو حکم کوئ خو ناجائزه مو کړے وه، زیاتے مو کړے وو خو بس --------

جناب سپیکر: الله ګواه دے که هیڅ فرق پکښې شته۔ په دواړو کښې څه فرق نشته۔ فرید خان هم بالکل زیاتے اوکړو۔ It was not a supplementary question. دا Suggestion او دا قصے چه دی نو دا مهربانی اوکړئ چه دا مه کوئ او بس۔ سوال دے، بهادر خان راپاڅی پکښې، حاجی صاحب راپاڅی پکښې، بشیر خان، خپل خپل سوالونه ولے نه ورکوئ تاسو؟ Why don't you? دا خو مصیبت دے، هغه غریب هلته چغے وهی چه زه په خائے پاتے شوم، هغه دے ولاړ دے چه تاسو د څه وخت نه پاسیدلئ یئ او هغه ولاړ دے، لا ناست نه دے۔ شاته خو مونږه ګورو نه۔ هم دے د پاره چه د هغه کوئسچن دے او د هغه جواب په خائے پاتے شی او مونږه پکښې نور راشو۔ دا ستاسو خوښه ده که تاسو دا Allow کوئ، ما نه وروستو ګله مه کوئ۔ نن زه تاسو ته یو دوه خبرے ډیرے صفا کوم۔ ما ته د خپلو ممبرانو، د خپلے پارټئ د ممبرانو، د اتو کسانو ګلے رارسیدلے دی چه سپیکر صاحب زما شے نه اخلی۔ خو ظلم دا دے که د سپیکر صاحب کمرے ته راشئ او اوګورئ چه که ما چرته بے نمبری کړے وی، د چا نمبر مے مخکښے کړے وی او هغے کښې ما څه هم دغه کړی وی، With the exception چه یو خل نیم به مے داسے کړے وی هغه هم د ډیر اهمے وجه نه۔ خو هغے کښې دوه خبرے دی، یو په هاؤس کښې

وی لیډر آف دی هاؤس او یو وی لیډر آف دی اپوزیشن، نو رولز کښې هم دا Provision شته چه لیډر آف دی اپوزیشن چه کومه ایجنډا ورکوی او په کومه طریقه غواړی، هغه به کیږی۔ دغسے Respect د لیډر آف دی اپوزیشن هم دے۔ دا د ډیموکریسی یو دغه دی۔ نو مهربانی اوکړئ، دا جناؤل بالکل په ما باندے مه کوئ چه یو وانی هغه ته زیات ملاؤ شو او بل وانی هغه ته زیات ملاؤ شو۔ زه به بالکل تاسو له In future چه کوم یو پاڅئ، دومره ټائم به درکوم چه څه وی خو دا بقایا ذمه واری به تاسو اخلئ، زه ئے نه یم ذمه وار ولے چه دا اوس زه په ټائم نه پاڅم۔ نن په لس نیمے سیشن شروع شوے دے، سارهے گیاره بجے باندے Questions' Hour ختم دے۔ لس منټه کم دولس شوے، د بهادرخان غریب د سوال جواب نه دے شوے۔ اوس چه زه پاڅم بیا ورپسے ایډجرنمنټ موشن دی، بیا دغه دی، هغه به ټول پاتے کیږی۔ زه به په دوه بجے پاڅم۔ پریس والو نن هم راته Request کړے دے چه پرون هم تا د دوه بجو نه پس کار کړے دے، مونږه به بیا نه کوؤ۔ نو داسے خو جی آخر خپل کار ته اوگورئ او بیا التا بدنامی زما کیږی۔ یو گله کوی چه هغه مونږ پکښې مونږ لاړ شی نو مهربانی اوکړئ د بهادرخان د خبرے جواب ورکړئ۔

وزیر خوراک: جناب سپیکر صاحب! که تاسو ---------

جناب فتح محمد خان (وزیر جنگلات): هغه ستاسو خبره چه غلطی ټوله مونږه اوکړو او آخر سر کښې هغه گنهگار تاسو یئ کنه۔ د هغے وجه دا ده چه هغه ابتداء کښې چه د کله نه د سوالونو جوابونه شروع شو نو د هغه د سوال جواب په طریقه نه وو۔ د اورنگزیب خان چه هغه بحث مباحثه وه د ده او د وزیر صاحب په مینځ کښې نو هغه وخت کښې ما دوه درے خله زړه غوندے کړو چه زه خبره اوکړم خو ما وئیل چه هسے نه چه اورنگزیب خان خفه شی۔ پکار دا دی چه هر یو سړے چه کونسچن کوی؛ چه کونسچن Simple وی او د هغے صرف ----------

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! اوس ستاسو طبیعت ښه شو کنه۔ جناب سپیکر! ما وئیل چه څه کسر پاتے وو نو هغه فتح محمد خان صاحب پوره کړو۔ ما عرض دا کوؤ چه مونږه خو لږ په رولز پوره نه پوهیږو، هلته

منسټر صاحب پرون مونږ ته دیر په فراخدلئ سره دا اووئیل چه تاسو پرے په ګهنټو بحث اوکړئ نو مونږه په هغه غلطئ کښې لاړو، نو معافي غواړو۔

<u>جناب سپیکر</u>: منسټر صاحب هم لږ زیات تیار راغلے دے، هغه هم دیر بحث کوی خو یوه خبره ده، جواب ئے لنډ ورکوه، دومره اوږد کیږه مه ورته۔

<u>وزیر خوراک</u>: جناب سپیکر صاحب! په جز (ا) کښې ده لیکلی دی چه "ضلع دیر میں کل کتنی فلور ملیں ہیں" نو مونږه ورته وئیلی دی چه څلور دی۔ بیا وائی چه "صوبہ سرحد میں ہر ضلع کو کل کتنی گندم دی جاتی ہے" ن و مونږه هغه تفصیل مکمل ورکړے دے۔ دے که دا تفصیل پخپله اوګوری، ده چه څه غوښتی دی، هغه ده له مونږه جواب ورکړے دے۔

<u>حاجی بہادر خان</u>: جز (ج) د اوګوری، سر --------

<u>وزیر خوراک</u>: (ج) به درله اوګورو ----------

<u>حاجی بہادر خان</u>: ما سره فوټو سټیټ شته دے چه ما کوم سوال ورکړے دے۔

<u>وزیر خوراک</u>: جواب ته ما پریږدے کنه؟

<u>حاجی بہادر خان</u>: هغه ئے ترے پټ کړے دے۔ په (ج) کښې ئے ترے پټ کړے دے۔

<u>وزیر خوراک</u>: جواب درکوم، جواب درکوم کنه۔ جواب خو واوره، که مطمئن نه یے، نو بیا دے وائی چه "ضلع دیر میں فلور ملوں کو کل کتنی گندم دی جاتی ہے، نیز مذکورہ ضلع میں آٹے کی کوالٹی کو چیک کرنے کا کوئی بندوبست ہے" نو مونږه ورته لیکلی دی چه 5659 ټن مونږه ورکوؤ نو د دے مطلب دا دے چه دا ستاون هزار بورئ شولے، دا ضلع دیر ته ملاؤیږی او انتظامیه او ډی ایف سی ګان د فلور ملونو چیک اپ کوی او دواړو د اوړو او د غنمو نمونے هم اخلی او چه اوس پورے ده کوم غوښتی دی، تاریخونه ئے هم ورکړے دی د هر یو مل مخے ته او هغه بقایا چه د دوئ کوم کمے دے، هغه ورله مونږه د ملاکنډ ډویژن نه پوره کړے دے۔ په دیر کښې د اوړو هیڅ قسم کمے نشته دے او چه څومره د ده ضرورت دے، د دوئ ضرورت چه کوم دے 9000 -----

<u>جناب سپیکر</u>: بہادر خان! واورئ نو بیا ورته جواب ورکړئ۔

وزیر خوراک، د دیر د غنمو ماهانه ضروریات 9474 ټن دے، د دوئ د دیر ضرورت چه کوم دے، دوئ له مونږه ورکوؤ 5659 ټن۔ دا د دوئ دا کمے چه مونږه پورا کوؤ یا د ملاکنډ ایجنسئ نه پوره کوؤ، د نورو فلور ملونو نه مونږه پورا کوؤ۔

جناب محمد شعیب خان، دا د ملاکنډ راته جی واضحه کړئ چه دا ملاکنډ بیا څه ګناه کړے ده، د هغے نه ئے ولے کټ کوئ؟

وزیر خوراک، د دے نه علاوه د دوئ خپل پیداوار هم دے۔ په ملاکنډ کښې ملونه ډیر دی، د هغوی د آبادئ په لحاظ باندے ملاکنډ ته هم خپل ملاوئینږی چه کوم د هغوی نه سوا کیږی هغه مونږه ورکوؤ دیر ته او هر یو --------

حاجی بهادر خان، دا جی زه لنډوم کنه، بس لنډه ختم کیږی۔ که وزیر صاحب زما دے ته لږ غوږ کیښودو۔ زما په خیال کښې چه هغه کوم غلط دے نو زه ئے ورته ښایم کنه۔ ما سره فوټو سټیټ دے د دے خپل سوال۔ ما جی لیکلی دی چه کیا وزیر خوراک ارشاد فرمائیں گے کہ (ا) ضلع دیر میں کل کتنی فلورملیں ہیں، (ب) صوبے میں ہر ضلع کو کل کتنی گندم دی جاتی ہے، (ج) ضلع دیر میں ہر فلور مل کو کتنی گندم دی جاتی ہے، تفصیل بتائی جائے؟ دا پکښې شته دے؟ ستا په دے کښې نشته دے جی۔ "ہر فلور مل میں"، زه درله فوټو سټیټ درکوم۔ دا ئے ترے پټ کړے دے۔ "ہر فلور مل میں"، ضلع دیر مے ورته ونیلے دے۔ څلور ملونو ئے راته هم ښودلی دی۔ دا ئے هم راته ونیلی دی چه زمونږه ضلع دیر له څومره کوټه راکوی او دا ئے راته نه دی ښودلی چه دے مل له څومره ورکوی؟ اوس دا نور ئے ټهیک دے خو دے کښې تیاره ده او بل چه تاسو کومے کوټے په جنډول کښې ورکړے دی، هلته کښې سر، ستاسو په وساطت دوئ ته زه دا Request کوم چه مونږ سره افغانستان او باجوړ ایجنسئ په باونډرئ پرته ده۔ په هغے کښې په خپل صوابدید باندے انتظامیه او خوراک والا خپل ډیلران مقرر کړی دی۔ چه په هغے کښې کوم مونږه د انتظامیے په Through باندے مقرر کړی دی نو هغه ټهیک دی، هغه اوږه هغه خلقو له ورکوی خو چه کوم انتظامیے او فوډ والو کړی دی نو هغه ئے په دغه افغانستان او په دے ایجنسئ باندے باقاعده

په سمګلنګ خرڅوی، نو دا ټوله اصلاح به پکښې اوشی۔ تاسو ته به پته اولګی او زه به نے درته اوښایم۔ صرف دا کمیټئ ته حواله کړئ، زه به درته هغه تیاره اوښایم کنه، تا ته به نے پته اولګی کنه۔ تا ته په دے کښې څه اعتراض دے؟

*جناب احمد حسن خان،* پوائنټ آف آرډر۔ مسټرسپیکر! دے سلسله کښې ستاسو په خدمت کښې عرض کوم۔ پرون هم د بهادرخان صاحب یو سوال وو د پی ایند ډی متعلق، دلته چه کله هغه جواب ورکوؤ نو ما د هغه امداد کول غوښتل نو چه بیا هغه کومه خبره کوله نو ما چه به ورته خبره کوله، هغه به د دے سره اتفاق نه کوؤ او مونږه په خپل مینځ کښې لګیا وو۔ نو چه دے پاڅیدو نو په مخه نے اوونیل چه دا خبره داسے نه ده۔ نو چه بیا مونږه سوال اوکړو جناب سپیکر، چه کوم سوال ده ورکړے وو نو هغه شان سوال د ده اسمبلئ نه باقاعده هغه شان تلے دے خو چه هغوی کوم په جواب کښې کوم سوال رالیږلے دے، نو په هغے کښې ډیر واضح فرق وو۔ نو د ده هغه Purpose نے نه Serve کوؤ۔ اوس که ده په دے سوال کښې، د ده سره فوټو سټیټ شته، دا لیکلی دی چه هر فلورمل یعنی دے په ضلع ډیر کښې د هر فلورمل کوټه غواړی څکه چه ده ته شاید چه دا خدشه وی چه بعضو ته زیات ملاویږی او بعضو ته کم یا ما ته حق نه ملاوؤیږی نو زه ستاسو په خدمت کښې دا عرض کوم چه تاسو خپل سیکرټریټ او د خپلے مهربانئ پیش نظر محکمے ته دا هدایت اوکړئ چه سوال څنګه هغوی ته راشی، هغه شانته بیرته Reflect کیږی۔ یو په هغے کښې جناب سپیکر، Grammatical څه غلطی وی نو هغه ټهیک خبره ده خو چه د هغے کوم مقصد وی نو هغه مقصد بیا فوت شی۔ بهادرخان ماما دا خپله خبره صحیح واضحه نه کړے شوه، زما ستاسو په خدمت کښې او د منسټر صاحب په خدمت کښې صرف دا عرض دے چه سوال هغه شانتے بیرته نه دے Communicate شوے د محکمے نه لکه څنګه چه بهادر خان ماما اسمبلئ ته ورکړے دے۔ دا ما صرف ستاسو په خدمت کښې عرض کولو۔

*حاجی بهادر خان،* دا غلط دے، کنی ده سره نے که وضاحت وی نو ما ته د اوس اوښائی چه په ضلع ډیر کښې دا کوم فلور ملونه چه نے ورکړی دی، د دے وضاحت د راته دے اوکړی چه بیا نے هر یو مل له څومره څومره ورکړی

دی؟

وزیر خوراک: زما عرض دا دے جناب سپیکر صاحب، چه هر یو مل ته 1412 ټن مونږه ورکوو ماهانه- هیڅ په ملونو کښې فرق نشته دے- څلور ملونه دی او په دے کښې زه تاسو ته تفصیل وایم جی، د ملاکنډ خپل Requirement دے 2972 ټن، زما یو عرض واورئ، لږ وار اوکړئ، 2972 ټن د ملاکنډ خپل Requirement دے، اوس د ملاکنډ په ملونو کښې 4696 ټن Grinding کیږی- دا اضافی کوټه مونږه دیر ته هم ورکوو او سوات ته هم ورکوو- د هر یو مل Grinding hours اته گهنټے دی- که دوئ وائی چه په دیر کښې د باره گهنټے کیږی او د ملاکنډ دا زمونږه کوټه د هلته څلور گهنټے شی او دیر کښې د ے باره گهنټے شی- دا یوه پالیسی ده- هر مل له مونږه ټائم مقرر کړے دے- مونږه ټولو سره مساوی سلوک ساتلے دے- د دوئ چه کوم کمے دے، هغه د ملاکنډ نه پوره کیږی- د دیر 5659 ټن هغوی په خپل ملونو کښې پسانی کوی او دا بقایا د دوئ چه کوم اضافی لگی د آبادئ په لحاظ باندے، دا ورله د ملاکنډ نه ورکوو- دا د دوئ سوال دے، سوال کښې هیڅ قسم فرق نشته دے جی-

حاجی بهادر خان: زما د ملاکنډ یا د سوات سره څه کار نشته دے- زه دا نه وایم چه ته ملاکنډ له مه ورکوه یا مونږه له ډیر راکړه او هغوی له لږ ورکړه، د دغے سره مے غرض نشته دے- زما د دے سره غرض دے چه زمونږه په ضلع دیر کښې څلور فلور ملونه، دوئ وائی چه دی، ما دا ونیلے دی چه هر فلور مل له څومره څومره کوټه ورکوئ؟

وزیر خوراک: زه دا وایم چه 1412 ټن ورکوو- ما خو درته اووے-

حاجی بهادر خان: ټولو له نه کنه، یو یو درته ښایم-

وزیر خوراک: هر یو مل ته 1412 یره-

حاجی بهادر خان: نه دے کنه، نو بیل بیل دی کنه- غلط دے- یو مل له پکښې زیات ورکوی، نورو له کم ورکوی کنه-

وزیر خوراک: بالکل 1412 جی- دا په ریکارډ دی جی-

حاجی بهادر خان: زه ورته ښایم چه غلط دے- زه ورته تفصیل ښایم چه غلط

دے۔ ته نے کمیټئ ته حواله کړے نو زه به نے تا ته اوښایم۔

وزیر خوراک: کمیټئ ته نے ولے حواله کړم۔ د کوم قانون لاندے نے زه کمیټئ ته حواله کړم؟ ما ته د هغه رول ---------

جناب سپیکر: غفور خان! دا ډیره Simple خبره ده۔ تاسو ته دا اعداد و شمار ډیپارټمنټ درکړے دے، تاسو خو Physically هر یو مل ته نه شئ تلے۔ ډیپارټمنټ تاسو ته یو مقدار درکړے دے چه 1400 ټن یا څومره مونړه Per mill ورکوؤ، آنریبل ممبر Insist کوی چه برابر نه ملاوېږی۔ هم د دیر خبره کوی چه د هغوی کوم حق دے، چه تاسو څنګه اوونیل چه هر یو ته مونړه 1400, 1400 ورکوؤ نو هغه دا Insist کوی چه هر یو ته 1400, 1400 نه ورکوی، دا جواب تاسو ته غلط راغلے دے۔

وزیر خوراک: بالکل سپیکر صاحب! زه په ریکارډ خبره کوم -------

حاجی بهادر خان: څکه خو نے نه دی لیکلی کنه۔ دلته ما ته نے په سوال کښ څکه لیکلی نه دی۔

وزیر خوراک: زه په ریکارډ خبره کوم چه 1412 ټن هر یو مل ته مونړه ورکوو۔ بالکل ټول ملونو والا زمونړه رونړه دی۔ زمونړه یوه مساوی پالیسی ده۔ مونړه ایډیشنل کوټے یا اختیاراتی کوټے بالکل ختم کړی دی جی۔ هیڅ قسم کوټه چا ته نه ملاوېږی۔ په ټول ایریا کښ یو Grinding hours دی، په چارسده کښ، په پیښور کښ، په کوهاټ کښ، بنوں کښ ------

جناب سپیکر: بهادر خان! یو بل Solution نے راغوړرو۔ داسے Solution نے کوؤ چه کوم مل والا ته کمه ملاوېږی لکه څنګه چه منسټر صاحب تاسو ته جواب درکړے دے یا څنګه منسټر وائی، هغه که تاسو منسټر صاحب ته اوښایئ، څه ایکشن به اخلی بیا د هغه ډیپارټمنټ برخلاف جی۔ بس دا خبره اوکړئ۔

وزیر خوراک: چه نن مے څنګه ایکشن اغستے دے، بیګاه به هغه ایکشن بیا واخلم انشاء الله جی۔

حاجی بهادر خان: زه به نے ورته اوښایم او په دے ---------

جناب سپیکر، دے د پاسه بیا نور تاسو څه غواړئ؟ خو تاسو وایئ چه یو مل ته زیاته ملاؤیږی او نورو ته کمه ملاؤیږی، هغه به تاسو پوائنټ آوټ کړئ نو بیا خو هغے کښ څه دغه نشته دے او یا نے اوس اووایه چه هغه نے اوګوری او انکوائری اوکړی۔

حاجی بہادر خان، "فواد ملز" له زیات ورکوی، دے نورو له کم ورکوی۔ "فواد ملز" دے، هغه له زیات ورکوی او نورو له کم ورکوی۔ زه ورته دا ښایم۔ زه ورته دا وایم چه دا نے ما ته سوال کښ نه دے راکړے نو په دے وجه نے نه دے راکړے چه دوئ چا له زیات ورکوی هلته په خپله من مانئ باندے او خپل حساب کتاب باندے او چا له کم ورکوی۔ پکار ده چه ټولو له شریک ورکوی۔ دا به نے په سوال کښ راوستے وے کنه۔ ما ترے باقاعده د دے مطالبه کړے ده۔

وزیر خوراک، زه جناب سپیکر صاحب، --------

حاجی بہادر خان، دا دے کمیټئ ته حواله کړئ، زه نے ورته ښایم، ثابته ووم نے ورته۔

وزیر خوراک، زه جناب سپیکر صاحب، تاسو ته بیا دوباره دا عرض کوم چه ټولو ته جی 1412 ټن ملاؤیږی۔ فواد، که سیاسی څه مینځ کښ د دوئ وی نو هغے سره زما هیڅ تعلق نشته دے۔ دا بشیر بلور صاحب ناست دے، تپوس ترے اوکړئ، دوئ په پیښور کښ د ما له څوک راکړی، څوک په چارسده کښ د راکړی، صوابئ کښ د څوک راکړی، ټول Discretionary کوټه، دا اسفند یار، زمونږه معزز وزیر صاحب دے، دا یوسف ایوب دے، په ټول صوبه سرحد کښ ټولو ته یوه پالیسی ده۔ په دیر کښ څکه اته ګهنټے دی بلکه پیښور کښ اووه ګهنټے دی، په هزاره کښ شپږ ګهنټے Grinding کیږی او په دیر کښ صرف اته ګهنټے دی۔

جناب سپیکر، د دے Solution هم دغه شو۔ که دوئ تاسو ته وروستو هم څه ثبوت راوړو --------

وزیر خوراک، بالکل جی، بالکل جی۔

جناب سپیکر، چه چا ته کم ملاؤیږی نو --------

وزیر خوراک، دا د دا ممبر صاحب پخپله دغه اوکړی۔

جناب سپیکر، بیا به تاسو ایکشن اخلئ۔ The sitting is adjourned for tea break and we will re-assemble after half an hour.

(اس مرحلہ پر چائے کیلئے ایوان کی کاروائی آدھ گھنٹے کیلئے ملتوی ہوگئی۔)

(وقفہ کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔)

Mr. Speaker: Mr. Sher Zaman Sher, MPA, to please move his Privilege Motion No. 95 in the House.

## مسئلہ استحقاق

جناب شیر زمان شیر، "محترم جناب سپیکر صاحب! DDAC کمیٹی صوابی نے اپنے منعقد اجلاس میں فیصلہ کیا کہ چونکہ سپیکر صاحب کی Ruling کے تحت خدمت کمیٹی کے وجود کو غیر آئینی اور غیر قانونی قرار دیا گیا ہے، لہٰذا خدمت کمیٹی کو یہ اختیار حاصل نہیں ہے کہ وہ انتظامی امور اور خصوصاً ترقیاتی کاموں میں مداخلت کرے، یہ اختیارات DDAC کو حاصل ہیں اور اگر خدمت کمیٹی مداخلت کرے تو DDAC کو آگاہ کیا جائے۔ اس کے ردعمل میں خدمت کمیٹی نے DDAC کے خلاف اخباری بیان بازی شروع کی ہے اور اس کے اختیارات کو تنقید کا نشانہ بنایا ہے۔ اس تنقید کا پس منظر یوں ہے کہ خدمت کمیٹی صوابی، گورنمنٹ کے منظور شدہ ہینڈ پمپوں کی تقسیم میں دلچسپی رکھتی ہے اور وہ اس کی فائل مانگ رہے ہیں جبکہ DDAC نے پابندی لگا رکھی ہے اور خدمت کمیٹی DDAC کے اختیارات میں مداخلت کا ارتکاب کر رہی ہے۔ اس طرح نہ صرف میرا بلکہ DDAC کمیٹی کے تمام ممبران کا استحقاق مجروح ہوا ہے جبکہ سپیکر صاحب کی Ruling کے بعد خدمت کمیٹی کی مداخلت کی وجہ سے آسمبلی کے تمام ممبران کا استحقاق مجروح ہوا ہے۔ لہٰذا میری تحریک استحقاق کو استحقاق کمیٹی کے سپرد کیا جائے"۔

جناب سپیکر صاحب! حکومت د اسسټنټ ډائریکټر بلدیات په ذریعه باندے هینډ پمپونه ورکړی وو او خدمت کمیټئ د هغے هینډ پمپونو فائل غوښتو او دا نے اسسټنټ ډائریکټر ته وئیل چه دا هینډ پمپونه د چا په سفارش باندے ورکړے شوی دی، د هغے مونږ له فائل راکړه۔ DDAC د هغے نه خبر شوه او هغه د ضلع صوابئ د څلورو وانړو ممبرانو په حصه مساوی باندے

هغه تقسیم شوی وو- هغوی د هغے فائل غوښتو، DDAC د هغے د پاره اووئیل چه دا فائل مه ورکوئ او بیا چونکه ستاسو Ruling وو چه د دوئ هیڅ څه حیثیت نشته، په دغه ذریعه باندے DDAC کښ د ټولو ممبرانو په موجودګئ کښ دا فیصله اوشوه چه که چرے فرض کړو خدمت کمیټئ د د صوبائی حکومت د کومے محکمے نه څه قسم فائل غواړی یا څه دغه، نو هغه مه ورکوئ- په سبا باندے هغه د DDAC اخباری بیان راغے د هغوی د هغے فیصلے او بله ورخ ته ورپسے بیا د خدمت کمیټئ بیان راغلو چه نه، د DDAC هیڅ څه حیثیت نشته او دا اختیارات چه دی، دا زمونږ دی او مونږ به دا کوو- چونکه په دغه سلسله کښ ما استحقاق پیش کړے دے او تاسو ته مو دا خواست دے، دے معزز هاؤس ته مو دا خواست دے چه دا د استحقاق کمیټئ ته حواله شی-

<u>جناب یوسف ایوب خان</u>(وزیر بلدیات): اجازت ہے جی؟

<u>جناب سپیکر</u>: میرے خیال میں, Similar cases are already there --------

<u>وزیر بلدیات</u>: میں ایک عرض کرنا چاہتا ہوں جناب۔ میرا خیال ہے شاید کچھ غلط فہمی ہوئی ہے جناب۔ شیر زمان شیر صاحب جو بات کر رہے ہیں کہ انہوں نے ہینڈ پمپس تقسیم کرنے کیلئے ہم سے پوچھا تھا کہ ہمیں لسٹ دی جائے کہ ہم کہاں کہاں تقسیم کریں تو ایسی کوئی بات نہیں ہے۔ میرے پاس بھی ان کا ایک لیٹر آیا تھا کہ آپ کے اسسٹنٹ ڈائریکٹر، لوکل باڈیز سے ہم نے لسٹیں مانگی ہیں کہ ہینڈ پمپس کہاں کہاں تقسیم ہوئے ہیں کیونکہ ہم یہ Feel کرتے ہیں کہ شاید اس میں کوئی Irregularity ہوئی ہے اور آپ کے اے۔ڈی نے ہمیں دینے سے Refuse کیا ہے اور آپ اس کو Suspend کریں اور جو طریقہ کار ہوتا ہے تو وہ قانونی طور پر ہم کر نہیں سکتے ہیں۔ یہ ہینڈ پمپس Distribute کرنے کے اختیارات چیف منسٹر نے خود DDACs کو دیئے ہوئے ہیں اور وہ MPAs کی Discretion ہے، There is no doubt about that تو یہ چیز بالکل clarified ہے۔ اگر وہ اخبار میں کوئی بیان دیتے ہیں اور ہم ہر اخباری بیان پر پریویلجز کمیٹی میں جائیں گے، تو اس کا کوئی فائدہ نہیں ہوگا۔ .It will be wasting the time of the House جہاں تک ہینڈ پمپس کا تعلق ہے یا جو ایگزیکٹیو آرڈرز ہوتے ہیں، ان کے ساتھ خدمت کمیٹی کا کسی قسم کا کوئی تعلق نہیں ہے جی۔

جناب سپیکر: جناب شیر زمان شیر صاحب۔

جناب شیر زمان شیر: جناب سپیکر صاحب! "خدمت کمیټۍ" خو په هر ځیز کښې مداخلت کوی نو صرف زما خو دغه خواست دے ستاسو په ذریعه چه فرض کړه که هغوی دومره فعال وی او دومره ایماندار وی او دومره صحیح وی نو زما ستاسو په ذریعه درخواست دے چه بیا کم نه کم لکه د DDAC دا اختیارات د هم هغوی له ورکړے شی۔

جناب سپیکر: آنریبل منسٹر پلیز۔

وزیر بلدیات: سپیکر صاحب! DDAC کا جو Law ہے ' It is very very clear. All Hand pump distribution, یہ developmental work, all site selection, سکولز کہاں دینے ہیں، ٹیوب ویلز کہاں دینے ہیں، روڈز کہاں دینے ہیں تو یہ 100 % اختیار DDAC کا ہے اور اس میں کئی قسم کا شبہ نہیں۔ مجھے شیر زمان خان ایک Instance بتا دیں جہاں کوئی ایک Developmental Scheme مثلاً واٹر سپلائی سکیم، سکول کی سکیم، روڈ کی سکیم یا ایریگیشن کی سکیم خدمت کمیٹی کے کہنے پر Change ہوئی ہو۔ وہ تو جی This House will never permit کہ باہر سے کسی قسم کی کوئی Interference ہو ' یہ 100 % Purly کام DDAC کا ہے۔ میں ان کو Assurance دیتا ہوں کہ اگر ایسی کوئی چیز ہوئی بھی ہے، تو ان کی اس قسم کی Request کو نہ صرف صوابی میں بلکہ کہیں بھی Entertain نہیں کیا جائے گا۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! اجازت ہے؟

جناب سپیکر: جی۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! میرے خیال میں حکومت کی طرف سے یہ یقین دہانی دلائی گئی تھی ' یہ Assurance دلائی گئی تھی کہ خدمت کمیٹی کو پراونشل گورنمنٹ کسی قسم کی مالی یا عملی سپورٹ نہیں کرے گی' نہ کوئی دفتر Provide کرے گی' نہ کوئی ٹرانسپورٹ اور نہ ہی اس کے احکامات پر پراونشل گورنمنٹ کا کوئی ملازم یا سرکاری افسر عمل کرے گا۔ میرے محترم ساتھی نے جو پریویلج موشن پیش کیا ہے' اس سے تو یہ ثابت ہوتا ہے کہ اس صوبے میں خدمت کمیٹیوں کے ساتھ ابھی بھی پراونشل گورنمنٹ کے

حکام کا رابطہ ہے۔ تو میں یہ سمجھتا ہوں کہ یہ ایک اور مسئلہ پریویلج بنتا ہے۔ ایک تو ان کا Individual case ہے اور ایک ہمیں Assurance دی گئی تھی کہ پراونشل گورنمنٹ خدمت کمیٹی کے ساتھ کوئی رابطہ نہیں رکھے گی، کوئی دفتر نہیں دے گی جبکہ میں نے تو اخبار میں پڑھا ہے کہ ملاکنڈ ڈویژن یا اس علاقے کی خدمت کمیٹی کے چیئرمین نے کہا ہے کہ میں دفتر خالی نہیں کروں گا' ڈسٹرکٹ والوں نے خالی کیا ہے۔ تو جو یقین دہانی ہمیں دلائی گئی ہے کہ پراونشل گورنمنٹ کا ان سے کوئی تعلق نہیں ہوگا' پراونشل گورنمنٹ کسی قسم کی سہولت یا کسی قسم کی مراعات فراہم نہیں کرے گی اور پراونشل گورنمنٹ کا کوئی افسر یا کارندہ خدمت کمیٹی سے رابطہ نہیں کرے گا تو اس سے یہ پتہ چلتا ہے کہ اب بھی خدمت کمیٹی والے پراونشل گورنمنٹ کے افسران کو خط لکھتے ہیں اور ان کے جوابات اُن کو ملتے ہیں' اُن کے احکامات پر عمل ہوتا ہے۔ ہوتا ہے یا نہیں ہوتا ہے' دفاتر وہ استعمال کر رہے ہیں اخبارات کے مطابق۔ تو وہ Assurance جو گورنمنٹ نے اس ایوان کو دلائی تھی تو جناب سپیکر' میں سمجھتا ہوں کہ شیر زمان شیر خان کا تو پریویلج بنتا ہی بنتا ہے لیکن اس ایوان کا ایک اور پریویلج بھی بنتا ہے۔

حاجی بہادر خان (دیر)، پوائنٹ آف آرڈر، سر۔ ما یوه خبره کوله سر۔ دے باندے مونږه تحریک استحقاق پیش کړے وو او هغه استحقاق کمیټئ ته تلے وو۔

جناب سپیکر، په دے باره کښې به خبره کوئ؟

حاجی بہادر خان، او، هم په دے باره کښې کومه۔ هغه بله ورځ زه تلے ووم د DDAC زمونږ چه کوم دفتر دے نو په هغے باندے د خدمت کمیټئ بورډ هم هغه شان لګیدلے دے۔ ما خدائے شته هغه اے۔ډی ته اوونیل چه دے باندے خو سپیکر صاحب Ruling هم ورکړے دے او استحقاق هم پرے مونږ پیش کړے دے او دے باندے یو قرارداد هم په اسمبلئ، په دے هاؤس کښې پاس شوے دے چه په دے کښې څومره سهولیات دوئ سره دی، هغه به ترے نه حکومت واپس کوی نو چونکه دا بار بار د دے اسمبلئ او ستاسو د Ruling خلاف ورزی ده نو چونکه زه هم پکښې دا Request کومه چه اوس هم هغه بورډ د هغه DDAC په دفتر باندے لګیدلے دے۔ دوئ وائی چه اختیار ورسره نشته نو بیا هلته څنګه بورډ لګوی چه "خدمت کمیټی دفتر"؟ ------

جناب سپیکر: بهادر خان! هغه خو تاسو پخپله اوونیل چه پریویلج کمیټۍ ته په حواله دے نو پریږدئ، په پریویلج کمیټۍ کښې به خپله خبره اوکړئ- میاں صاحب! جی-

میاں افتخار حسین: سپیکر صاحب! ډیره مهربانی- دوئ چه دا کومه خبره اوکړه، زه جی هم پرونئ خبره کومه چه خدمت کمیټی تلے ده او د پبلک هیلتھ په مسئله کښې چه مونږ د دوو کالو نه لګیا یو، یو کار کیدو او هغوی وائی چه دا به مونږ کوو او ډیپارټمنټ ته راغوښتے دے، ډیپارټمنټ ته ئے حکم کړے دے او ډیپارټمنټ ونیل چه چونکه دا خدمت کمیټۍ مونږ ته ونیلی دی نو مونږه ئے فوری طور کوو- نو په Developmental کارونو کښې، هسے هم جی د DDAC Act دلته پروت دے چه هیڅ قسم ته د هیچ چا هم مداخلت نه شی کیدے- یوازے د خدمت کمیټۍ نه، د هیچ چا پکښې نه شی کیدے، سوا د ممبر نه نو چه Already یو قانون پروت دے او رولز شته دے او بیا دوئ Already ونیلی دی او ستاسو Ruling هم موجود دے نو زه بخښنه غوارم، وزیر صاحب چه دلته هر څه جواب کوی نو مخکښې هم دا جواب وو او هغه رنګ پریکټس روان دے- پکار دا دی چه دا پریکټس پرے بند کړی-

جناب سپیکر: جی، توفیق خان-

جناب توفیق محمد خان: ډیره مهربانی، سپیکر صاحب - شیر زمان شیر خو ډیر زبردست پوائنټ راویستو او دا ډیره اهمه خبره ده- زه د منسټر صاحب په علم کښې راوستل غوارمه که دوئ ته پته نه وی، دوئ وائی چه Developmental side باندے مونږه هیڅ فنډونه خدمت کمیټو له نه دی ورکړی- په تخت بهائی کښې یو لک روپئ دوئ د خدمت کمیټۍ چیئرمین له ورکړی دی د ډسټرکټ کونسل نو زه نه پوهیږم چه دا د چا په آرډر شوی دی، د کوم قانون لاندے شوی دی؟ د منسټر صاحب په علم کښې راوستل غوارم چه ایک لاکھ روپئ د ډسټرکټ کونسل نه تاسو هغوی ته ورکړی دی، ریلیز کړی مو دی- اوس هغوی کارونو د پاره پروګرام جوړه وی-

جناب سپیکر: منظور باچا صاحب! نیک عمل خان تاسو نه مخکښې وو-

جناب نیک عمل خان، دا خو دوئ هسے وائی۔ زما په خیال اوس هم چه لاړ شئ تاسو، دوئ سره اوس د هم خلق لاړ شی، په ملاکنډ کښ، په هر ځائے کښ باقاعده هغه بورډونه په هغه دفترو باندے لګیدلی دی۔ هغوی هغه دفترے هډو د سره خالی کوی نه۔ اوس هم شته دے، لګیا دی۔

جناب سپیکر، جی، باچا صاحب!

سید منظور حسین، شکریه، محترم سپیکر صاحب۔ دراصل خبره محترم سپیکر صاحب، د دے نه ده چه د خدمت کمیټو سره اختیارات دی او هغوی افسرانو ته خطونه لیکی او د هغوی نه رپورټونه راغواړی، اصل د تشویش خبره دا ده جی چه دلته زمونږه صوبائی اسمبلئ کښ تاسو Ruling ورکړے دے، بیا د هغے نه وروستو متفقه قرارداد پاس شوے دے او د هغے د پاسه د خدمت کمیټو د خلقو طرف نه د قرارداد مخالفت چه دا قرارداد هیڅ حیثیت نه لری، دا په مونږ نه اثر انداز کیږی، دے طرف ته توجه ورکول دی چه دا زمونږه جمهوری اداره ده او چه مونږ پخپله د دے حفاظت او نه کړو او دے ته تحفظ ورنه کړو نو بیا به لکه څوک راپاڅی؟ نو د دے خپل جمهوری ادارے تحفظ د پاره زه دا درخواست کوم چه دا تاسو پریویلج کمیټئ ته اولیږئ او څومره چه بیانونه راخی نو هر یو بیان براه راست ورلیږل پکار دی۔ چه څنګه هغوی په خپل ځائے په قلاره نه کښینی، زمونږ د صوبائی اسمبلئ د قرارداد قدر نه کوی، زمونږ د صوبائی اسمبلئ د عظیم الشان August Seat، د سپیکر صاحب قدر نه کوی نو مونږه ولے هغوی ته صبر اوکړو؟ هر یو بیان چه د هغوی راخی نو هغه راتلل پکار دی، دلته اسمبلئ کښ Discuss کیدل پکار دی، پریویلج کمیټئ ته تلل پکار دی او دا خپله اداره چه کومه ده، دا بالا تر اداره ثابتول پکار دی۔

ارباب محمد ایوب جان، جناب سپیکر! زه خو بس صرف یوه خبره ستاسو په خدمت کښ کول غواړم۔ دوه درے ورځے مخکښ "دی نیوز" اخبار کښ یو کارټون راغلے وو، یو مور خپل ماشوم بچی ته وائی چه "Once upon a time there were Provincial Assemblies" نو د 'Provincial Assemblies'

دغه حال وی چه قرارداد هم پیش کوو، هر څه کوو خو شے جوړ کا توں روان دے۔

آوازیں، ډیر اعلیٰ، ډیر اعلیٰ۔ (تالیاں)

جناب سپیکر، جی، شعیب خان۔

جناب محمد شعیب خان، شکریه، سپیکر صاحب۔ دا جی تاسو چه هغه Ruling ورکړو نو زمونږه تحصیل کښ د کمیټئ چیئرمین خپل دفتر او هر څه نے پریښودل او د ډسټرکټ والا ته چه وینا اوشوه نو هغه وائی چه زه فیډرل ګورنمنټ منتخب کړے یمه او مونږ له نے اختیارات راکړی دی او زه د سپیکر Ruling نه منم۔ نو مونږه هم دا وایُو چه دلته زمونږ دے ورور چه کوم پریویلج موشن جمع کړو، دا د پریویلج کمیټئ ته حواله شی او د هغے مطابق د بیا سزا ورکړے شی۔

Mr . Speaker: The Honourable Minister should not have any objection. Everybody insists and you also admit.

وزیر بلدیات، سپیکر صاحب! بے شک آپ پریویلجز کمیٹی کو بھیج دیں لیکن ایک چیز کی Clarification کرنا چاہتا ہوں۔ Unanimous resolution پاس ہوئی ہے جی ہاؤس کی اور اوپر سے آپ کی Ruling بھی ہے۔ جہاں تک Offices کا تعلق ہے تو More than, I would say, thirty or forty percent offices جو ہیں، وہ Vacate کر دیئے گئے ہیں۔ The Federal Government is identifying offices for the 'Khidmat Committees'. وہ فیڈرل گورنمنٹ جانے اور خدمت کمیٹی جانے۔ ہم نے ان کو بڑا Clearly لکھا ہوا ہے کہ آپ ہمارے Offices vacate کریں Because the unanimous resolution of the House is binding on us. I can assure you on that, Sir.

جناب سلیم خان ایډوکیټ، پوائنټ آف آرډر، سر۔ زه خبره کوم۔ سر! یوسف ایوب خان اووئیل چه مونږ لیکلے ورکړی دی، لیکلے ورکړی دی، ما ته پته ده چه په صوابی کښ لیکلے هم ورکړی دی او بیا ډسټرکټ ایډمنسټریشن ته ټیلیفون شوے دے، هغوی نے منع کړی دی چه دا دفترے ترے نه مه اخلئ۔ زه

په ذمه داری سره خبره کوم۔
جناب سپیکر، زما خیال دے جی چه دا ټولے خبرے داسے دی چه ---------
وزیر بلدیات، ہماری طرف سے کوئی ٹیلیفون نہیں ہوا۔ لوکل باڈیز ڈیپارٹمنٹ نے بڑا
Clearly, I can show you the copies, ہر ڈسٹرکٹ کو بھیجا ہوا ہے کہ Offices
آپ Vacate کریں اور اپنے لئے کوئی Alternative بندوبست کریں۔
جناب سپیکر، یہ اس طرح ہے یوسف ایوب خان، کہ جس طرح منظور باچا صاحب نے فرمایا
کہ Ruling تو درکنار، وہ تو جو بھی ہے، وہ آپ جانیں اور آپ کا کام، میں نے تو ایک
قانونی نکتے پر Ruling دی ہے لیکن جس طرح وہ فرما رہے ہیں کہ وہ متفقہ قرارداد ہے
Which is binding on the Provincial Government as well اور میرے
خیال میں پراونشل گورنمنٹ بھی اس میں پارٹی تھی اور اکھٹے انہوں نے پاس کیا ہوا ہے۔ تو
اب پوزیشن یہ ہے، ان چیزوں کو چیک کرنے کا طریقہ صرف یہی ہے کہ ممبران صاحبان
کا جو جو بھی Apprehension ہو، They should go to the Committee on
Privileges because already they are there, so اگر ایک پر وہ کمیٹی بیٹھتی
ہے تو دس پر بیٹھ جائے، دس پر بیٹھی ہے تو بیس پر بیٹھ جائے۔ اب ہر ایک ممبر اُٹھے
گا اور اس پر ٹائم لے گا اور بات وہی ہوگی تو The best course, personally I feel,
is that it should also go تاکہ ان کی Discouragement ہو جائے اگر واقعی
گورنمنٹ کی یہ پالیسی ہے کہ They find themselves bound by the
unanimous resolution of the Assembly اور جس طرح ایوب جان خان نے اس
عجیب کارٹون کا بھی ذکر کیا تو I think, we should go out from these
cartoonists اور کچھ فیصلہ ہونا چاہئے پریویلج کمیٹی میں - Is it the desire of the
House that Privilege Motion No. 95 moved by Sher Zaman Sher,
MPA, may be referred to the Committee on Privileges?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it and the Privilege Motion No. 95 is referred to the Standing Committee on Privileges.

حاجی عبدالرحمان خان، جناب سپیکر صاحب! پرونے زمونږه یو قرارداد وو۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! وہ ایک قرارداد پاس کرنی ہے۔

حاجی عبدالرحمان خان: او۔

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! اگر اجازت ہو تو رول 240 کے تحت میں ایک درخواست کروں ---------

جناب سپیکر، یو ته مے پریږدئ چه په دے باندے دا آرډر زه اولیکم نو بیا تاسو۔

حاجی عبدالرحمان خان: ښه جی۔

جناب سپیکر، جی!

## قاعدہ کا معطل کیا جانا

حاجی عبدالرحمان خان، جناب سپیکر! قاعدہ 240 کے تحت، قاعدہ 124 کو معطل کر کے سیمنٹ سے متعلق قرارداد پیش کرنے کی اجازت دی جائے۔

جناب سپیکر، جی، متفقه قرارداد دے؟ جوائنټ دے سائن شوے که څه دی؟

حاجی عبدالرحمان خان، ما خو دغه ته ښودلے وو جی۔

حاجی محمد عدیل، دا واخله جی۔

حاجی عبدالرحمان خان، اجازت چه راکړی کنه جی۔

Mr . Speaker: Is it the desire of the House that Rule 124 may be suspended and the Honnourable Member may be allowed to move a resoulatin?

(The motion was carried.)

Mr . Speaker: The 'Ayes' have it and the Honourable Member is allowed to move the resoulation.

سید منظور حسین، محترم سپیکر صاحب! دے سره زما هم یو قرارداد دے، زه به نے پیش کړم۔

Mr. Speaker: Similar?

Syed Manzoor Hussain: Similar, Jee.

جناب سپیکر، دے سره یو ځائے کوئ که بیل ورسره پیش کوئ؟ بیا نے یو

. کوئ ولے نه جی؟ جوائنټ کوئ ولے نه؟ هاں جی، یو قرارداد دے

ا محمد عدیل، یو دے۔

ب سپیکر، یو دے نو جوائنټ ئےکړئ، زما خو دا خیال دے خو دستخط ، اوکړئ۔ په یو باندے دستخط اوکړئ نو هغه به جوائنټ شی بس۔ خو ، Compare کړئ۔ تاسو خپلو کښں Comparison کړے دے؟

ب فرید خان طوفان، جناب سپیکر صاحب! دا کوم قرارداد چه عبدالرحمان ن پیش کوی، دا جوائنټ قرارداد دے، مشترکه قرارداد دے۔

ئ عبدالرحمان خان، ما "ببو خان" سره دغه کړے وو۔ او، هاں، نه خو چه اازت راکړئ کنه نو اووایم؟

اب سپیکر، جی۔

## قرارداد

اجی عبدالرحمان خان، جناب! په دے باندے د یوسف ایوب هم دستخط دے او مونږه هم دے جی۔ "یہ ایوان متفقہ طور پر سیمنٹ کی قیمتوں میں بے انتہا اضافہ کی خت مذمت کرتا ہے اور وفاقی حکومت سے مطالبہ کرتا ہے کہ وہ سیمنٹ کے کارخانوں کے مالکان کو مجبور کرے کہ وہ پرانی قیمتوں پر سیمنٹ فروخت کریں اور عوام کو اس منگائی سے نجات دلائے۔ یہ ایوان وفاقی حکومت سے مطالبہ کرتاہے کہ سیمنٹ کے کارخانوں کو دی گئی مراعات بحال کی جائیں"۔

کارخانو له مراعات چه څه ورکوی، ورد کړی خو سیمنټ د ارزان کړی۔ سپیکر صاحب! غلام فاروق خان، خدائے د اوبخښی، هغه وئیل چه زما دا خواهش دے چه په دے صوبه کښں سیمنټ ارزان کړم چه په خټو باندے قیمت زیات لګی او په سیمنټو ارزان لګی، ټول ملک به آباد شی۔ نو مونږه هم دوئ ته دا خواست کوو، مهربانی د اوکړی د سیمنټو دا نرخ د په زور نرخ کړی چه دا آبادئ ټولے سیمنټی شی۔

جناب سپیکر، تاسو پرے خبره اوکړئ منظور باچا صاحب۔

سید منظور حسین، محترم سپیکر صاحب! دا قرارداد چه عبدالرحمان خان پیش

کړو نو بالکل هم دغسې په دے الفا ظو باندے مشتمل زما قرارداد هم وو نو بس
تهیک شوه جی۔

جناب سپیکر: تاسو دا سپورټ کوئ کنه جی؟

سید منظور حسین: او جی، زه ئے سپورټ کومه۔

جناب سپیکر: زه ئے put کومه هاؤس ته۔

سید منظور حسین: تهیک شوه جی، صحیح شو جی۔

Mr. Speaker: Is it the desire of the House that the Resolution, moved by Honourable Abdur Rehman Khan, MPA, may be passed?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it and the resolution is unanimously passed.

حاجی عبدالرحمان خان: زه جی د ټولو شکریه ادا کومه۔

سید منظور حسین: محترم سپیکر صاحب! عبدالرحمان خان زما شکریه ادا نه کړه۔

حاجی عبدالرحمان خان: معافی غوارمه، ستا ډیره ډیره شکریه ادا کومه۔ د ټولو ډیره ډیره شکریه ادا کومه او ټولو ته خواست کومه چه دا نرخ ارزان کړی، په شریکه به ملا تړو ورته۔

جناب سپیکر: باچا صاحب! زما زړه کښ دا تیریدل چه ته پاځیدلے، زما شکریه به ادا کړے چه ما هم دا دومره خبرے پکښ ---- (قہقہہ)

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! زه خو د ټولو نه زیاته د سیلم خان شکریه ادا کومه چه دومره امداد ئے په دے کښ زمونږه سره اوکړو۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی: سیلم خان دو تین ہیں، انہوں نے کونسے سلیم خان صاحب کا شکریہ ادا کیا ہے؟

Mr. Speaker: Mian Iftikhar Hussain, MPA, and Mr. Taufiq Muhammad Khan, MPA, to please move their identical 'Call Attention Notices' Nos. 735 and 739 under rule 52 (A).

"کال اتینشن نوټسز" دی جی دا۔ دا "کال اتینشن نوټسز" تاسو مخکښے څنګه ایښی دی؟ پکارده چه ایډجرنمنټ موشن راشی۔ هاں جی، نه ما ته نے څنګه "کال اټنشن نوټسز" ایښودے دی؟

Haji Muhammad Adeel Khan, the Honourable Deputy Speaker, and Mr. Akram Khan Durrani, Honourable MPA, to please move their identical Adjournment Motions Nos. 283 and 284.

## تحاریک التواء

حاجی محمد عدیل، شکریہ۔ جناب سپیکر! براہ کرم اسمبلی کی کارروائی کو التواء میں رکھ کر مجھے اس اہم مسئلے پر تحریک التواء پیش کرنے کی اجازت دیں کہ "ملگری استاذان" کے عہدیداران کو سیاسی انتقام کی بنیاد پر معطل کیا جا چکا ہے جو کہ بے حد غیر منصفانہ ہے۔

جناب سپیکر، جی' اکرم خان۔

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر! "اسمبلی کی کارروائی روک کر ایک اہم اور فوری نوعیت کے مسئلے کی طرف ایوان کی توجہ دلانا چاہتا ہوں اور وہ یہ کہ حکومت نے صوبہ سرحد میں "ملگری استاذان" کی تنظیم کو معطل کیا ہے اور اس پر پابندی لگائی ہے جو کہ سراسر زیادتی ہے۔ لہٰذا اس پر بحث کی اجازت دی جائے"۔

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! میرے خیال میں اس سے ملتی جلتی ایک کال اٹینشن نوٹس احمد حسن صاحب نے بھی دیا ہے۔ آپ اسے ایڈجرنمنٹ موشن میں تبدیل کر دیں تو ------------

جناب سپیکر، زما خیال دے هغه به هم دے سره یو ځائے کړو۔

حاجی محمد عدیل، ہاں جی' اسے کر دیں۔

Mr. Speaker: we will covert it into an 'Adjournment Motion'.

جناب توفیق محمد خان، زمونږه څه مسئله اوشوه جی؟ مونږ خو په پته پوهه نه شو۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! میں نے داخل کیا ہے لیکن اس کی کاپی بھی مجھے نہیں ملی ہے۔

جناب سپیکر، Identical 'Call Attention Notices. کښې اولنے د افتخار حسین دے جی او بل د توفیق خان دے۔ دا دواړه هم په دے باندے دی کنه، یو شے دے ------

آوازیں: ہاں جی۔

جناب سپیکر، نو دا دواړه، به Convert کړو ایډجرنمنټ موشن ته بس، Similar دغه پرے اوکړو۔

جناب توفیق محمد خان، ٹھیک ده جی، صحیح ده جی بالکل۔

جناب سپیکر، تاسو هم Move کړئ کنه جی توفیق خان۔

جناب توفیق محمد خان، "محترم سپیکر صاحب! اسمبلی کی کارروائی روک کر ایک اہم مسئلے کی طرف توجہ دلانا چاہتا ہوں کہ ضلع مردان اور کئی اور اضلاع میں بھی "ملگری اساتذہ کرام" کو Suspension orders مل چکے ہیں۔ چونکہ یہ Suspension order غیر قانونی اور غیر جمہوری ہیں، لہٰذا اس پر بحث کی اجازت دی جائے"۔

جناب سپیکر: میاں صاحب!

میاں افتخار حسین، مهربانی۔ جناب سپیکر صاحب! حکومت په دے نزدو ورځو کښې د "ملګری استاذانو په ایسوسی ایشن" د پابندئ لګولو اعلان کړے دے او د هغے تنظیمی عهده داران ئے معطل کړی دی۔ دا د بنیادی حقوقو د آرټیکل منافی اقدام دے۔ په دے وجه باندے دا د فوری نوعیت مسئله ده او په دے باندے د د بحث کولو اجازت ورکړے شی۔ مهربانی۔

جناب سپیکر، جناب حاجی محمد عدیل صاحب!

حاجی محمد عدیل، جناب سپیکر! میں آپ کا مشکور ہوں اور ہاؤس کا بھی مشکور ہوں۔ جناب سپیکر! کچھ عرصے سے ہم محسوس کر رہے ہیں کہ حکومت کی جانب سے بعض پیشہ ورانہ تنظیموں کے ساتھ، جن کی سیاسی سوچ اور فکر حکومت سے مختلف ہے، ایک انتقامی سلسلہ شروع کیا گیا ہے۔ جناب سپیکر! اس وقت ہمارے صوبے میں کئی پیشہ ورانہ تنظیمیں موجود ہیں، بعض تنظیمیں ایسی ہیں کہ جنہوں نے اپنے آپ کو رجسٹرڈ بھی کروایا ہوا ہے اور بعض تنظیمیں ایسی ہیں کہ جو رجسٹرڈ نہیں ہیں لیکن آئین کے تحت Right of Association ان کے پاس ہے اور انہوں نے ان تنظیموں کو بنایا ہے۔ جناب سپیکر! یہ

تنظیمیں اسلئے بنی ہیں کہ ان کے جو مسائل ہیں، ان کی جو مشکلات ہیں، ان کو حل کریں لیکن بدقسمتی سے ان تنظیموں میں زیادہ سوچ ان لوگوں کی ہے جو حکومت کی فکر سے اتفاق نہیں رکھتے تو حکومت ان کے ساتھ زیادتی کر رہی ہے اور "ملگری استاذان" ایک ایسی ہی تنظیم ہے۔ جناب سپیکر! یہ تنظیم نہایت ہی پُر امن تنظیم ہے، یہ تنظیم اصولوں پر چلنے والی تنظیم ہے۔ یہ ایک ایسی تنظیم ہے کہ جس نے آج تک اپنے عہدیداروں کی ذات کیلئے کسی حکومت سے کوئی فائدہ نہیں اٹھایا، کبھی کوئی بلیک میلنگ نہیں کی ہے۔ کوئی ثابت کر دے کہ اس تنظیم کا کوئی عہدیدار کبھی کسی حکمران کے پاس گیا ہو اور اس سے یہ مطالبہ کیا ہو کہ مجھے اپنی ذات کیلئے یا اپنے کسی دوسرے عہدیدار کیلئے یا اپنے کسی رشتہ دار کیلئے کچھ چاہئے۔ اس تنظیم نے اگر کوئی مطالبہ کیا ہے تو اپنی پوری کمیونٹی کے مفاد کیلئے کیا ہے۔ جناب سپیکر! حکومت نے اس تنظیم کے کئی عہدیداروں کو Suspend کیا ہے، معطل کیا ہے۔ اس تنظیم نے تو اس معطلی کے خلاف بھی کوئی آواز نہیں اٹھائی ہے۔ انہوں نے کہا ہے کہ جب ہم اپنی کمیونٹی کیلئے کام کر رہے ہیں، ہم اپنے ہم پیشہ لوگوں کیلئے کام کر رہے ہیں تو ہم اس تکلیف سے بھی، اس پل صراط سے بھی گزر جائیں گے لیکن اس ایوان کے ایک رکن ہونے کی حیثیت سے میں سمجھتا ہوں کہ اس تنظیم کے ساتھ غیر منصفانہ رویہ اختیار کیا جا رہا ہے، جو بہت ہی ناجائز ہے اور میں آپ کی وساطت سے چاہتا ہوں کہ حکومت نے جو کچھ کیا ہے، وہ تو کیا ہے لیکن مزید اس تنظیم کے عہدیداروں کے خلاف کسی قسم کی انتقامی کارروائی نہ کریں، ان کی Suspension کو ختم کریں تاکہ وہ لوگ جا کر بچوں کو تعلیم دے سکیں اور آپ کی وساطت سے یہی میری استدعا ہے۔

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر صاحب! څه رنګ چه عدیل خان او وئیل جي، حقیقت دا دے چه دا یو جمهوري ملک دے او دلته چه مونږه راغلی یو، لکه په جمهوریت باندے یقین لرو او دا تنظیمونه چه جوړشوي دي، هغه هم د چا سره ذهني تعلق لري۔ "ملګري استاذان" به د يو ټولنے سره تعلق لري، پکښې نوربه د بل چا سره تعلق لري نو د دے يو خپل قانوني حيثيت وي او د هغے د لاندے د خپل مفاداتو د تحفظ خيال ساتولو د پاره دوئ خپل مشران جوړکړي دي او باقاعده هغوي د هغه تنظيم عهديداران دي خو عجيبه غوندے خبره ده چه دلته خو عام خبره دا ده چه دا ملک جمهوري ملک دے، په دے کښې مکمله

آزادی ده او هیڅ قسم څه پابندی نشته خو باوجود د دے که تاسو اوګورئ، چه نن مونږه روزانه اخبارکورو جی بیا یوه خبره پکښ راخی چه فلانئ محکمه فوج ته حواله شوه، یو څو ورځے مخکښے راغلل چه واپډا فوج ته حواله شوله، د هغے نه وروستو نن سحر چه ما اخبارکتلو، واتی چه زمونږ په صوبه کښ هم فوج ته څه اختیارات ورکړے شوی دی او دا سکولو نه چه دی، دا محکمه تعلیم په دے کښ بالکل فیل ده او د هغوی په دے باندے هیڅ قسم ته وس نه رسی، نو یو طرف ته که جی اوګورئ چه په دے ملک کښ یو آواز دے چه دا جمهوریت دے او بل طرف ته د هغے جمهوری خلقو دآواز بندولو د پاره د دے استاذانو به جی-

نو یو طرف ته که جی اوګورئ چه په دے ملک کښ یو آواز دے چه دا جمهوریت دے او بل طرف ته د هغے جمهوری خلقو دآواز بندولو د پاره، د دے استاذانو به جی څه هغه وو او دوئ به د خپلو دوستانو د حق د پاره یوه خبره کوله، د هغے د پاره به ئے څه غوښتنه کوله، نو دا یو سراسر زیاتے دے او که دا Suspend شوی دی مونږ خو د دے معزز ایوان او ستاسو په وساطت باندے د دے دا مطالبه کوو چه دا خو د بحال کړے شی اوآئنده نه په دے بل یونین، سبا به د دوئ بل تنظیم وی چه هغه به د ایجوکیشن سره تعلق نه لری، د وکلاء سره به تعلق لری، سبا به یو داسے تنظیم وی چه هغه به د ډاکټرانو سره تعلق لری، نو مونږ ګورنمنټ نه دا Request کوو چه دا حو د دوئ د خپلے ناکامئ اظهار دے چه یو ډیپارټمنټ دے، هغه خپل کارنه شی کولے، هغه یا پولیس ته حواله کیږی یا فوج ته حواله کیږی- نو مهربانی د اوکړی، زمونږ ایجوکشن منسټر صاحب هم ناست دے او چیف منسټر صاحب هم ناست دے، نو زمونږ د ټول ایوان د طرف نه دوئ ته حواست دے چه داسے سیاسی انتقام اغستل د په دے صوبه کښ بند کړے شی هغه چه په کوم یو مد کښ هم وی-

جناب سپیکر، جی، توفیق خان-

جناب توفیق محمد خان، ډیره منته، سپیکر صاحب- زه د ټول ایوان مشکور یمه او زما نه مخکښ عدیل صاحب ډیر په تفصیل سره خبره اوکړه او درانی

صاحب هم اوکړه۔ حقیقت دا دے چه په دے ملک کښ مونږ د جمهوریت دعویٰ کوو او بیا خاصکر زمونږ چه کومه گورنمنټ پارټی ده، نو هغوی خان ته د جمهوریت پیداوار وائی او دا وائی چه مونږه په دے ملک کښ هر هغه کار به کوو چه د جمهوریت مطابق وی او بیا زمونږه مشر، نوازشریف صاحب دا بار بار وائی چه مونږه به انصاف د مظلوم دُرشلے له رسوو، نو دا هغے درشلے هغه انصاف دے چه په دے ملک کښ جمهوریت دے، دلته تنظیمونه شته، د دے "ملگرو استاذانو" نه علاوه نور تنظیمونه هم شته دے چه هغه "فراز گروپ" دے، هغه "اے ټی اے گروپ" دے او هغه "اے ټی اے گروپ" چه کوم دے، نو هغه هم تقریباً، دوئ ته پته ده، د مسلم لیگ رونړو ته چه دا هغوی سپورټ کوی۔ بدقسمتی دا ده د "ملگری استاذانو" چه دوئ دا وائی چه دا گنی عوامی نیشنل پارټئ ته Inclined دی، حقیقت دا نه دے۔ هغوی د خپل حق د پاره جنگ کوی چه کوم خائے کښ زیاتے کیږی۔ هغوی اوسه پورے هیڅ قسم داسے کارنه دے کړے چه هغه د دے ملک خلاف وی۔ که هغوی څه کوی نو هغه د ټول ملک د مفادو د پاره، د بچو د پاره، د قوم د دے وطن د آبادئ د پاره کارکوی۔ دا زمونږ بدقسمتی ده، په دے ملک کښ خاصکر بیا په "پختونخوا" کښ چه دلته څوک د حق د پاره آواز کوی او جائز حق د پاره آواز کوی نو په هغه باندے قسما قسم لیبلے هم لگی او بیا په هغے باندے Suspention order هم کیږی او قسما قسم هغه ته دا مشکلات پیدا کیږی۔ محترم سپیکر صاحب! چیف منسټر صاحب هم ناست دے او خاص کر زه حو د منسټر صاحب نه ډیر زیات ــــ ایجوکیشن منسټر صاحب خو یو پوهه او قابل انسان دے نو کم از کم که دا حرکت شوے دے نو دا یو پوهه انسان دے او د هغه په اوگه باندے ټوپک ایښودلے شوے دے او ډز پرے شوے دے او کسان پرے ایشتلے شوی دی نو کم از کم دوئ له پکار دی چه دوئ دا سوچ کړے وے چه زه دا کار کومه، دا قانونی دے، آئینی نه دے، آیا دے نه به چا ته نقصان رسی او که نه به رسی؟ زه خو خدائے شته که پرے پوهیږم۔ داسے زمونږ دے حکومت ته چه کوم زیات مینډیټ ملاو شوے دے نو دوئ څم لرگے راغستے دے۔ د حکومت مثال د داسے اونے وی چه هغه میوه داره وی۔ هغه میوه داره اونه په لاره ولاړه

ده، هغے کښں میوه ده، هغے له به هر سړے راځی او هغے له به څوک گزار ورکوی، څوک به نے په لرگی اولی، څوک به نے په کانړی اولی، هغه د Approaches خبره ده، څوک په ورته په قلاره وراوخیژی نو هغه خپله حصه چه نے په نصیب وی، هغه ترے نه واخلی- دلته بدقسمتی دا ده چه دلته کښں لرگی دوئ راغستی دی، کله کلرکانو پسے، په استاذانو پسے، په ملگری ډاکټرانو پسے، په زمیندارو پسے، په کسانانو پسے، یعنی داسے یو نه دے پاتے شوے چه دوئ ورله درد نه دے رسولے- چه بحیثیت اپوزیشن شی نو زه به وایم چه دا ډیره بهتره خبره ده خو د دے ملک په مفادو کښں نه ده او دا زیاتے شوے دے- نو کم از کم پکار دا دی چه دے باندے مزید نوره کارروائی نه کیږی- منسټر صاحب د ډیپارټمنټ ته اووائی چه دا آرډرز واپس واخلی خکه چه دا غیر آئینی دی او دا نه دی پکار- خکه چه دا په دے ملک کښں دا پخپله یو داسے کرونده کول دی چه آئنده د پاره، دا خو لږ شان وخت د پاره دے، زما په خیال دوه کاله تیر شو او پته نه لږی چه دا نور حکومت به یا څومره وخت پاتے کیږی یا نه پاتے کیږی، نو کم از کم دا سوچ پکار دے چه آئنده د پاره مونږ راشو او بیا مونږ دے قوم ته مخامخ ورځو نو مونږ به دوئ ته څه وائیو چه مونږ تاسو سره کو م انصاف کړے دے او مونږ تاسو سره څه کړی دی؟ نو کم از کم دا مد نظر ساتل پکار دی- دا څیزونه عارضی دی، که حکومت وی، که وزارت وی، که چیف منسټری وی، دا عارضی څیزونه دی، کم از کم مونږ له دا پکار دی چه کوم ایکشن کوو یا کوم کار کوو، په هغے کښں د ټول ملک خیر وی او د هر یو خیر وی، د هر یو ایسوسی ایشن، د هر یو محکمے ښیگړه وی خکه چه هر یو محکمه، که هغه ایجوکیشن کښں وی، که هغه کلرکان وی، که هغه ډاکټران وی، که هغه کسانان وی، که هغه زمیندار وی، نو د هغوی حکومت نه طمع وی- هغوی په دے طمع وی چه دوئ به مونږ له څه ښیگړه راکړی، مونږه له به دوئ څه فائده راکړی- اُلټا چه د هغوی چه څومره وسے کیږی او هغوی چه هغه څومره ډبولے شی، هغه همره نے ډبوی- نو زه معافی غوارمه خو دا ده چه زما منسټر صاحب ته دا خواست دے چه دا کوم آرډر شوے دے، مهربانی اوکړئ، دا واپس واخلئ-

جناب سپیکر: آنریبل میاں افتخار خان!

میاں افتخارحسین، تشکر، جی۔ سپیکر صاحب! تفصیلی خبرے پرے اوشوے، رشتیا خبره جی دا ده چه د دے نه مخکښ په دے استاذانو کښ تنظیمونه په کافی تعداد کښ موجود وو او د دے "ملگرو استاذانو" په وجود کښ راتلو سره د حکومت د هغے سره د ورومبئ ورځے نه امتیازی سلوک روان دے او بهانه دا ده چه دا رجسټرډ نه دیٔ۔ رشتیا خبره جی داسے ده چه په استاذانو کښ اکثریت تنظیمونه رجسټرډ نه دی او د مختلفو پارټو تنظیمونه ډیر وخت نه مخکښ په هغے کښ کارکوی چه په هغے کښ لکه "آل ټیچرز ایسوسی ایشن میاں ایوب گروپ" ورته وائی، هغه د مسلم لیگ (جونیجو گروپ) سره تعلق لری او د هغے ما سره Written ثبوت دے۔ داسے نه ده چه هوائی خبره کوؤ، د هغوی خپل خط، بیا جونیجو صاحب ته د هغه خط، د هغوی نه د پیسو امداد غښتل او په هغے کښ د خپل تنظیم د مسلم لیگ د جونیجو د پاره کار کول، دا امداد سرتاج عزیز، Sorry، هغوی ته، دا ټول د هغے ریکارډ دلته ما سره شته دے جی۔ بیا جی بل "آل ټیچرز ایسوسی ایشن خان فراز گروپ" ورته وائی چه هغه د "پی پی پی" سره تعلق لری۔ بل "تنظیم اساتذه" دے چه هغه دجماعت اسلامی سره تعلق لری۔ بل "وحدت اساتذه" دے جی چه جمعیت علمائے اسلام سره تعلق لری۔ بل "مسلم ټیچرز ایسوسی ایشن" دے چه مسلم لیگ (نوازشریف) سره تعلق لری چه د هغوی Activities، ما سره بالکل پروف شته دے، د هغوی په پیډ باندے باقاعده یو خوا د جناح صاحب فوټو دے او بل خوا د نواز شریف صاحب فوټو دے او هغوی باقاعده په خپل پیډ خپل Activities دلته جاری ساتلی دی او داسے لیټر پکښ شته دے چه پکښ یوه کاپی وزیر اعظم ته ده، یوه صدر پاکستان ته ده، یوه وزیر اعلیٰ ته ده، یوه دغه رنگ ایجوکیشن منسټر ته ده او داسے وریسے نور ټول چه دلته ذمه وارکوم خلق دی، باقاعده هغوی سره خط و کتابت او په هغے کښ باقاعده هغوی د خپل وجود اظهارکوی او وائی چه موږ ته د اجازت راکړے شی او مالی امداد د راسره اوکړی چه موږه د مسلم لیگ د پاره په اساتذه کښ کار اوکړو۔ اوس سوال جی دلته دا پیدا کیږی چه که چرته رشتیا د حکومت نیت صفا وے نو چه

د دے نه مخکښې کوم تنظیمونه موجود وو او هغوی د دوئ سره په رابطو کښې وو او د هغوی عملی اقدامات موجود وو او په سټامپ باندے د هغوی په کاغذاتو کښې د هغوی Activities موجود وو نو که چرته د دوئ د پابندئ نیت وے نو دا به ئے د مخکښې نه لګولے وه۔ دلته دوئ دا خبره کوی چه مونږه پابندی نه ده لګولے، چه چرته د یو سړی، د یو تنظیم عهدیدار معطل کیږی نو پابندی نوره څه ته وائی؟ شکل ئے بدل دے چه کاغذ نشته دے د معطل کیدو، ریکارډ په دغه باندے موجود دے۔ نو سپیکر صاحب، ستاسو په وساطت د حکومت په علم کښې دا راوستل غواړم چه دا انتقامی کارروائی ده، دا د دغه په مینځ کښې بیلتون کول دی۔ دا زمونږه په بنیادی حقوقو کښې راځی اود 1973 Constitution د لاندے چه یو آرټیکل دے نمبر 17، په هغے کښې وائی چه

"Every citizen shall have the right to form Associations or Unions subject to any reasonable restrictions imposed by the law in the interest of sovereignty or integrity of Pakistan, public order or morality"

د خپل Constitution د لاندے، دا خو چه د دوئ پکښې بیا د شرائطو د لاندے خبرے دی هغه شرائط په هغه شکل کښې راځی۔ د رجسټریشن خبره چه دلته کومه کیږی، دا بنیادی یو تنظیم هم رجسټرډ نه دے۔ دلته چه ایجوکیشن منسټر سره چه کوم ریکارډ دے، هغه به پخپله چیک کړی چه کوم رجسټرډ دے، هغه د کلرکانو اسوسی ایشن دے۔ د کلرکانو اسوسی ایشن او په اساتذه اسوسی ایشن کښې فرق دے، هغه به ګډ وډ کوی نه او Mix کوی به نه او زه دوئ ته خواست کوم چه د دے نه علاوه دا خو ما هغه د پارټو په شکل کښې تنظیمونه اوښودل چه موجود دی۔ د پارټو نه علاوه په دے کښې چه کوم دے لکه "پرائمری ټیچرز اسوسی ایشن"، "ایس ای ټی ټیچرز اسوسی ایشن"، "پی ای ټی ټیچرز اسوسی ایشن" او "فرینډز ټیچرز اسوسی ایش"، دا ټول پکښې موجود دی۔ نو زه خپلے خبرے په دے ختموم چه حقیقی خبره دا ده چه دوئ دا کوم کار کړے دے، دوئ له به پناه ورکول غواړی، دوئ له به د دے تحفظ کول غواړی او ښه خبره دا ده د ښه ماحول ساتلو د پاره دوئ چه کوم

اقدام کړے دے، دا د واپس واخلی۔ د هغوی معطلی د ختمه کړی او هغوی ته د خپل کارکولو اجازت ورکړی ځکه چه دا امتیازی سلوک چه کوم شوے دے، دا د بنیادی حقوقو خلاف دے۔ ډیره مننه، شکریه۔

جناب سپیکر، جی، احمد حسن خان۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! ما هم دا عرض کوو۔ ما پکښې پرون تحریک التواء وړاندے کړے وه۔ هغه هم کم و بیش څه دغه شان دے۔ د هغے الفاظ که جناب سپیکر، زه لږ اووایمه نو شاید چه مزید به پرے د بحث کولو ضرورت پاتے نه شی۔ تحریک التواء زما په دے طرز ده چه

"افسوس کا مقام ہے کہ حکومت نے سیاسی انتقام کو اپنی پالیسی کی بنیاد بنا کر سیاسی مخالفین کے خلاف مختلف انتقامی کارروائیوں کا سلسلہ جاری رکھا ہے اور اس کی تازہ ترین مثال "ملگری اساتذہ" کی ملازمتوں سے معطلی کا فیصلہ ہے جس سے اساتذہ برادری میں شدید غم و غصہ و پریشانی پائی جاتی ہے۔ لہٰذا برائے مہربانی معمول کی کارروائی روک کر اس مسئلہ سے متعلق تحریک التواء پر مفصل بحث کی اجازت عنایت فرمائیں"۔

جناب سپیکر! خبره اوشوه او ډیره زیاته واضحه ده۔ دا یو تنظیم نه دے او داسے نور تنظیمونه چه د هغے تفصیل په ډیره ښه طریقه میاں صاحب واضح کړو چه کم و بیش شپږ مسلمه دی، د هغے نه علاوه نور علاقائی یا صوبائی بنیاد باندے یا په ملکی سطح باندے د مختلفو مفاداتو پیش نظر یا د مختلفو جذباتو تحت نور هم تنظیمونه شته دے حو واضح هغه شپږ دی چه هغه مونږ په روزمره خبرونو کښې اوورو او د هغوی کارکردګی او کارروائی زمونږ مخے ته راځی، هغه دا شپږ دی لکه مثلاً "ملګری استاذان" شو، "خان فراز ګروپ" شو، په اساتذه کرامو کښې "میاں ایوب ګروپ" شو، "تنظیم اساتذه" شو، "وحدت اساتذه" شو او "مسلم ټیچرز ایسوسی ایشن" شو۔ بیا میاں صاحب په ډیر تفصیل سره د دے مختلفو Associations چه کوم د مختلفو سیاسی پارټو ضلعی شاخونه ګڼړلے شی، د هغوی د خپلو پارټو سره تعلق ذکر هم اوکړو تاسو ته او بیا د هغے په بنیا د باندے د هغے تنظیمونو مشرانو د خپلو تحریرونو په بنیاد باندے دا اوښوله چه هغه د ملک په بنیاد

باندے د پارټو سره تعلق لری او د هغے پارټو د خپل تنظیمی امورنه علاوه د خپل برادرئ سره، خپلے برادرئ له فائدے ورکولو سره سره، د خپلے برادرئ په مشکلاتو باندے غور کولو سره سره جناب سپیکر، هغوئ دا هم خواهش لری چه د هغے متعلقه پارټی چه د کومے دا خان ضلعی تنظیم گنړی، د هغوی د مفاداتو به هم خیال ساتی او هغه به هم په ملک کښ د یو داسے طریقه کار وړاندے کولو کوشش کوی چه په هغے کښ ورته پزیرائی ملاؤ شی- که چرے دا د دے سیاسی کلچر بالخصوص د پاکستان سیاسی کلچر یوه حصه ده او دا مروجه ده او دا عامه روانه ده جناب سپیکر، نو بیا په دے کښ دا قدغن لگول چه دا د دا کارکوی او دا د نه کوی او دوئ ولے دا اوکړو؟ که چرے یوه نے کوی نو په بلے باندے پابندی لگول بیا یو انتقامی کارروائی ده او غیر جانبداره نه ده بلکه جانبدارانه کارروائی ده- د افسوس مقام دا دے جناب سپیکر، چه "ملگری استاذان" د کومے سیاسی پارټئ سره په دے صوبه کښ یا په دے ملک کښ تعلق لری، د هغے سیاسی پارټئ د دے حکمرانے پارټئ سره یو ډیر ښه د تعلق یو وخت تیر شوے دے نه، لس کاله او د هغوی د پالیسو په بنیاد باندے که زه نن دا اووایمه چه زما ملگری مینډیټ نه یادوی، که زه دوئ ته وریاد کړمه چه یو کال مخکښ به دوئ د کوم مینډیټ خبره کوله، د هغے مینډیټ په حصول کښ د دغے پارټئ بنیادی کردار دے جناب سپیکر- اوس سمدستی په هغے باندے راگرځیدل په دے وجه چه څه اصولو په بنیاد باندے هغوی د دوئ نه یو طرف ته شو لهذا په هر Sphere کښ، په هر خانے کښ، په هره مجمع کښ او په هر پهلو کښ د هغوی کوم اثر دے، د هغے د ختمولو یوه کارروائی دوئ کوی جناب سپیکر، چه د هغے پارټئ خلاف هم پراپیګنډه، د هغے سره سره د هغوی د ضلعی تنظیمونو په کارکردگئ باندے حمله کول، هغوی جیلونو ته اچول، هغوی معطل کول جناب سپیکر، د دے نه نوره زیاته انتقامی کارروائی نه شی کیدے او دا کار جناب سپیکر، په داسے حالاتو کښ چه دا ملک، زما په خپل خیال د بارودو په یو ډهیر باندے ناست دے جناب سپیکر، یقیناً حقیقت پسندانه خبره دا ده چه په داسے حالاتو کښ داسے کارکردگی د دے ملک د وجود خلاف گرځی- بیا سوچ کول پکار دی چه یو

عمل حو روان دے، خدائے مه کړه د دے ملک چه کوم یو سیاسی کلچر دے یا په دے ملک کښې څه کیږی یا څه شوی دی په دے پنځوسو کالو کښې او څه راروان دی او د هغے به حتمی نتیجه څه راځی؟ نن خلق، پوهه خلق په دے باندے مجبوره دی چه هغوی دا سوچ اوکړی چه آیا حکومت د خپلو پالیسو په بنیاد باندے دے عمل له تیزی ورکول غواړی؟ جناب سپیکر! دا Catalyst چه ورته څه وائی په کیمیکل اصطلاح کښې جناب سپیکر، تاسو پرے ښه پوهه یئ، هغه کردار ادا کول غواړی چه دا نور منافرت پیدا کړی، دا نور غم و غصه د ملک په مختلفو طبقو کښې پیدا کړی، دا یو ډیر افسوسناک مقام دے۔ جناب سپیکر! منسټر صاحب چه دا فیصله کوله نو هغه د په دے صورتحال باندے دا سوچ کړے وے چه په دے فیصله کولو کښې یقیناً دا به هغوی په نوټس کښې ده، یقیناً دے ته به د هغوی Approval حاصل وی، که دا هغوی نه وی کړے او د دے د کولو د پاره هغه ته د پاسه نه حکم ملاؤ شوے وی نو بیا هغه صورتحال پاس د هغوی په نوټس کښې راوستل د دوئ بنیادی ذمه داری وه چه د دے Repercussion به څه وی؟ جناب سپیکر! تعلیمی ماحول به په دے باندے څه انداز، چه هغه نن د دے ملک د دے صوبے دغه ټیچرز یونین چه کوم دے، هغه د دے صوبے د اساتذه برادرئ یو مسلمه حصه ده جناب سپیکر او په هغے کښې بےچینی نه صرف د هغوی او د هغوی د خاندان پورے به محدود وی بلکه جناب سپیکر طلباء چه هغه زمونږ د مستقبل امید دے، چه هغه زمونږ مستقبل دے جناب سپیکر چه په هغے به د دے څه اثرات کیږی؟ یو تعلیم یافته خپل ورور منسټر نه زما دا توقع وه چه هغه د خپلے کارکردگئ په بنیاد باندے کوم د نور غیر جانبدارئ مظاهره کړے ده، په دے کښې به ئے د غیر جانبدارئ مظاهره کړے وه او که غلطی ترے نه شوے وی نو هغه په خپل خائے باندے ده خو ډیر زر به د دے تدارک اوکړی، ډیر زر د جناب سپیکر، دا خپله فیصله واپس کړی او چه څنګه نورو تنظیمونو ته کوم د خپل کردار ادا کولو حق حاصل دے، هغه شانتے کردار ادا کولو حق د دے تنظیم ته ورکړی که نه نو د دے نتائج، زه صرف او صرف دا ونیلے شم چه د دے نتائج به د صوبے په عوامو کښې د یو شدید غم غصے او د بدل او د انتقام په شکل کښې د بل فریق د را

اوچتیدو یو پیش خیمه شی چه د هغے نه به دے صوبے ته هم خطره وی او د هغے نه به دے ملک ته هم خطره وی۔ جناب سپیکر! شکریه۔

جناب فرید خان طوفان، جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیره شکریه ادا کومه چه تاسو په دے تحریک التواء چه کومه پیش شوے ده، باندے ما ته اجازت۔۔۔

جناب سپیکر، یو عرض به کومه ------

جناب فرید خان طوفان، زه Repetition نه کومه۔

جناب سپیکر، نه، Repetition به نه کوئ او بیا به ډیبیټ د پاره خبره هم نه کوئ ولے چه ډیبیټ خو آن دے، هغے کښ خپل ټائم دے۔ ما چه دا کتاب هم دے مارے کتلو نو هغه ټائم پوره دے، ښه جی۔

جناب فرید خان طوفان، بالکل جی، جناب سپیکر صاحب، ستاسو د مهربانئ شکریه۔ دا ډیره اهمه تحریک التواء پیش شوے ده۔ زه جی په دے باندے ډیر مختصر خبره کول غواړم۔ بنیادی طور سره دا "ملګری استاذان" په ټوله صوبه کښ Suspend شوی دی۔ دا چه Suspension دے، دے ته به زه وروستو راشمه، اول به دا خبره اوکړمه چه دا ساتذه کرام چه دی، په ټوله صوبه کښ د دوئ د خپل تنظیم د پاره الیکشن کیږی۔ "آل ټیچرز ایسوسی ایشن" په سرکاری طور سره د ټولے صوبے د استاذانو یو سرکاری تنظیم دے چه د کوم د رجسټریشن خبرے کیږی۔ الیکشن شوے دے په دے صوبه کښ او د هغه الیکشن د پاره د استاذانو په ټولو سکولونو کښ پولنګ سټیشنے جوړے شوی دی او هلته ووټونه شوی دی او په هغے کښ "میاں ایوب ګروپ" بیللے دے او "خان فراز ګروپ" ګټلے دے۔ جناب سپیکر صاحب! د استاذانو د خپل طرف نه په الیکشن باندے منتخب تنظیم چه کوم دے، هغه "خان فراز ګروپ" دے۔ اوس د "خان فراز ګروپ" نه علاوه چه څنګه Repetition مے تاسو ته ونیلی دی، دے نورو ملګرو ذکر اوکړو، مختلف تنظیمونه دی، دے نورو تنظیمونو چه بیا خانونه چا رجسټرډ کړی دی، چا نه دی رجسټرډ کړی، د دے جواب به دا چه راځی چه کله ملګرو استاذانو خان چه رجسټرډ کړے وے نو مونږ به د دوئ دا کسان نه وو Suspend کړی۔

ناب سپیکر صاحب، دلته پی ډی اے یو د ډاکټرانو تنظیم دے، هغه رجسټرډ ے خو هغه رجسټرډ تنظیم چه دے، حکومت هغه ختم کړو۔ زما بحیثیت د وامی نیشنل پارټۍ ممبر د حکومت د دے خبرے سره هیڅ کار نشته چه غوی رجسټریشن ختموی یا په تنظیم باندے پابندی لګوی، هغوی به دا یصله کوی او د تنظیمونو جوړونکی خلق به د هغے د بحالۍ د پاره کوشش وی۔ جناب سپیکر صاحب! زه دلته کښې یوه خبره کول غواړمه چه دا ټول ے چه راتاویږی، دا زمونږ د دے صوبے د چیف منسټر صاحب خیالات دی و د هغه خیالات به نیک وی، ښه به وی، زه دا ډیره ضروری خبره ځکه کول غواړمه چه زمونږ د چیف منسټر صاحب په مغزو کښې دا خبره ده او دا حقیقت دے چه په مثبت طریقے سره ده، زه دلته کښې نن د سیاست خبره نه کومه، زه د سردار مهتاب عباسی صاحب دا خیالات چه کوم دی، دے سره یو حد پورے متفق یمه چه هغه وائی چه په دے ټولو تنظیمونو په دے ټولو ادارو کښې، په تعلیم کښې، په صحت کښې، په داسے ادارو کښې چه د هغه د عوامو سره تعلق دے، په هغے کښې د دے تنظیمونه په وجه خرابی پیدا شوے ده، خو دا سوچ چه کوم دے، دا قومی سوچ دے، دا مثبت سوچ دے خو دے کښې بیا تفریق کول، منفی سوچ دے۔ جناب سپیکر صاحب! زه دا خبره دلته نن ځکه کول غواړمه چه ډیره د خوش قسمتۍ خبره ده چه زمونږ چیف منسټر صاحب د ډیر وخت نه پس راغلے دے او یو موقعه خدائے پاک راکړه چه د "ملګرو استاذانو" دا اهمه مسئله مونږ د هغوی په مخکښې پیش کړو او انصاف ملاؤ شی۔ څنګه انصاف ملاؤ شی؟ جناب سپیکر صاحب! تاسو ته زه دا خبره کومه چه زما په لاس کښې دا دوه کاغذونه دی۔ هغه ګروپ چه الیکشن ئے بیللے دے، "میاں ایوب ګروپ"، دا جی زما په لاس کښې دا تصویر دے، د مسلم لیګ مرکزی سیکرټری اطلاعات او د مسلم لیګ د دے حکومت د انفارمیشن منسټر روان دے یو تقریب ته او مشاهد حسین صاحب او میاں ایوب صاحب د صحافیانو یو تقریب ته روان دی په شریکه باندے یو سیاسی فنکشن کښې۔ زه پوښتنه کوم دے وزیر تعلیم صاحب نه چه دا میاں ایوب چا Suspend کړو؟ ځکه چه دے هم د یو سیاسی جماعت تقریب ته روان دے په دے تصویر کښې۔

زما عرض دا دے جناب سپیکر صاحب، چه که دا تنظیمونه ټول غیر آئینی وو او دا تنظیمونه د دے ادارے د پاره، د دے طبقے د پاره او د دے تعلیمی سسټم د پاره نقصان ده دی نو خو یو آرډیننس به نے کړے وے، یو حکم به نے جاری کړے وے چه دا څومره عهدے داران په نورو ټولو تنظیمونو کښې دی د استاذانو لکه څنګه چه میاں صاحب اوشمیرل او هغه به دوئ Suspend کړی وے۔ جناب سپیکر صاحب، پرون په پېښور یونیورسټئ کښې الیکشن شوے دے په سرکاری طور سره، د وائس چانسلر په نګرانئ کښې او هلته د جماعت اسلامی Versus ټولو جماعتونو په مقابله کښې الیکشن شوے دے پرون۔ هغه بله ورځ په ایګریکلچرل یونیورسټئ کښې شوے دے۔ جناب سپیکر صاحب! وزیر اعلیٰ صاحب دلته ناست دے او د استاذانو ملګرو د قسمت زه خبره کوم چه را اوچت شوے دے، چه دے راغلے دے چه دا فیصله په حق باندے خکه اوشی چه زما دا یقین دے چه د دوئ په مغزو کښې کومه خبره ده چه د دے د پاره دا ناسور ګڼړی نو دا یوازے "ملګری استاذان" خو نه دی چه د "ملګرو استاذانو" خلاف ته قدم اوچتوے او د "ملګرو استاذانو" د نظرئیے برخلاف بله نظریه په دے صوبے کښې سرګرم عمل ده، د هغے خلاف نه اوچتوے، نو دا کوم انصاف دے؟ دا به کوم شریعت وی؟ دا به کوم اسلام وی؟ دا به کوم مذهب وی؟ زه خکه مختصر کوم چه تاسو ما ته حکم اوکړو۔ زه تاسو ته یو بل مثال درکوم، زمونږ نوجوان وزیر تعلیم صاحب دے، چه د سردار صاحب طریقه کومه ده، هغه Polite ده، د سردار صاحب طریقه په سړی باندے اثر انداز کیږی او دے یو داسے تاثر ورکوی چه زه حق پرست یمه۔ جناب سپیکر صاحب، په "ملګرو استاذانو" باندے خو نے پابندی لګولے ده، Suspend کړی دی او دا د "خان فراز ګروپ" چه د استاذانو Elected تنظیم دے، هغه نه، دا "میاں ایوب ګروپ" چه کوم دے، دا ناست دے او دا وزیر صاحب چه کوم دے، هغوی ته وانی چه ته راشه او ما ته ته د استاذانو مسئلے تیرے کړه۔ دلته کښې زما په لاس کښې دے *"سول سیکرٹریٹ میں سرحد کے اساتذہ کے صدر میاں محمد ایوب کاکا خیل وزیر تعلیم اسفند یار امیر زیب کو مسائل سے آگاہ کر رہے ہیں"*، چه دوئ ته د دوئ ګروپ ورشی دفتر له اوس که ما له دا "ملګری استاذان" راشی نو زه نے خکل کړمه او

چه ما له "میاں ایوب گروپ" راشی نو زه ئے جیل ته واچومه نو دا به انصاف وی؟ دا به اسلام وی؟ زه وزیر اعلیٰ صاحب ته مودبانه گزارش کومه چه مونږه ته په دے خانے کښې انصاف راکړه- زمونږ د "ملگرو استاذانو" سره هغه عمل اوکړه چه کوم ته د خپل دے تنظیمونو سره کوے- که ته په دے بد گنړے په دے تعلیمی ادارو کښې نو د جرأت مظاهره اوکړه، د پارټئ نه بالا تر شه او دا نور ټول دا تنظیمونه ختم کړه- خو نه جناب سپیکر، یوازے د "ملگرو استاذانو" خلاف انتقامی کارروانی چه کوم ده، مونږه دا وایو چه دا بلا جواز ده او د دے د پاره زه راپاڅیدلے ووم ځکه چه په دے باندے نور ډیرے سیاسی خبرے چه کومے دی، هغه به مونږه بهر کوؤ او د دے سره مقابله په دے کښې خپل ژوند تیروول د ا زمونږ په خپل خان باندے منحصره ده- ما صرف دومره خبره کوله چه نن به پته لگی د دے خبرے چه په دے خانے کښې په دے اسمبلئ کښې د انصاف د پاره خلق آواز اوچتوی او که د بے انصافئ ملگرتیا کوی؟ ډیره مهربانی-

<u>جناب سپیکر</u>، جی، عبدالسبحان خان-
